

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کر

( نــاول )

سلطان باش خېل افريدے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــــــر

ټــول حقــوق مــحفــوظ دي

د کـتـاب نــوم
کــر
صنف
نــا ول
لــيـکـو ال
سلطـان بــاش خېل افــريـدے
ا هـتـمـا م
نــثـا ر ﷴ خــا ن
کـمـپـو زنـګ
ا رشـا د خــا ن ( پــښـتـو اکـېډيـمـي )
ا شـا عت
۲۰۱۳
شـمېر
۵۰۰
بــيـعـه
۲۰۰ روپــۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

رابـطه

**03339090161**

**00971557747917**

د مـونـدلـو درکـونـه

- یـونـیـورسټـي بُـک ایـجـنسي خېـبـربـازارپـېښور، پـښـتـونـخواه
- پـښـتو اکېډیـمي بُـک شاپ پـېښور یـونـیـورسټـي
- پـاک امـارات پـښـتو ادبـي ټـولـنه ، مـتحده عرب امـارات

# تــړون

د

الله

پـه نــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پــه نــاول ,, کــر ،، څــو خــبرې

دلــتــه مــاتــه پــه دې تــحــقــیــقــي بــحــث کــښې پــرېــوتــل نــهٔ دي پــکــار چــې د پــښــتــو د نــاول ابــتــدا چــا او کــلــه کــړې ده ؟

مــیــاں حسیب ګــل کــاکــاخــېــل د ډپــټــي نــذیــر احــمــد د ,, مــراة الــعــروس،، پــښــتــو کــښې د ,, نــقــش نــګــیــن،، پــه نــوم د تــرجــمې نــه ابــتــدا کــړې ده کــه د ډپــټــي نــذیــر احــمــد د یــو بــل نــاول ,, تــوبــة الــنــصــوح،، نــه مــیــاں مُحَمَّد یــوســف کــاکــاخــېــل پــه هــم دغــه نــوم تــرجــمې نــه کــړې ده او کــه د پــښــتــو وړمــبــنــي افــســانــه نــګــار ســیــد راحــت زاخــېــلــي تــه د پــښــتــو وړومــبــنــي طــبــعــزاد نــاول لــیــکــلــو اعــزاز هــم حــاصــل شــوے دے ــ زهٔ پــه دې بــحــث کــښې هــم نــهٔ پــرېــوځــم چــې پــښــتــو تــه نــاول د کــوم لــوري او د کــومې ژبــې نــه راغــلــے دے ــ

دغــه بــحــث تــحــقــیــق غــواړي او تــحــقــیــق د مــحــقــقــانــو ، څــېړنــکــارو کــار وي ــ الــبــتــه دغــه خــبــره کــول بــه مــنــاســب وي کــه اوو ایــو چــې افــریــدي قــبــیــلــه کــښې شــاعــران ، ادیــبــان او نــور نــثــر نــګــاران کــه د پــښــتــو د نــورو قــبــیــلــو او خــېــلــونــو نــه پــه شــمېــر کــښې زیــات نــهٔ وي نــو کــم تــرې نــه هــم نــهٔ دي ــ د قــاســم عــلــي خــان افــریــدي نــه ئــې راواخــلــه تــر ســلــطــان بــاش خــېــل افــریــدي پــورې پــه تــعــداد او پــه مــعــیــار د هــر یــو مــعــیــاري لــیــکــونــکــي ســره اوړه پــه اوړه بــرابــر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

خو تــر څو پــورې چې د نــاول لــیکلو خبــره ده نــو بــاک ئــې نــۀ ګــڼم کــه اووایــم چې دلــتـه د نــاول د صنف بــرخـه ډېــره کـمـه ده بــلـکې د ګــوتــو د شمېــر نــه هم کـمـه او ډېــره کـمـه ــ

خدائــے خبــر دې لــور تــه افــریــدي لــیکوالــو پــام ولــې نــۀ دے ګــرځولــے ــ تــر څو چې زمــا خیــال دے نــو د افــریــدو ورړومــبــنــے نــاول مــرحــوم ســاغر افــریــدي د ,, نــوي کــهــول ،، پــه نــامــه لــیکلــے دے ــ دوېــم نــاول طاهــر افــریــدي ( راقــم ) د ,, کــاڼــو کــښې رګــونــه ،، پــه نــوم لــیکلــے او اوس دا دے سلطان بــاش خېل د ,, کــر ،، پــه نــامــه نــاول اولــیکلــو او دغه شان ئــې د نــاول لــمــن کــښې د خپــلــې بــرخــې شمېــر زیــات کــړو ــ د اردو ژبــې نــاول نــګــار مــنشي پــریــم چــنــد یــو ځــائــے لــیکي :-

,, یــو نــاول نــګــار تــه پــکــار دي چې هغه یــو نــوټ بُــک ځــان ســره اوســاتــي ،،

د مــنشي پــریــم چــنــد ددې خبــرې نــه دا مــطلب واضحه کــیږي چې چــونــکې نــاول یــوه اوږده طویــلــه قــیصه لــري او هغه قــیصه کــښې د وخت ســره ســره ځــائــې پــه ځــائــې ډېــر شونــي او نــاشونــي واقــعــات مخې تــه راځي نــو مــمــکــنــه ده چې د نــاول لــیکونــکي نــه هغه شونــي نــاشونــي واقــعــات هېر یــا تــېر و بــېر شي ــ

زۀ نــۀ پــوهېږم چې د ,, کــر ،، نــاول نــګــار ښاغلي سلطان بــاش خېل بــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

ددغه ناول لیکلو موده کښې ځان سره
نوب بُک یا ډائري ایښې وي او که نه ـ
خو تر څو چې د مسؤدې د لوستو نه پس
زما خیال دے نو به اووایم چې ښاغلي
باش خېل نوټ بُک یا ډائري ځان سره
بیخي نۀ ده ایښې ځکه چې د مسؤدې د
لوستو نه ښکاره کیږي چې ښاغلي باش
خېل د ناول د لیکلو اراده په جذباتي
انداز هېڅکله نۀ ده کړې ـ که څۀ هم د
ناول قیصې ځنې ځائې فلمي رنګ خپل کړے
دے خو دا څۀ د عېب خبره ځکه نۀ ده چې
د ناول کینوس ډېر ارت وي او هغۀ کښې
هر رنګ تصویر ځائیدلے شي ـ

زما مطلب دا دے چې ښاغلي باش
خېل دغه ناول ښۀ په سړه سینه او په
حاضر ذهن لیکلے دے او هغه د نیک او
بد کردارونو نه هېڅ متاثر شوے نۀ دے
ـ د ناول ټول کردارونه سلطان په خپل
ګرفت کښې ساتلي دي ـ او خپلې خود سرئ
ته ئې نۀ دي پریښي او هم دغه د یو ښۀ
لیکوال خوبي ګڼلے کیږي چې هغه د قیصې
د کردارونو نه متاثره نۀ شي بلکې هغه
څۀ خپلو لوستونکو ته د قلم په ژبه
اووائي او اوښائي څۀ چې د هغۀ مقصد
وي ـ

,, کر ،، ډېر په لا محدود سوچ او
وسیع نظر سره لیکلے شوے دے ـ دلته
ددې خبرې ښکارۀنه هم مناسب ګڼم چې
ښاغلي سلطان باش خېل ددې ناول په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوران کښې خپله نظريه او خپله مدعا او فلسفه هم ښکاره کړې ده ـ

,, ودود صېب ،، دترقي پسندنظريې يو علامتي کردار دے چې د پرمختگ ، د رسم رواج خلاف او د علم رڼا د خورولو قائل دے ـ هغه ژوند پرست دے او د خپل اعتقاد په لاره د راستۍ او اعتدال پېغام ورکوي ـ د اردو ژبې افسانه نگار منشا ياد يو ځائې ليکي :-

,, کوم يو هم تحرير ، خصوصاً د ناول بنيادي خوبي دا پکار ده چې هغه لوستونکے په خپل گرفت کښې واخلي او پخپله په لوستونکي ، ځان کښې د لوستو صلاحيت اولري ،،

او په دې حواله به زۀ اووايم چې د سلطان باش خېل افريدي په ناول کښې دومره خوبي ضرور شته چې خپل لوستونکے په خپل سحر کښې راگېر کړي او تر هغې ئې کلک نيولے وي چې تر څو ئې ناول اختتام ته نۀ ي رسولے ـ

که څۀ هم دې ناول کښې سلطان ځينې ځائې کښې د ډېر اختصار نه کار اخستے لکه د ودود صېب د اولني ژوند حالات ، بيا د سکينې وادۀ په ډېره لنډه خلاص کړے شوے دے ـ په فريد مقدمه ، گواهان وړاندې کول او بيا سزا او سزا کښې د نيک چلنۍ په سبب معافي او نور داسې حالات او واقعات دي چې ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لکه لیکوال دې دوران کښې سټرتیا محسوس کړې وي او یا دا هم کېدے شي چې سلطان باش خېل لکه د نورو معیاري لیکوالو ځینې واقعات د خپلو لوستونکو محسوساتو ته په دې اعتماد پریښیوي چې د هغۀ لوستونکي به نوره قیصه پخپله سرته اورسوي ـ

بهر حال ددې هر څۀ باوجود دغه ناول په دې تول پوره دے چې ,, کر ،، یو معیاري ناول دے او سلطان باش خېل افریدي د یوښۀ شاعر سره د ښو معیاري ناول نګارانو په صف کښې ځان ځائې کړو ـ

زۀ په دې خبره کښې هېڅ باک نۀ ګنړم که اووایم چې د سلطان باش خېل ناول ,, کر ،، د پښتو د ډېرو معیاري ناولونو مینځ کښې د کېښودلو جوګه دے ـ

زۀ ددې خبرې نه هم انکاري نۀ یم چې دې ناول کښې ځینې ځائې کښې نیمګړتیاوې محسوسېږي خو ددې سره هم ,, کر ،، دغه خصوصیت لري چې خپل لوستونکے پخپل ګرفت کښې اونیسي او دې ته ئې اولمسوي چې هغه دې خامخا او زر نه زر تر اختتام اورسوي او هم دا د یو ښۀ لیکوال غټه کامیابي ګڼلے کیږي ـ

زۀ خوشحال یم چې ما د پښتو یو ښۀ ناول اولوستو او زۀ په دې هم ویاړم چې زما د افریدو قبیله کښې، موده پس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

سهي ولې يو معياري شاعرۍ سره ،
معياري نثر ليكونكے دې مېدان ته را
اووتو ــ په قلم ئې بركت شه ــ
طاهر افريدي
كراچۍ
۳۱ اكتوبر
۲۰۱۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رنـــا کـــر

،، کـر ،، یـو اصلاحي نـاول دے ــ د نـوي دور د مـعـاشرتـي بـدلـون د تـحريـک پـه پـس مـنظر کښې د پـښتـنـو د اصلاح پـه غرض لـیـکلـے شوے ښکاري او پـه دې لـحاظ یـو مقصدیـت لـري دا ښـاغلـے مقصد اکـثر د ادب پـه ذریـعـه تـر لاسه کـیـږي ــ د اولس د پـوهې او شعور بـېـدارولـو دپـاره مؤثـره ذریـعـه هم د ادب ده ــ سلطان بـاش خېل افـریـدے د یـو ویـښ ذهن څښتـن بـاشعوره شاعر و ادیـب دے ــ هغـه د خپـلې ټـولـنې یـو فـعـال غـړے دے ــ د پـښتـو پـه رسمونـو او د پـښتـونـولـۍ پـه اقـدارو ښـهٔ خـبـر دے ــ یـو بـالـغ فـکـر لـري چې څومـره ښـهٔ شاعردے هومـره ښـهٔ نـثـرنـګـار هم دے ــ

،، کـر ،، ئې وړومـبـے نـاول دے او پـوره کـوشش ئـې کـړے دے چې د نـاول د لـیـکلـو ټـول لـوازمـات پـه کـار راولـي خو د نـاول د لـیـکلـو څهٔ ټـاکلـې قـاعدې او مـعـیـارونـه داسې نـهٔ وي چې د هغـو پـه پـېـمـانـه ئـې فـنـي نـاپ تـول اوکـړے شي ــ نـاولـونـه تـاریـخي هم وي ، رومـانـي هم او اصلاحي هم ــ ولـې کـه د نـاول پـه فن خبـره کـیـږي نـو بـیـا هم ــ ــ ــ ،، نـاول ،، پـه ساده ژبـه کښې یـوه قـیـصه بـیـانـول وي ــ داسې قـیـصه چې د انـسانـي ټـولـنې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

بـنـیـادم د ژونـد د روزمـره واقـعـاتـو او
لانـجـو مـعـامـلـو تـه د بـیـان داسې انـداز
خـوښ کـړے شـي چې د لـوسـتـونـکـي دلـچـسـپـي
پـکـښې پـېـدا شـي څـرګـنـده ده چې دا یـو
سـاده بـاده بـیـان نـهٔ وي ـ یـو قـیـصې یـا
قـیـصـئ تـه یـو پـلاټ جـوړ کـړے شـي ـ د
کـردارونـو انـتـخـاب چې کـردار نـګـاري ورتـه
وئـیـلـے شـي ـ مـنـظـر نـګـاري او د مـکـالـمـه
نـګـارئ هـنـر غـواړي ـ
د ،، کـر ،، بـنـیـادي مـوضـوع د رڼـا
او د تـیـارې د ازلـي جـنـګ او کـشـمـکـش قـیـصـه
ده ـ د رڼـا نـه مـراد د عـلـم رڼـا ده او
تـیـارهٔ د جـهـالـت تـیـارهٔ ده ـ خـېـر او شـر
د ازلـه سـره پـه جـنـګ دي او دا خـېـر او
شـر هـم د بـنـیـادم د ذات پـه وسـلـه ،،
اسـلـحـه ،، سـره پـه خـپـلـو کـښې جـنـګـېـږي ـ
سـلـطـان افـریـدي د پـښـتـانـهٔ د مـعـاشـرې
د پـښـتـونـولـئ د قـدرونـو د زوال لـه تـاثـره
د جـهـالـت او غـفـلـت د خـورو تـیـارو پـه شـپـه
کـښې د سـحـر د زیـري ورکـولـو او د رڼـا
دخـوب تـعـبـیـر د رښـتـیـا کـولـو پـه غـرض خـپـل
تـخـلـیـقـي صلاحـیـت پـه دې نـاول کـښې څـرګـنـد
کـړے دے ـ
سـلـطـان خـپـل یـو ،، نـظـم ،، د مـیـنـې
سـنـدره کـړے دے او د مـیـنـې ددغـه سـنـدرې
نـه ئې د نـاول د قـیـصې تـانـه بـانـه یـا
تـار و پـود سـاز کـړے دے ـ د تـعـلـیـم
ضـرورت او پـه بـدلـیـدونـکـیـو حـالاتـو کـښې د
امـن لـه ضـرورتـه راپـېـدا شـوي احـسـاس تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئـې د قـیـصې رنـګ ورکـړے دے ــ چې تــر ډېـره حده کـامـیـاب ښکـاري ــ
سلـطـان چې پـه دې نــاول کـښې کـومـه قـیـصه راخستې ده کـۀ هـر څـو هـغـه د ټـولـې پـښـتـونـخـوا د ټـولـنـیـز ژونـد احـاطه خـو نـۀ کـوي پـه یـوۀ خـاص فـیـوډلـي مـعـاشره کـښې داسې کـیـږي او نـۀ د ټـول پـښـتـانـۀ نـفسـیـات پـه دغـه شـان دي کـوم چې پـه کـرداورنـو کـښې ښکـاري ولـې بـیـا هـم د بـدمـعـاشۍ پـه دې مـاحـول کـښې اکـثـر داسې کـیـږي ــ د ودود صېب او د سرور خـان او دلاور خـان کـرداورنـه هـر چـرتـه وي ــ یـو د خـېر او د رڼـا عـلامـت او بـل د شر او جـهـالـت ــ
داسې د نــاول مـنـظـر نـګـاري هـم ښۀ ده ــ مـکـالـمـه ئـې زورداره ده ولـې ځـیـنـې ځـایـونـو کـښې غـېر ضروري طـوالـت یـو واعـظـانـه رنـګ اخـتـیـار کـړے او څـۀ ژور فـلـسفـیـانـه انـداز د سکـول د مـاشومـانـو د فـکـر د رسایۍ نـه لـرې ښکـاري خـو ژبـه ئـې روانـه او پـسـتـه ده نـو ډېـر ثـقـالـت نـۀ مـحسوسېږي ــ
د ,, کـر ،، کـردار نـګـاري د تـنـقـیـد پـه زد کـښې راتـلـے شي پـکـار ده چې د نـومـونـو سره سره پـکـښې د کـردار کـړو وړو تـه تـوجـه ورکـړے شوے وے ــ جـامـه پـېـزار بـه دومـره ضروري نـۀ وي خـو د یـو مـخـصوص کـلـچـر د کـردار وجـودي کـړۀ وړۀ بـیـانـول اهـمـیـت لـري ــ داسې پـه پـلاټ هـم خـواري پـکـار ده او سلـطـان دغـه خـواري ښۀ کـړې ده ــ پـلاټ ئـې ډېـر خـوریـدو تـه نـۀ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــرېــښــې ، راکــښلـي او تــړلـي پـلاټ کـښې ئـې
دا ټـول کـردارونــه ځـائـې کـړي دي چـې د
سلـطـان د نــاول نـګـارۍ قـدرت ښکـاره کـوي ـ
پــه مـنظر نـګــارۍ ئـې ډېـره تـوجه شـايـد پـه
دې نــۀ ده ورکـړې چـې د پـښتـونـخوا
جغرافـيـائـي رنـګ او د کـلـيـو ابــادۍ هم يـو
شـان وي داسې جزيـات بـيـانـول کـۀ هر څـو
افــاديـت لـري ولــې د زورداري قــيـصې اصل
غـايـت کـلائـمکس او انــجـام پــه نـظر کـښې
سـاتـل پـکـار وي ـ د ,, کـر ،، د قــيـصې د
پـلاټ پـه ځـيـنـو بــرخـو کـې د اپــنـټـي کـلائـمکس
حـالـت پــه نــظر راځـي خـو ډېـر پــه دې نــه
مـحسوسېږي چـې انـجـام تـه ئـې يـو تـجسس
پــېدا کـړے شي ـ
د نــاول پــه ذريـعـه د اولــسي شعـور
بـېدارولـو کـښې سلـطـان کـامـيـاب ښکـاري ـ د
قـلـم او د ټـوپـک مقـابـلـه ئـې پـه زورور
انــداز کـړې ده ـ يـقـيـنـي وه چـې ګـټـه بـه
اخـر هـم د قـلـم وي ـ د امـن ضرورت د
ټـولـې دنـيـا دے او نـن سبـا خـو يـو عـالـمـي
تـحريـک هم ښکـاري ـ کـه سيـاست پـکښې نـۀ
وي نــو بـيـاخـو ښۀ تـحريـک دے او لــه هـر چـا
زيــات د امـن ضرورت پــښتـانـۀ تـۀ دے ـ ځـکـه
چـې د عـالـمـي سيـاست د بـل کـړي اور پـه
لـمبـو پـښتـونـخوا سوځـي او د سلـطـان
افـريـدي پـه وړانـدې ددې سبب د پـښتـنـو
جهـالـت او غفـلـت دے ـ کـه چرې پـښتـون د
ټـوپـک پـه ځـائـې قـلـم پـه لاس کـښې واخـلـي نـو
شـايـد چـې ټـولـنـه کـښې امـن راشي او تـرقـي
او پـرمـختـګ پـه امـن کـښې کـېږي ـ ورورولـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اتفـاق د پـښتـانـۀ ضرورت دے او پـه
,,کر،، کښې دې ضرورتـونـو تـه اشارې شوي
دي ـ
پـه مـجمـوعي ډول ,, کـر ،، یـو ښۀ
اصلاحي نـاول دے ـ کـامـیـاب کـوشش دے ـ د
نـن دور پـه دوه درې نـاول نـګـارانـو کښې
د سلطـان بـاش خېل د نـاول نـګـار پـه حېث
اضافـه د پـښتـو د تـخـلیـقـي ادب دپـاره یـو
زیـرے دے ـ نـاول پـه پـښتـو کښې ډیـر کم
لـیـکـلے کـیـږي ـ دا د جدیـد دور یـو اهم
نـثري صنف دے چې د اولـسي پـوهې ، تـفـریـح
او د زدکړې مـؤثـره ذریـعـه ده ـ
سلطـان بـاش خېل افـریـدے د ستـائـیـلـو
وړ دے چې د نـاول لـیـکـلـو او د نـاول پـه
ذریـعـه د پـښتـانـۀ د ټـولـنـې د اصلاح اعلٰی
مـقـصد ئـې تـر سره کـړے دے ـ دا یـو
کـامـیـاب اغـاز دے ـ زۀ مـبـارکـي ورکـوم او
هم ئـې مـنـنـه کـوم چې مـاتـه ئـې پـه دې
ښکـلـي نـاول د څـو کـرښو لـیـکـلـو دپـاره
اووې ـ

ډاکـټـر راج ولـي شاه
خـټک
حیـات ابـاد پـېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي

نه مې هوش پاتې دے او نه
راسره خیال پاتې دے
بس خو یو نقش مې د مات زړۀ په
دیوال پاتې دے
د قدرتونو نه دې ځار شم سل
جوابه اوشو
خو هر نظر کښې د اولې ورځې
سوال پاتې دے

د ژوند د لا متناهي رنګونو ډېرې شرحې ، ډېر تفسیرونه اوشو ـ ـ ـ ـ بیا چې دې لېونی تنوع ته سړے ګوري نو واقعي ورباندې سر اوګرځي ـ
هو ! دا هم ده چې په دې مقام ډېر انحصار د تماش بین یا لوستونکي د نظر په رسایی او ارتکاز هم دے ـ چې د خپل ایقان تر څنګه د کوم رنګ په کومه شرحه او توضیح تر کومه حده رسي ـ او د کوم دلیل د غرۀ په دامان کښې د خپل شعور، خپل وجدان د کاروان خیمې لګوي ، پړاؤ اچوي ـ او دلته ئې د اطمینان ریښتونے تناسب څومره وي ـ خو که دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

ازل پـیـچیـده شخړه پـه هم دې ځـائـې
پـرېـږدو او تـسلیـم کړو چې وړانـدې :

د کـاروان ګـرد او غـبـار
کښې پـټـه درده
هره لاره نـارسا ده ځکه
خـانـدم

یـا یـو قـدم بـل واخـلـو لـږ نـور مـخکښې لاړ
شو ـ د حېـرت لـه بـامـه !

د حېرت پـه غونـډۍ نـاست یـمـه پـه
هېڅ هم نـۀ پـوهېـږم
دا واعظ ولـې پـه مـا خـپـل دلـیـلـونـه
خـېژوي

زۀ د هغه سرچـیـنـې لـټـون کښې مست
او خـراب ګـرځـم
دا پـه مخه پـه رنـګونـو چې رنـګونـه
خـېژوي

خـو غم دا دے چې د حېرت پـه دې غونـډۍ
کښېـنـاستـو تـه دې هم دنـیـا کـلـه پـرېـږدي ـ
ـ ـ ـ ـ رنـګونـه دي کـنـه !
دلـتـه د ژونـد هغه بـیـخي مـخامـخ (
حقـیـقـتـونـه بـه ورتـه اوواېـو ) ولاړ وي ـ
کـوم چې د تـیـارې او رڼـا حـدبـنـدي کـوي ـ
کـوم چې کـرښـه راکـاږي ـ کـوم چې د لارې د
تـعین فـیصلـه کـوي ـ کـوم چې ټـولـه قـیـصه
پـه دوؤ بـرخـو کـښې ویـشي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـينـه ، كـركـه ، نـكـهت ، تـعفـن ، سپـيـن ، تــور ، ورځ ، شپـه ، ښـۀ، بـد ، رحم ، ظلم ، نُــور ، ظـلـمت ـــ د علامـاتــو د ا سلسلـه اوږده ده ـــ مـا وې چې د حيـرت نـه بــه ورپـسې مـخكښې نـۀ ځـو خـو بـيـا هم

ظلمتوں کے حوالے
سے بھی
کچھ بتا دو اُجالو ہمیں

بـس ـــ ـــ ـــ نـور جنګ تـه راځـو ـــ د خيـر او شر ازلـي مـعـركې تـه ـــ د مـخـامـخ عمـلـي ژونـد سپـيـن او تـور تـه ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ والله ګـرانـې خبـرې دي ـــ مـنـيـر نـيـازي وائـي :

بدلنا چاہتا ہوں اس زمیں
کو
یہ کارِ آسماں کیسے
کروں میں

ځـكـه ـــ ـــ ـــ چې پـس د هـمـه زړۀ چـاودون ـــ ـــ ـــ هـمـه زړۀ چـاودون ، دنـيـا بـيـا هم جـنـت نـه شي !!! نـو زړۀ خـو مـات شي ـــ خـو هـغـه د تـنـوع خـبـره بـيـارامـخې تـه شي ـــ د اثـبـات دتـسـلسل كـرداروـنـه بـيـا اوازكـا ـــ

شکو ۂ ظلمت شب سے تو
کہیں بہتر تھا
اپنے حصے کی کوئی شمع
جلاتے جاتے

قـيـصه پـخـوانـۍ ده بـس مـنـظرونـه ئـې نـوي دي ـــ اوس دې اتـش نـمـرود تـه ځـوک د خـپـلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

بـرخې د اوبـو څاڅکے اچوي او څوک پـوکے ورکـوي ــ
زۀ سلطـان بـاش خېل افـريـدي تـه د خپـل زړۀ پـه دلـيل مـبـارکي ورکـوم او بـختـور ئـې بـولـم چې لار ئـې خطا نـۀ کـړه ــ او د خپـل زړۀ درد تـر دې مـرامـه راوستـو چې نـن د خېـر د لـلـمو کـر ګـر دے ــ
د سلطـان ,, کـر ،، د قـلـم د تـقـدس او حرمت پـلـوشه دے ــ د رڼـا مـشال پـه لاس د خپـل ريـښتـونـي درد هم رکـاب سلطـان د نُـور پـېـرزوئـنـې ډالـۍ کـوي ــ
پـښتـو کښې مـتـل دے چې ,, سوځـي هغـه ځـائـے چې اور پـرې بـل وي ،، نـو فـطري خبـره ده چې وړومبـے د بـقـاء او تـعـمـيـر احساس لـه ځـانـه اغـاز کـيـږي ــ
سلطـان هم داسې کـړي دي ــ نـن چې د وخت رفـتـار تـېـز شوے دے ــ نـن چې نـا مـوافـق تـغـيـرات د بې رحمۍ حدونـو تـه رسي ــ نـن چې يـو ويـشتـمـه صدي ده او پـښتـون اولـس د سيـالـۍ نـه پـرېـوتـے ،
زپـلـے او د جـهـان پـه ګـړنـګـونـو کـښې پـرېـشانـه پـروت دے ــ د ,,کـر،، لـيـکـوال ورتـه ددې ټـولـو پـرهـرونـو مـرهم د مـيـنـې ، پـيـرزوئـنـې ، بـرداشت ، تـحمل ، انـسانـيـت ، حقـانـيـت ، قـربـانـۍ، استقـامـت ، علم او قـلـم د لازوالـه کـيـمـيـا نـه کـشيد کـوي او دا پـېـغـام ئـې چې لـه ځـانـه اغـاز کـړے نـو بـيـا ئـې تـر ځـانـه مـحدود نـۀ دے ساتـلـے ــ بـلـکـه عـالـمګـيـرې مـعـنـې ئـې وربـخښلـي دي ــ پـه دې مـقـام زۀ ,, کـر ،، تـۀ افـاقـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــاول وئـيـلـو کـښې تــردد نــهٔ مـحسوسوم ــ ــ
ــ چې انــګـازه ئــې خـيـژي ــ
د پــيـرزوئـنـو د ګل پــاڼــې دي بــې
سودې نــهٔ دي
زمــا جذبــې زمــا د ذات پــورې
مـحدودې نــهٔ دي
د مـحبت د لافــانــي جذبــې قــائـل
يـم علـي
زمــا خبـرې پــه نـفـرت بــانــدې
الــودې نــهٔ دي
او دلـتـه ئـې شر تـه شکست ورکـړے دے ــ د
پـښتـو د نــور افـسانــوي ادب بـحث پــه خپـل
ځـائــےولــې د نــاول پــانــه ئــې هـومـره ډکـه نــهٔ
ده څـومـره چې پـکــار وه ــ ددې عـوامـل هـر
چــا تــه مـعـلـوم دي هـم هـغـه ددې ژبــې د لــيـک
لــوست ، قـدردانـئ او د اظـهــار د وسـيـلـو
مـحدوديـت !!!!
خو دا امـر د خوشګـواريـت بــاعث دے چې
مـزل پـه څهٔ نــا څهٔ صورت کـښې جـاري دے ــ
نــاول لــيـکـل بـلا شبـه چې ګـران کـار دے ــ
بـشپـړه مـطـالـعـه ، مـشاهـده ، يـکسوئــي ،
تـخـلـيـقـي استـعـداد ، ريـښتـونــے فـکـري اپــروچ
ددې فـن بـنـيـادي غـوښتـنې دي ــ
سلـطـان بـاش خېـل افـريـدي کـهـنـه مـشق
شاعـراونـثـر نـګـار دے ــ او د نــاول پــه
لــوسـتـو دهـغـه د فـنــي ګـرفـت انــدازه پــه
غـوره تــوګـه کــيـږي ــ
د ,, کـر ،، وړومـبـئ نـيـمـائــي ډېــره
مـؤثـره ده ــ او دومـره فـنــي لـطـافـت لــري
چې سړے دځــان سره بــوځـي ــ ددې جـنـت جـنـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



، درانهٔ اوخوابړهٔ ماحول نه زړهٔ راوتل
نهٔ غواړي محسوسه شي چې
دل سے جو بات نکلتی ہے اثر رکھتی ہے
بیا ورپسې چې ناول د ژوند د ترخو
حقیقتونو سره مخ دے ـ نو هغه وړومبنے
د خوب او خیال جهان چې د مینې او
تعمیر په ګل ګل جذبو کښې رنګ دے ـ د
جبر د کردارونو د تورو عکسونو په
موجودګی تب جن شي ـ
دلته د ناول اسلوب بدل شوے دے ـ د
ډېر محسوساتو ځائے واضح تر واقعاتي
هنګام اخستے دے او په یو موقع خو
لوستونکے اووائي چې دا د کومې دنیا
نه کومې ته راغلم ـ خو چې دا تب جن
تاثر ، دا درانهٔ ، په حواسو خوریږي
لیکوال په هنر ، اختتامي برخې ته
بتدریج هم هغه زړهٔ راښکونکے ورک شوے
جهان راژوندے کړي ـ او د لوستونکي
مینه پرې ماته کړي ـ د شګفتګۍ
فنکارانه ځادر اوغوړوي او د تکمیل یو
احساس شان اوشي ـ
ناول کښې سسپنس موجود دے ـ کردار
نګاري ئې د لوړې پائې ده ـ خصوصاً د
ودود صېب کردار خو بیخي د هیرولو نهٔ
دے ـ لیکوال ناول کښې پېغام ورکړے دے
خو په داسې انداز چې د خپلې نظریې بې
ځایه ابلاغ ئې ترې نه نهٔ دے جوړ کړے
ـ بلکه زړهٔ ورسره په خپله هر څهٔ مني
ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

د نــاول پــه مـیـنـځ کـښې ځۀ واقـعـات داسې
دي چې ذهن ئـې پـه اسانـی سره نـۀ
تـسلـیـموي ـ خـو کـه پـه حقـیـقت پـسنـدی ورتـه
اوګـورو نـو ددې نـه ور سېوا پـېښې هم
زمـونـږ چاپـېرچل کـښې خـورې ورې دي ـ
سلطان لـهجه پـه شعـوري طور داسې
استعـمـال کـړې ده چې د اعـتدال او جدت
احساس ورکـوي ـ نــاول ډېـر ضخیم نـۀ دے
خـو پُـر مـغز ضرور دے ـ
,, کـر ،، د سلطان بـاش خېل افـریـدي لـه
اړخـه پـښتـو ادب ، پـښتـون اولـس او هـمـه
انـسانـیت تـه یـوه درنـه تـحفـه ده ـ چې پـه
یـو وخت د هغـه د پــاڅۀ فـن او فـکـر
مـتـنـاسب کـړۀ وړۀ لـري ـ
او چـرتـه مـې لـوستـي وو چې ، حسن د
تــنـاسب نـوم دے ـ

پـه درنــاوي
علـي افـریـدے
پـي ایـچ ډي
سکـالـر
پـښتـوڅـانـګه پـېښور
یـونـیـورستـي
۳۰ ستمـبـر ۲۰۱۲ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ،، کـر ،،

لـه هر څۀ اول د لـوئـے الله ډېـر شکر ګزار
یم چې مـاتـه ئـې د ،، کـر،، د لـیکلـو
تـوفـیق راکړ ــ
مـا د ډېـرې لـوئـې عرصې نـه ددې
نـاول د لـیکلـو دپـاره ځـان سمولـو
راسمولـو خـو زۀ کلـه هم خپلـو مـختـلفـو
اضطرابـي کېفـیتـونـو او ذهـني انـتشار
ددغه ګران کار سرتـه رسولـو تـه ، چې د
مـکمل ذهـني یـکسویـئ او ارتـکاز مـتقـاضي ؤ
، پـرې نـۀ شودم ــ څـو څـو وارې مـې د
لـیکلـو پـه خـاطر قـلم پـورتـه کړو خـو هر
وار بـه د خپـل انـدرون نـه مـنع کړے شوم
ــ کلـونـه کلـونـه ددې د لـیکلـو دپـاره
هڅېدم ــ خـاکه مـوجـوده وه ، کـرداارونـه
راسره وو، واقـعات راسره لـکه د حقـیقـت
پـراتـۀ وو خـو د ،، کـر ،، د لـیکلـو
خـواهش او ارمـان چې دکـوم درد پـه اساس
ؤ ، مـا خپـل فـکري ربـط د هغې شایـان شان
نـۀ ګنڼلـو ــ شایـد د شعـر د لـیکلـو پـه شان
مـې دلـتـه هم آمـد غـوښتـو او زۀ وئـیلـے شم
چې د نـهو مـیـاشتـو پـه عرصه کښې سر تـه
رسېدلـے ،، کـر ،، مـا پـه یـو داسې کېفـیت
کښې لـیکلـے دے چې زۀ ورتـه عطا وئـیلـے
شم ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کــــــر

زۀ د خپلو یارانو مئینانـــــو
مننه کـــــوم چې خپـــــلې ښــې
پېرزوئنې ئې تر ما را اورسولې ـ
فیروز خان افریدي ، اسلام گل شېرزاد ،
حېدر بنگش ، یوسف خان دیوانه ، عظمت
خان خلیل ، فېض الرحمان ساده ، حسن
افریدے ، انور زېب انور ، احمد سعید
اتل ، خان سعید افریدے ، سید ثروت
فراق شېرازي ، عبدالولي الفت ،
مخملین اورکزے ، اختیار الله اختیار ،
ظفر خان وزیر ، شاعر رحمان شاهد ،
بهرام خان نواب ، انصاف بوري خېل ،
عصمت سوراني ، سید صابر شاه صابر ،
زین ﷴ ،حفیظ خټک ، طاهر زمان بې نوا
، شاه پور افریدے ، فیروز خان صادق ،
اصغر خان مومند ، اعتبار حسېن ، عارف
افریدے ، انجنئیر سهېل افریدے ، واجد
ــــ کے ــــ حسېني ـ
په خاصه توگه د ناصر خان بونیري
، شېرولي خان اورکزي ، پروفېسر علي
افریدي ، پروفېسر امین تنها ، ﷴ اصف
جان ، حضرت بلال خلیل ، غفور خان
مینگل او ابراهیم بیټني مننډوئ یم چې
د خپلې مینې ، اخلاص او ډېرې دلچسپۍ
په بنیاد د هغه وخت نه ، چې ناول د
لیک د عمل نۀ تیریدو ، تر دې دمه چې
د چاپ مرحلو کښې دے ، زما سره مسلسل
په رابطه کښې پاتې شوي دي او په گنټو
گنټو ئې راسره په ,, کر ،، د خیال
تبادله کړې ده ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

د خپلـې پـاک امـارات پـښتـو ادبـي ټـولـنې د غړو او خلـيـجي او نـورو خـارجي هېـوادونـو کښې مېشته هغـو همـه ؤ پـښتـنو لـيکـوالـو مـلگرو چې راسره ئې د احساس د اشتراک پـه بـنيـاد رابـطه ساتـلې او خپلـې پـښتـنې پـېرزوئـنې ئې تـر مـا رارسولـې ، د زړۀ لـه کـومي مـنـنه کـوم ــ

د کمپـوزر ارشاد خـان هم مـنـنه کـوم چې د ,, کـر ،، کـمپـوزنـگ ئې پـه ډېـره مـيـنـه او دلـچسپـی سره اوکـړو ــ

د مـحتـرم طـاهـر افـريـدي ، مـحتـرم ډاکـټـر راج ولـي شاه خـټک او گـران پـروفـېسر علـي افـريـدي مـنـنـه چې پـه نـاول بـانـدې راکـړي نـظرونـه ئې مـاتـه د نـور تـوان بـاعث دي ــ

د ورور نـثـار ﷴ خـان شکـريـه چې د ,, کـر ،، د چاپ طرف تـه ئې گـام زمـا نـه وړانـدې پـورتـه کـړو گـنـي لـه مـا بـه د تـادی کـولـو بـاوجـود تـاخـيـر خـامـخـا کـيـدۀ ــ

پـه درنـاوي<br>
سلـطـان بـاش خېـل<br>
افـريـدے

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, د رڼـا خوب بـه تـعبيـر
تـه رسومـه ،،
زۀ ډيـوه يـم تـورتـمونـه
ختـمومـه

وډُود صېب وئيـلـو وئـيـلـو کـښې غـلـے شو او
خپـل د لـسو کـالـو زوئـے فـريـد تـه ئـې پـه
غور اوکـتـل چې زنـې تـه ئـې لاس ورکـړے ؤ
او د مـيـنـې سـنـدرې تـه غـوږ نـاست ؤ ـ
,, د مـيـنـې سـنـدره ،، دې شعـرونـو تـه دا
نـوم ودود صېب ورکـړے ؤ او هـره شپـه بـه
مـاشوم فـريـد د ودود صېب نـه ,, د مـيـنـې
سنـدره ،، خـامخـا اوريـدلـه او ورسره
ورسره بـه ئـې تـرې بـلا ډيـر تـپـوسونـه هم
کـول او ددې نـه عـلاوه بـه ئـې تـرې هـره
ورځ د يـوې نـوې قـيصې فـرمـائش هم کـولـو
چې ودود صېب بـه خـامخـا پـوره کـولـو ـ نـن
د مـعمـول خلاف فـريـد ډيـر غـلـے ؤ ،
ودود صېب ورتـه يـو څو شيـبې پـه ژور نـظر
اوکـتـل خو څۀ مـعنٰـى ئـې اخذ نـۀ کـړے شوه
ـ پـوئـې نـۀ شو چې نـن د اوريـدو پـه
دوران کـښې د فـريـد څۀ بـل رنـګ خـاموشي
ددۀ انـهـمـاک دے او کـه ذهـنـي غيـر حـاضري
خو بـهـر حـال د هـغـۀ پـه مـعصومـو سـتـرګـو
کـښې مـوجـود ورک ورک شانـې تـاثـر د ودود
صېب پـه زړۀ کـښې سوال نـيـم ضرور
راپـورتـه کـړے ؤ ، ودود صېب بـيـا ګـويـا
شو ـ
,, زۀ کـرمـه پـه قـدم قـدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګــلــونــه
خــورومــه پــه هــر لــوري
نــکــهــتــونــه
زۀ راوړم دلــتــه د مــیــنــې
مــوسمُــونــه ،،
خــپــل وطن تــه مــنــزلُــونــه
مــنــزلُــونــه
د ازغــو نــه هــره لاره
پــاکــومــه
زۀ ډیــوه یــم تــورتــمــونــه
ختــمــونــه

فــریــد تــپــوس اوکړو ,, بــابــا جــانــه ! مــیــنــه څۀ ده ؟ ،،
ودود صیب ورتــه ډیــر پــه مــیــنــه مــسکــے شــو ,, مــیــنــه ژونــد دے ،،
,, او ژونــد څۀ شــے دے ؟ ،، د مــاشــوم فــریــد پــه زړۀ کــښې څۀ خــبــره خــامــخــا وه ـــ د ودود صیب جــهــانــدیــده نــظــر د فــریــد د مــخ تــاثــرات لــوستــل ، ډیــر پــه مــلائــمــت سره ئــې اووې ,, ژونــد مــیــنــه ده ، د بــابــا ځــانــه ! مــیــنــه چې نــۀ وي نــو د ژونــد هیڅ مــعــنٰــی نــۀ پــاتــې کــیــږي لــکــه چې پــه وجــود کــښې ساه نــۀ وي ،،
د فــریــد پــه مخ د تــذبــذب تــاثــر اوس هم ؤ تــپــوس ئــې اوکړو ,, بــابــا جــانــه ! ستــاسو سره زمــا مــیــنــه ده ، دا ژونــد دے ؟ ،،
,, او ،،
,, دا کــافــي ده ؟ ،، فــریــد مــاشــوم شــانــې تــپــوس اوکړو او ودود صیب بــې اخــتــیــاره اوخــنــدل ,, د مــیــنــې بــاب ډیــر لــوئــے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچے!،، د ودود صېب د شفقت نه ډکې لهجې کښې د جهان خوارۀ وو ,, دا د هېڅ يوې رشتې پورې محدوده نۀ ده ، د مينې هزار ـ ـ صد هزار رنګونه دي ، اړخونه دي ، دا آفاقي جذبه ده ، مينه د هر ذي روح سره پکار ده ، د هر څۀ سره پکار ده ،،

فريد د عادت مطابق لږ سوچ اوکړو او بيا ئې اووې ,, خو شفيقے په ما ښۀ نۀ لګي باباجانه ! دا ژوند نۀ دے ؟ ،،

ودود صېب ډېر په مينه مسکے شو ,, د هر رنجش ، هر خفګان او خوښې ناخوښې شاته څۀ عوامل ، څۀ خبرې خامخا وي ،،

,, هغه د وفا سره شر کوي ،،

,, او وفا درباندې ښۀ لګي ؟ ،،

,, هغه زما ملګرې ده ! ،، فريد په مضبوطه لهجه کښې اووې او ودود صېب بې اختياره اوخندل ـ ودود صېب د انساني مزاج او طبيعت په دغه اړخونو او باريکيو پوهېدو خو بيا هم هغۀ ضروري ګنل چې د حکمت دغه خوارۀ زړونو او ذهنونو ته بهر حال رسول پکار دي او هغه به دغه درس ورکولو ، ددغې اسماني جذبې ، ددغې لوئې نظريې وضاحت به ئې کولو ، يوائې فريد ته نه بلکې خپلو ټولو شاګردانو ته د تسلسل سره، کوم چې په سباؤن سکول کښې د ودود صېب سره داخل وو او ودود صېب به په ډېر يقين سره دا خبره کوله چې د سباؤن سکول نه فارغ طالب علم به کرکه او نفرت زړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

کښې نـﺉ لــري ، هغـه بـه خـپـل چـاپـېـرچـل او معـاشرې تـه يـوه نـادره تـحفـه وي ــ ودود صېب خـپـل ژونـد سبـاؤن سکـول تـه وقـف کـړے ؤ ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥

سباؤن سکول د ودود صېب د ډېر خواهش باوجود هم په ريحان آباد کښې ولې جوړ نۀ شو ، دا يوه ځان له قيصه ده ـ ريحان آباد چې څومره لويه علاقه وه هومره پکښې تعليمي پسماندګي ډېره وه ـ ودود صېب غوښتل چې سباؤن سکول دلته قايم کړي ـ ګل کلے هر څو که د ودود صېب آبائي علاقه وه خو چونکې يو خو ډېره وړه وه او بل يو سکول نيم پکښې ؤ هم ، نو د ډېرې آبادئ او د تعليمي سهولتونو د زيات کمي په سبب ئې د سکول جوړولو دپاره ريحان آباد زيات خوښ ؤ ـ دلته د کروندې د پټو په شکل کښې کافي زمکه وه چې د ودود صېب د مور بي بي په نوم وه ـ د ودود صېب مور د خپل مور پلار يکي يوه لُور وه ، د هغوي نور اولاد نۀ ؤ ، هغوي خپل ټول جائيداد د خپلې لُور په نوم کړے ؤ ـ ودود صېب چې ترې اجازت اوغوښتو نو خوشحاله شوه ، خپل بچي ته ئې ډېرې دعاګانې ؤکړې ,, خدائے دې کامياب کړه بچے ! دا خو ډېره ښۀ خبره ده ـ په ريحان آباد کښې به ډېوه بله شي او ددې لوئے نېک کار ثواب به زما مور او پلار ته هم رسي ـ برياليے شې زويه ! ،، د ريحان آباد شپېتۀ في صده علاقه د سرور خان وه ، د زور او تعلقاتو ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا عالم ؤ چې د قامي او صوبائي اسمبلۍ ممبران به ورته سلام ته راتلل ، بلا پوليس افسران ئې تالي څټ وو ـ د ظلم قيصې ئې مشهورې خو وې خو چا به له ويرې ښکاره وئيلے او کولے نۀ شوې ـ د ريحان آباد د خلقو مثال د غلامانو ؤ، د چا چې په دغه علاقه کښې لږه ډېره زمکه وه د هغوي نه ئې جبراً د نشت په بيعه اخستې او په خپله نامه اړولې وه او د چا چې لا پاتې وه نو دا وئيل به زيات مناسب وي چې هغوي ته سرور خان لا اوزګار نۀ ؤ ـ

ودود صېب د خپلو پټو په غاړه ګرځيدو او اندازه ئې کوله چې د سکول د جوړولو دپاره به کوم ځائے زيات مناسب وي، د هغه کچه لارې طرفته او که نه بالکل آخر کښې د پاخۀ سړک سره نيزدې ـ ـ ـ ـ ـ ! ودود صېب په هم دغه سودا کښې بوخت ؤ چې د سرور خان جيپ د کچه لارې نه په تيزۍ سره د پټي طرف ته راتاؤ شو او د ودود صېب سره بالکل نيزدې اودرېدو ـ دوه کسان شاته سيټ کښې سره د ټوپکو ناست وو ـ سرور خان د ډرائيور سره اخوا سيټ کښې ، په اوږه کښې طماچه اچولې ، غزيدلے شان ناست ؤ او ډېر په عجيبه نظر ئې ودود صېب ته کتل ـ

,, خان پخېر رالئ ،، ودود صېب مطمئنه شان مسکا کښې اووې ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ودوده ما اوريدلي دي چې دلته څۀ سکول مُول جوړوې،، د سرور خان په لهجه کښې د تکبر ټول رنګونه شامل وو ــ
,, او خان ــ اراده خو مې ده ،، ودود صېب په قلاره اووې ,,ددې خلقودپاره ، دلته نيزدې ، د سکول ډېر زيات ضرورت دے ،،
,, زما نه دې تپوس نۀ دے کړے ،، هم هغه د غرور نه ډکه لهجه وه ــ
,, د نيکۍ کار دے خان ، ستاسو مرسته خو به خامخا وي ،، ودود صېب د سرور خان په مدعا او ارادو پوهېدو ــ سرور خان څۀ ساعت د ودود صېب طرف ته په بې تاثره سترګو کاتۀ بيا ئې د پټو د سلسلې طرف ته ګوته اوږده کړه ,, ودوده ! دا ټوله علاقه زما ده ، ګېر چاپېره ، خواۀ شا ، لرې نيزدې ـــــــ ستا پټي شته دي خو يو خو تۀ د ګل کلي ئې او بل ستا دغه پټي ګوره ټول زما په زمکه کښې رانتوتلي دي ــ زما دا خيال دے چې ستا نه ئې په بيعه واخلم ، په دې به درسره زۀ څۀ وخت خبره کوم ، تۀ دې دا سکول بل چرته جوړ کړه ،، خبره په ودود صېب انتهائي بده اولګېده خو ځان ئې قابو اوساتلو ــ د هغۀ سره ددې خبرې احساس ؤ چې دا وخت د سرور خان سره خبره ورانول نورې زياتې مسئلې پېدا کولے شي ــ
,, تا ماته جواب رانۀ کړو ،، د سرور خان لهجه سپوره وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, زۀ بـه پـرې سوچ اوکړم ،، ودود صېب پـه تـحمل سره اووې
,, سوچـونـو کښې تـاوان دے ودوده ـ ـ سکولـونـه ، کـتـابـونـه دې بـل خوا يـوسه ،،
سرور خـان اوغرمـبېدو او ډرائـيـور تـه ئـې د تـلـو اشاره اوکړه ـ جيـپ پـه تـيـزۍ سره حرکت اوکړو او څۀ ساعت پس پـه کچه لاره ، د پـاخـۀ سړک پـه لـور پـه ډُوړو کـښې پټ روان ؤ ـ

ودود صېب د صدمې پـه حـالـت کـښې ؤ ـ هغـه تـه انـدازه وه چې د سرور خـان د رضامـنـدۍ نـه بـغېر سکول پـه ريـحـان آبـاد کـښې جـوړيـدل او روانـېدل نـامـمکـنـه خـبـره ده ـ سرکـاري اهـلـکـاران ئـې پـه مـوټـې کـښې وو ، تـر ډېـره بـره بـره پـورې ئـې لاس ؤ ـ قـانـون خـو پـه سرور خـان بـانـدې بـيـخـي پـه تـپـو ؤ ـ ـ ـ ـ خـو سبـاؤن سکـول خـو د ودود صېب خـوب ؤ ، هغـۀ خـپـلـو خـلـقـو تـه څۀ خـوا ږۀ پـېرزو کـول غـوښـتـل ، خـو پـه لاره کـښې داسې خـنـډ پـېدا شـو چې هغـه ئـې د لـوئـې صدمـې سره مـخ کـړو ـ مـور بـې بـې ئـې تـسلـي ورکـړه ,, ولـې بـچـے ! دنـيـا څۀ ورانـه خـو نـۀ ده ـ يـو ريـحـان آبـاد خـو نـۀ دے ـ خـپـل کـلـي کـښې ئـې جـوړ کـړه ـ ګـل کـلـي کـښې ! خـوشـبُـو چـا قـېد کـړه ده، تـۀ پـل خـو پـورتـه کـړه او بـيـا ګـوره چې ددې خـوا ږۀ تـر کـومـه پـورې رسي ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

,, مـوريې خـو ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ،،
,, نـه بـچے ! د حکمت لـمن مۀ پـرېـږده ـــ د مـاتـيدو نـه يـو قـدم پـه شا تـلل ډېـر ښۀ وي ـــ د جـهالـت مقـابـلـه پـه علـم او حکمت پـکار ده ،،
د ودود صېب زړۀ خبـره اومـنـلـه او د ريـحان آبـاد نـه تـقـريـباً پـنځوس شپېتۀ مـيلـه لـرې د هغۀ خـپل کـلي ، ګل کـلـي کښې د سبـاؤن سکـول بـنـيـاد کـيښودے شو ـــ
ودود صېب بـه خدائـے خبـر چې وادۀ کـلـه کـولـو خـو د مـور بـي بـي خـواهش ئـې ؤ چې کـور تـه دې دغه خـوشحـالـي زر نـه زر راشي او دا څۀ ، خـپـلـه ايـنـګـور ئـې هم خـوښه کـړې وه ـــ د ودود صېب د تـپـوس نـه بـغېر ـــــــــــــــــــــ د افـضل لالا لُـور ـــ سکـيـنـه !
دا جيـنـۍ ئـې د مـاشومـتـوب نـه خـوښه وه ـــ ورتـه بـه ئـې اکـثـر وې
,, تـا بـه ودود تـه کـوم ،، او هغې کم ګـو جيـنـۍ بـه زر سر ټـيـټ کـړو او اوس خـو ئـې خبـره هم تـقـريـبـاً پـخه کـړې وه ـــ ودود صېب د مـور بـي بـي پـه خوشحـالـۍ خـوشحال ؤ ، بـل د هغې صحت هم ډېـر روغ نـۀ ؤ او د ودود صېب دې طرف تـه خـاص فـکـر ؤ نـو د انـکـار يـا د نـور تـاخيـر خو سوال نـۀ پـېدا کـېدو ـــ
ودود صېب د ټـول کـلـي د سترګـو تـور ؤ ، وادۀ ئـې پـه سادګـۍ سره کـول غوښتـل خو د کـلـي خـلـقـو خـو داسې مـستـي جـوړه کـړه چې د هغۀ نـه ئـې دوه درې خطا کـړل ـــ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

ډمامې ، دا ګډاګانې، ټاخ ټوخ ګو چې ددۀ د مزاج برخه نۀ وو خو د يارانو دوستانو او د کلي دخلقو د بې کچه مينې وړاندې ئې وسله کيښوه ـ هغه ددې خبرې قائل ؤ چې د مينې په هر حال کښې قدر پکار دے ـ ملګري به چې ورپورې کلک شول نو دے به هم په ګډا ور اووتو ـ دا بيله خبره چې چل به بيخي نۀ ورتلو د ,, داسې ګرم ټنګ ټکور دے په حجره کښې ،، په مصداق ئې ـ ـ ـ په حجره کښې موجود ټولو همزولو او کشرانو ګوته ګرمه ساتلې وه ـ چې هله ګُله به کله ډيره زياته شوه نو ودود صېب به سر اونيولو او اوبه ئې خندل ـ هلته په کور کښې زنانه ؤ د مور بي بي نه کلهم واک اخستے ؤ، جينکو به چې ډولکے وهلو نو ځنې به د مور بي بي نه چاپېرې شوې ،

,, تۀ به هم زمونږ سره ګډيږې ،،

,, هلکو دا زما د ګډاګانو عمر خو نۀ دے ـ ما پريږدئ چې د مېلمنو خيال اوساتم ،،

,, داسې دې چرته پريږدو ، مېلمانۀ هيچر ته نۀ ځي ،،

مور بي بي به چې مجبوره شوه نو هسې به ئې ورسره لاسونه داسې پورته شان کړل خو په دې ئې خلاصے چرته کېدو ـ

,, ښه ځه مونږ ته ودود لالا را اوغواړه ،، يوې جينئ په هوا کښې لاس اوګډولو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

,, ګـوره هغـه حجره کـښې د مـېلـمـنـو سره
دے ،،
,, را اوئـې غـواړه ،، رعـايـت نـۀ مـلاوېـدو
مـور بـې بـې نـور څـۀ کـړي وے ــ يـو مـاشـوم
ئـې چې ورپسې واسـتـولـو نـو ايـلـه ئـې خلاصے
نـصيب شـو ــ ودود صېب چې راغـے نـو جيـنـکـو
هغـه خپـلـه ګـېـړه کـښې واخستـو ــ
,, ودود لالا زمـونـږ مـتـهـائـي کـومـه ده ؟ ،،
,, زمـونـږ تـحـفـه ودود لالا ،،
ډولـکـے غـړيـدو ، شـور ؤ نـو خـبـرې ئـې پـه
زوره زوره کـولـې ــ
,, مـا تـه زمـا د خـويـنـدو هر فـرمـايـش
مـنـظـور دے ،،
,, ښـۀ سوچ اوکـئ ودود لالا ! ،، يـوې
جيـنـۍ پـه شـرارت سره اووې
,, مـا خپـلـه خـبـره اوکـړه ،، ودود صېب
مـسکـا کـښې اووې ,,حکـم کـوئ ،،
,, پـخـه ؟ ،،
,, پـخـه ! ،،
,, مـونـږ تـه بـه ګـډيـږې ودود لالا ــ دلـتـه
، ډولـکـي تـه ،، يـوې بـلـې جيـنـۍ اووې ،
اوس د ودود صېب وار خطا شـو ، دا خـو
ئـې پـه خيـال ګـمـان کـښې هـم نـۀ وه چې
داسې فـرمـائـش بـه تـرې کـيـږي ــ تـهـولـې
جيـنـکـۍ مـسکـۍ کـيـدلـې او د ودود صېب
اطـمـيـنـان زيـر زبـر کـېـدو ــ ــ ــ وار خطا
وار خطا ئـې اووې ،
,, نـه ــ ــ ــ نـه دا خـو څـۀ خـبـره نـۀ
شـوه ــ ــ ــ تـاسـو ــ ــ ــ ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ولـې نـۀ شوه خبـره ،، د ودود صېب خبـره پـرې کـړے شوه ,, ژبـه دې کـړې ده ، انـکـار مـنـکـار دې نـۀ چلـيـږي ،،
په دې سخـتـه مـرحـلـه کـښې د ودود صېب ذهن پـه تـيـزۍ سره کـار کـولـو ، د تـېښـتـې لار ئـې کـتـلـه خـو داسې مـعـمـولـي حصار کـښې خـو نـۀ ؤ راګېر چې دومـره پـه اسانـه ئـې ځـان خلاص کـړے وے، لـچک ضروري ؤ ــ
,, ښـه ځـه ټـيـک ده ، خـو تـاسو يـو اړخ تـه خـو شئ کـنـه ، داسې څـنـګـه ګـډېـدے شم ،،
او هم دلـتـه د جيـنـکـو پـه عقـل واورې اووريـدې ـــ ـــ ـــ ودود صېب تـه چې څنګه لاره د يـو طرف نـه صفـا شوه نـو دوه خپـلـې او دوه پـردۍ ـــ ـــ ـــ دومـره پـه تـيـزۍ سره ئـې د دروازې پـه لـور ټـوپ کـړو چې چا تـه د پـوهېدلـو هډو مـوقـع مـلاؤ نـۀ شوه ــ
ودود صېب پـه ستـنـه خـو نـه شُو کـتـلـے هغۀ تـه دا وخت صرف دروازه ښکـاريـده الـبـتـه پـه خپـل شا ئـې يـوه لـويـه او بـلـنـد آهـنـګـه خنـدا ضرور واوريـده چې ئـې ورسره دا وخت هېڅ سروکـار نـۀ ؤ ــ

o

مـور بـي بـي ډېـره خـوشحـالـه وه ــ د خپـلـې ايـنـګـور نـه خـو ځـاريـده ــ بـيـا بـيـا بـه ئـې پـه تـنـدي ښکل کـړه او ډېـرې دعـاګـانـې بـه ئـې ورتـه اوکـړې ــ نـن بـيـا پـه کـور کـښې د سپـېلـنـو ډډُوزه ختـه ــ ودود صېب اوخـنـدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

,, مـور جـانـي ! د سپېلـنـو قـحط بـه راځـي پـه وطن کـښې،،
,, دا بـد نـظر پـه شـا کـوي ـــ دا کـلـه نـهٔ ختـميـږي ،، د مـور بـي بـي جـواب ؤ ـــ
,, خـو د څـو ورځـو نـه ئـې دودېـدل ډېـر زيـات شـوي نـهٔ دي ؟ ،، ودود صېب مُـسکـي مُسکي د سترګـو پـه کـونـجونـو کـښې د سکـيـنـې طرف تـه اوکـتـل ـــ
,, ولـې نـه ! زمـا کـور دې خدائـے د بـد نـظر نـه اوساتـي ، سکـيـنـه بـچۍ مـې دې خدائـے دنـــظـــره نـــهٔ کـــړي ،، مــــور بـي بـي ډېـر پـه مـيـنـه اووې ـــ
,, دا غـوا ؟ ،، ودود صېب ځـان داسې حېـران غـونـدې کـړو ـــ د ودود صېب پـه خبـره سکـيـنـې سر ټـيـټ کـړو او مُسکـۍ غـونـدې شـوه ـــ هغـه د ودود صېب د مـيـنـې پـه دغـه انـداز پـوهـېـده ـــ
,, نـه ـــ ـــ نـه ،، د مـور بـي بـي پـه لـهجـه کـښې نـاز ؤ ,, د سکـيـنـې خـو ثـانـي نـشتـه ، زمـا خـو پـرې کـور جـنـت دے ،،
,, خبـرې نـهٔ ورځـې مـورې ،، د ودود صېب پـه لـهجـه کـښې هـغسې شوخـي وه ـــ
,, سکـيـنـه پـه زړهٔ ګـوره او پـه زړهٔ ئـې اوره ،، مـور بـي بـي پـه ډېـر بـاور سره اووې
,, زمـا انـتـخـاب دومـره مـعـمولـي نـهٔ شي کـېـدے ،،
د سکـيـنـې پـه راتـلـو سره کـور کـښې ښـکـلـے بـدلـون راغـلـے ؤ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥

په سباؤن سکول کښې د تعمیراتي کار او زیبائش او آرائش د تکمیل باوجود هم چې لا تدریسي عمل شروع شوے نهٔ ؤ نو د هغې لویه وجه دا وه چې لا د سکول سټاف نیمګړے ؤ ، ودود صیب د نظر او نظریې خاوندان لټول ـ هسې خو به هره ورځ ګڼ شمېر کسان د انټرویو دپاره راغلهٔ خو د ودود صیب د ژورې پوهې لرونکي او په زړهٔ او ذهن صحت مند کسان پکار وو نو انتخاب به پکښې په مشکل د یو کس نیم اوشو ـ د تاخیر سره سهي خو بالآخر دغه مرحله هم ترسره شوه ـ اوس د ودود صیب د خوښې او معیار مطابق سټاف کار کولو ته موجود ؤ ـ سباؤن سکول په دوؤ حصو ویشلے شوے ؤ ـ یوه حصه د پرائمرئ وه ، تر څلورمه پورې چې پکښې هلکانو او جینکو به یو ځائے سبق وئیلو ، د هغې دپاره د زنانه سټاف انتخاب شوے ؤ، دا ځانله حصه وه او د پینځم جماعت نه واخله تر لسمه پورې صرف هلکان وو او د هغوي دپاره سټاف هم نارینه ؤ ـ

د ودود صیب نظریه وه چې د ماشومانو خبره جُدا ده ، هغوي بیخي سپېځلي وي ، زړونه ذهنونه ئې د هر قسم آلائش نه پاک او بالا وي خو عاقل بالغ جینکئ او هلکان چې ګډ تعلیم حاصلوي نو دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـودکـشی نــه عـلاوه نــور هيڅ نــۀ دي او بــيــا
ـ ـ بــا الــخصوص پــه داسې مـعـاشره کـښې خـو
مـخـلـوط تـعـلـيـم بـيـخي زهـر دے چـرتــه چې د
مــاديـت پـرستی زور وي ، کـردار سـازي د
نــشت بــرابــره وي ، اخـلاقـي بـيـمـاری زيــاتــې
وي او د تـحـفـظ احـسـاس پـه سـلـګـو وي ـ هن
! دا بـيـلـه خـبـره کـه څـوک د خـپـلـو اسلامـي
او پـښـتـنـي اقــدارو نــه لاسونــه ويــنځـلـو تــه
تــيــار وي ـ
مـيـټـنګ شروع ؤ ، ودود صيب د خـپـلـو خـبـرو
پـه دوران کـښې د خـپـل ټـول سټـاف نــه
مـخـتـلـف تـپـوسونـه هم کـول ، د هـغـوي نـظـر
بـه ئـې هم غـوښتـو ـ
،، خـو بـهـرحـال داخـوب ريـښـتـيـاکـول يـو
لــوئـے چـيـلـنـج ضرور دے،،
ودود صيب د خـپـلـو خـبـرو پـه آخـر کـښې
اووې
،، مـونـږ دا چـيـلـنـج قـبـلـوؤ سر ! ،، عـديـل
پـه سنـجـيـدګـی سره اووې ،،پـه دغـه حـوالـه
زمـونـږ ذمـه واری دومـره لـويـې او ډيـرې
دي چې زۀ ګـڼـم چې زمـونـږ سره د دمـې
ګـنـجـائـش بـيـخي نـشـتـه ،،
،، سر د احـسـاس خـبـره ده ،، فـيـضـان اووې
،، زمـونـږ د نـړی د قـامـونـو سره سيـالـي
ډيـره نـيـمـګـړې ده او زمـونـږ سره تـر ټـولـو
اهم آپـشن هم دغـه دے چې مـونـږ خـپـل را
روان نـسل د عـلـم او هـنـر پـه کـالـوښائـسـتـه
کـړو او د سيـالـی دغـه لـوئـے جـنګ تـه ئـې
تــيــارکـړو،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـي مـيـل سټـاف پـه خـپـل سـائـيډ نـاسـت ؤ ـ
مـس عـائـشـه اووې ,,سـر! دومـره ګـرانـه هـم
نـۀ ده خـو عـزم پـکـار دے ـ مـونـږ بـه
بـريـالـي کـيـږو خـو کـه د خـپـل نـوي کـهـول
سـوچ او فـکـر تـه د آګـهـی او ادراک وسـلـه
ورکـړو ،،
مـس ښـکـلا اووې ,, مـونـږ د خـپـل اولـس
مـحـرومـی نـۀ شـو لـيـدے سـر! مـونـږ پُـر عـزم
يُـو ،،
هـر چـا خـپـل خـپـل اظـهـار کـولـو ـ د ودود
صېب پـه مـخ مـسـکـا وه ، پـه سـتـرګـو کـښـې ئـې
يـو ښـاغـلـے يـقـيـن ځـلـيـدو ـ ګـويـا شـو ,, زۀ
فـخـر کـوم چـې مـاتـه خـدائـے سـتـاسـو پـه شـان
ښـکـلـے ټـيـم راکـړے دے ـ دا صـحـيـح خـبـره ده
د يـو مـاشـوم د شـخـصـيـت پـه جـوړولـو او
سـازولـو کـښـې د اسـتـاد کـردار د هـر چـا نـه
لـوئـے وي ـ د مـور پـلار نـه هـم ـ او مـونـږ
بـه خـپـل دغـه کـردار لـوبـوؤُ د يـوې ښـې او
مـثـالـي مـعـاشـرې د تـشـکـيـل دپـاره ، تـر
څـوچـې مـونـږ سـاه اخـلـو ، څـو چـې مـونـږ
ژونـدي
يُـو ،،
مـيـټـنـګ تـر کـافـي وخـت جـاري ؤ !

o

د مـور بـي بـي انـتـقـال د ودود صېب دپـاره
لـويـه صـدمـه وه ـ څـو ورځـې خـو بـيـخـي ګُـنـګ
سُـنـګ ؤ ـ دنـيـاورتـه څـۀ داسـې ورانـه
ورانـه غـونـدې ښـکـاريـده ـ د سـبـاؤن سـکـول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاف چې ودود صېب به ورته د احساس ملګري وئيل ، هغوي ئې هم غم غلط نۀ کړے شو ـ څۀ ورځې پس چې لږ په خود کښې شو او کومه وړومبۍ خبره ئې محسوس کړه او ورته خوشحاله شو هغه دا وه چې د کور معمولات بيخي نۀ وو بدل ، هغه معمولات کوم چې ئې د مور بي بي سره ژوندي وو په هغو کښې لږه هم تبديلي نۀ وه راغلې نو لکه چې سترګې ئې اوغړيدې ، سکينې ته ئې اوکتل ودود صېب په اول ځل دومره په شدت سره سکينه محسوس کړه ـ د مور بي بي خبره ئې د احساس په جهان کښې انګازه انګازه شوه ـ

,, سکينه په زړۀ ګوره او په زړۀ ئې اوره ـ زما انتخاب دومره معمولي نه شي کېدے ،،

نور خو لا څۀ چې سکينې به اوس مونځ هم په هغه جانماز کولو کوم چې د مور بي بي ؤ ـ سکينه خو به ورته هر ساعت لاس په نامه ولاړه وه خو ودود صېب په غم کښې دومره ډوب ؤ چې دا هر څۀ ورته نۀ ښکاريدل ـ خو اوس ـ ـ ـ ـ ـ !

سکينې ته ئې ډېر په مينه اووې ,, سکينې ! ما خو ګڼل جوړ تۀ ريښتيا غوا ئې ،،

سکينه د خپل عادت مطابق مسکۍ شوه ، سترګې ئې ورپورته کړې ، هغه خوشحاله شوه ـ د مور بي بي د وفات نه پس نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړومبی ورځ وه چې د ودود صېب په مخ د ژوند رنګونه خوارۀ وو ــ
،، زۀ د خپل خدائے ډېر شکر ګزار يم سکينې ! چې ماته ئې ستا په شان د ژوند ملګرې راکړه ،،
د سکينې په زړۀ کښې لکه د ټول عمر خوشحالي په يوه لمحه کښې راجمع شوه ــ هغې ته بس د خپل خاوند ، د خپل مجازي خدائے هم دغه رضا پکار وه ــ
،، او هن ! تۀ ماته دا نوم ولې نۀ اخلې ؟ ،، ودود صېب هسې تندے داسې تريو شانې کړو ــ
،، ښځه خپل خاوند ته نوم اخلي ؟ ،، سکينې په قلاره اووې
،، اوه ــ ــ ــ ــ ،، ودود صېب بې اختياره اوخندل ،، ولې نه ! دې کښې څۀ عېب خو نشته ــ پخوانو ښځو به نۀ اخستل ! ،،
،، دا وضاحت خو هم اوکړئ کنه چې ولې به ئې نه اخستل؟،، سکينه مسکۍ شوه ــ
،، اوس هم ډېرې ښځې د خپل خاوند نوم نۀ اخلي ،،
،، اُم م ــ ــ ــ ــ ــ ــ ،، ودودو صېب ځان ناجانه غوندې کړو ،، تاته به پته وي ، زۀ خو نۀ يم خبر،،
،، بې ادبۍ کښې راځي ،، سکينې ورو شانې اووې
،، دا بې ادبي منظوره ده ــ ستا د خولې نه خپل نوم اوريدل غواړم ، ماته ښۀ لګي ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکینه په سوچ کښې شوه ,, تش نوم خو درته نۀ شم اخستے ـ ګرانه ده ،،
,, لکی ورپورې ترل غواړې ؟ ،،
,, او ،،
,, یعنې ؟ ،،
,, ودود صېب به درته وایم ،، د نامې د اخستو سره د سکینې په سترګو کښې د ښائست بلا رنګونو برېښنا اوکړه ـ
,, هم ـ ـ ـ ـ دا هم ښۀ ده ،، ودود صېب سکینې ته په غور کتل ـ په لهجه کښې ئې شوخي او شرارت ؤ ,, یو ځل بیا اووایه ،،
د سکینې په مخ د حیا سُرخي خوره شوه د ښائست او حیا د رنګونو ډکې سترګې ئې ورو شان ورپورته کړې ، ورو شان ئې اووې
,, ودود صېب ،،
د ودود صېب د محسوساتو جهان کښې څۀ جنتي شان کېف خور ؤ ـ د خپل وجود دشته والي یو دلربا احساس ؤ !

○

ابتداء کښې ، سکول کښې د ماشومانو تعداد کم ؤ خو اوس د خواؤ شا د کلیو نه هم خلقو خپل بچي په سباؤن سکول کښې د داخلې دپاره راوستل ـ سباؤن سکول کښې د ماشومانو د غېر حاضرۍ شرح د نشت برابر وه ـ ودود صېب په دې خبره مطمئن او خوشحاله ؤ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو زړۀ دلته لګي او دا ددې خبرې ثبوت ؤ چې د هغوي استاذان خپلې ذمه وارۍ په ښۀ توګه ترسره کوي ـ سباؤن سکول کښې مستحق ماشومانو ته يونيفارم او کتابونه وغېره مفت ملاويدل او فيس به ئې هم معاف ؤ ـ
نن د کلي د لويې جرګه باز اکبر کاکا سره څۀ مشران نور هم سکول ته په چکر راغلي وو ـ
اکبر کاکا خندل ,, زما نمسے خو زما نه داسې تپوسونه کوي چې حيران شم ورته ـ ـ ـ ـ کله کله خو ئې راسره جواب هم نۀ وي ،،
ودود صېب مُسکے شو ,, دا خو ابتدا ده اکبر کاکا ! مخکښې ګورئ ، او جواب خو د هر سوال خامخا وي البته داسې اکثر کيږي چې مونږ څنې حقيقتونو ته سترګې غړول نۀ غواړو ، مونږ د خپلو رسمونو رواجونو او بلا ډېرو خرافاتو غلامان يُو چې په سوب ئې زمونږ اجتماعي ارتقاء هم سړه ده نو مونږ د خپلو غفلتونو او کوتاهيو په وجه باوجود ددې چې زمونږ سره ئې ښۀ جاج او جواب وي ، د خپل نوي کهول د سوال د جواب نۀ يُو ،،
د اکبرکاکا جرګه باز طبيعت ؤ ـ غلے کله پاتې کېدے شو خو دلته خو ورسره ماتې نه وې ـ ـ خبر لوڅي ئې دلته د سپيڼ بريکرو سره مخ وه ـ خو څۀ خو به ئې خامخا وئيل ، په ږېره ئې لاس اووهلو,, تعليم ډېر ښۀ شے دے ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, تعلیم رڼا ده اکبر کاکا ! دا د وګړو او قامونو دپاره بینائي ده، ترقي ده ، سیالي ده ـ دا چې نۀ وي نو هر خوا تورتم دے ـ لوئے تورتم ،،

ګل شان لالا سر اوخوځولو ,, او ! هم دا حقیقت دے ـ خو کله به وي چې زمونږ دغه ارمان پوره شي ! ،،

ساده خلق په ساده خبرو پوهیږي ـ ودود صېب اوخندل ,, لالا ! یوې ښځې د بلې ښځې نه تپوس اوکړو چې خورې دا لښکر څۀ ته وائي ؟ نو هغې ورته اووې چې ستا خاوند او زما خاوند چې سره یو شي نو هم دې ته لښکر وائي ـ ـ ـ مونږ که نن هم خپله خپله برخه ایمانداري د خپل چاپېرچل د سینګار دپاره ګډه کړو ، خپل اخلاص مېنځ ته راوړو ، خپل خواهشات کم کړو او د خپلو بچو په لاس کښې کتاب ورکړو نو زمونږ ټول ارمانونه به پوره کیږي ،،

,, خو وخت به ډېر غواړي ،، اکبر کاکا اووې

,, زمونږ غفلتونه هم د مودو مودو نه دي اکبر کاکا !،، ودود صېب اووې ,, په یوه ورځ کښې هېڅ هم نۀ بدلیږي ـ وخت خامخا پکار وي خو د رڼا د خوریدو یو خوشحالوؤنکے احساس د هغه ټول عمل په دوران کښې بهر حال ضرور موجود وي کوم چې د وګړو د توان د زیاتولو سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړيږي او د منزل غيږي ته پرې رسيدۀ اسانيږي ـ،،
حاجي ارسلان چې تر اوسه خاموش ناست ؤ ، ګويا شو ,, زۀ خو ډير نۀ پوهيږم بچې ! خو دا پوهيږم چې ستا خبرې ډيرې ښې دي ، زۀ د خپل نمسي ددې خبرې سره هم اختلاف نۀ لرم چې ماته وائي چې بابا څۀ بې مالګې ژوند دې تېر کړے دے چې سبق دې نۀ دے وئيلے ـ مونږ به دعادرته کوؤ ،،
,, ستاسو مرسته هم پکار ده حاجي صېب ! ،، ودود صېب ورته مسکا کښې اووې ,, د خپلو بچو د خپل نوي نسل په لاس کښې د کتاب او قلم ورکولو په مشن کښې تاسو ډير لوئے کردار لوبولے شئ ـ تاسو مشران يئ ، ستاسو خبره ، ستاسو کوشش ډير زيات اهميت لري ،،
د چائې څښلو په دوران کښې هم ډيرې خبرې د بحث لاندې راغلې !

O

د افسر خان د مرګ خبر د ريحان آباد د خلقو دپاره ډير بد خبر ؤ ـ ريحان آباد مړاوے مړاوے ؤ ـ افسر خان د سرور خان کشر ورور ؤ خو د هغۀ نه بيخي بدل ؤ ـ بيخي جدا ـ طبيعت کښې ئې نرمي وه او هر ممکن کوشش به ئې دا ؤ چې د ريحان آباد خلق د سرور خان د عتاب او ظلم نه بچ وي ـ افسر خان به

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کــــــر

د ریـحـان آبــاد خـلـقـو تــه د لاسه ورکـولــه ،
د سرور خــان پــه ظلم زور بــه ئــې تــرې
مـعـافـي غـوښـتـه ــ د هـغـوي سره بــه
کـښېنـاسـتـو پــاسیـدو، غم ښادۍ کـښې بــه ئــې
شریـکـېدو ــ سرور خــان د هـغـهٔ دغـه
عــادتــونــو تــه پــه ښهٔ نـظـر نـهٔ کـتـل خو څهٔ
ئــې کـړي وے ــ کـشر خــان فـطـرتــاً هم داسې ؤ
پــه دې حـقـلــه ئــې د چا خـبـره نـهٔ اوریـده ــ
د افـسـر خــان مـرګ څـنـګـه او پــه کـومـو حـالا
تــو کـښې اوشـو ددې هـیـچـا تــه پــتــه اونــهٔ
لــګـېده ــ صرف زورے خـبـر ؤ چا چې د سرور
خــان پــه حـکـم کـشـر خــان تــه پــه شـودو کـښې
زهر ورکـړي وو او بــیــا لــړې ورځې پــس
سرور خــان د زوري کــار هم تــمــام کـړو ــ
اوس د خـپـل دغـه جـرم صرف سرور خــان تــه
پــتــه وه او بـس !
مـیـاشت نـیـمـه پـس د افـسـر خــان وادهٔ ؤ ــ
افـسـر خــان پــه دې خـبـره ډېــر خـفـه ؤ چې
سرور خــان پــه ریــحــان آبــاد کـښې سکـول
جوړیـدو تــه ولــې پــرې نــهٔ ښوؤ ــ هـغـه بــه د
سرور خــان پــه سوچ او نـظـر حـېـران هم ؤ
او پـریـشـان هم ــ ورتــه ئــې اووې ,, خــان
لالا ! تــاسو تــه پــرې څهٔ تــکـلـیـف دے کـه
سکـول دلــتـه جوړ شي ؟ ،،
,, ستــا عقـل لا خــام دے افـسـر خــانــه ! ،،
سرور خــان ورتــه بــرنــد اوکـتـل ,, ددې
خـلـقـو بــه ژبــه اوشي ، سـتـرګې بــه ئــې اوشي
ــ ــ بــیــا بــه درتــه لاس پــه تــنـدي نــهٔ ږدي ،
بــیــا دې خــانــي لاړه ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, عزت خو هغه وي خان لالا چې د چا په زړۀ کښې د چا دپاره وي ــ ظلم او زياتےخوکرکه او نفرت په زړونو کښې پېدا کوي،،
,, آه ، ها ــ ها ــ ها ،، سرور خان متکبرانه خندا اوکړه ,, زور دې مۀ هيريږه افسر خانه ! خوبونه مۀ وينه ــ د زړونو زمانې لاړې ــ دغه زمکه خو به يوه ورځ ودود په ما پخپله خرڅوي ــ ښۀ په خوښه ــ خو بس دومره ده چې نن ئې خوښې ته مۀ پرېږده ــ داسې خوښې ته چې په دغه زمکه ئې ورسره پښې کلکيږي،،
د افسر خان طبيعت او مزاج بيخي بدل ؤ ــ خبره پرې ښۀ اونۀ لګېده ــ ,, فېصلې خو دبره نه کيږي خان لالا ــ تاسو دا ولې هيروئ،، د سرور خان په مخ د ناګوارۍ يورنګ څړيکه اوکړه ــ ډېر په ژور نظر ئې کشر خان ته اوکتل ــ دغه وخت ؤ چې سرور خان اوويريدو ــ د خپل زوئے دلاور خان په خانۍ ــ چې لا هلک ؤ خو خوبونه ئې ورته ډېر لوئے لوئے ليدل ــ د سرور خان په فطرت کښې کمينګي پوره پوره شامله وه ــ د افسر خان د وادۀ د تياريو د شروع کېدو سره سرور خان څۀ داسې نامعلومه شان بې چينې محسوسوله او داسې نورې ډېرې مبهم مبهم شان خبرې، چې په زړۀ او ذهن کښې به ئې پټېدې او ښکاره کيدې خو دا هر څۀ بې ربطه او بې عنوانه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



، سرور خان خپلو دغو کیفیتونو ته څهٔ نامه او معنیٰ نهٔ شوه ورکولے ــ خو بهر حال هغه هر څهٔ د وخت سره سره د مربوط کېدو په لور روان وو او نن د سرور خان شیطاني ذهن په دې خبره صفا شو چې هغه څهٔ غواړي ــ کشر خان د خپل خان لالا د اندروني کشمکش نه بې نیازه په صوفه کښې ډډه وهلې ، ښکلے ښکلے ناست ؤ ــ د سرور خان دننه د غلاظتونو بدبو په خورېدو وه ــ هغه ته اوس په ټول ریحان آباد کښې د لارې خنډ افسر خان ښکاریدو، د افسر خان وجود د سرور خان په زړهٔ او ذهن کښې موجود د دلاور خان د خانئ تصور مجروح کولو ، دغه لمحو کښې ئې فېصله اوکړه ، سرور خان ډېر په خاموشئ‌سره د کمرې نه بهر اووتو ــ

O

زورے د سرور خان خاص ملازم ؤ ــ د ډېرو جرمُونو ، ظلمونو ئې شریک او راز دار ؤ خو په دې خبره خو بیخي اوبوړنیدو ــ په حېرانئ سره ئې مشر خان ته اوکتل ، شونډې ئې اورپیدې ,,خان ــ ــ ــ ــ ــ !
،،

,, خولهٔ بند زوریه ،، سرور خان اوغرمبیدو ,, ځه ، ورځه ، کار نن نن خلاص غواړم ،،

زوري څهٔ وئیل غوښتل خو سرور خان وړاندې تېر شوے ؤ ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زورے عادي مجرم ؤ او د سرور خان سره نیزدې هم ځکه ؤ چې هغۀ به ترې کارونه د هم دې نوعیت اخستل ـ د زوري زړۀ د کاڼي ؤ ـ خون خرابه ، قتل ، وهل ټکول د معمول د کارونو په شان ورته اسان وو ـ ضمیر ئې مړ ؤ خو په دې خبره اوبوږنیدو، خو په دې هم پوهېدو چې د انکار انجام څۀ کېدے شي ، تور زړۀ ئې د تور عمل دپاره اجازت ورکړو ، خپله بقا او غرض ئې په هر سوچ باندې مقدم اوګرځولو ، زوري ته پته وه چې د افسر خان کمرې ته د شودو ګلاس د کچن نه څۀ وخت ځي ـ هغه ژوند کشه ګولۍ د زوري په موټي کښې بند وه کومه چې د افسر خان دپاره وه ـ کومه چې اوس اوس سرور خان ورکړې وه ـ

بله ورځ ټول ریحان اباد کښې د افسر خان د مرګ غوغا وه ، د ریحان اباد د خلقو خو د امېد ډیوه مړه شوه ـ د افسر خان د مرګ د خبر په اوریدو به خلقو ډیر په غم او حسرت سره یو بل ته اوکتل او د اندېښنو او ویرې سیوري به ئې په سترګو کښې نور هم سېوا شول ـ

د افسر خان آخري رسومات سرته د رسیدو سره سره زورے هم دمینځ نه غائب شو ـ سرورخان دومره کم عقل خو نۀ ؤ چې ـ ـ ـ ـ ـ!

اوس د زوري په ځائے بل کس د سرور خان د ظلم او جبر د معاملاتو امام ؤ ـ تاؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــا ؤ بــرېــتــونــه ، سرې سرې ستـرګـې ، بــد رنـګ او بـې مــالــګـې مـخ ـ
خـپـل نــوم ئــې چې هـر څـهٔ ؤ خـو پـه مــالــګـیـن مـشـهـور ؤ !

o

کـور تــه مــاشــوم څـهٔ راغـے چې ودود صېب خـو د خـوشـحـالـۍ نــه پـه جـامـو کـښې نـهٔ ځـائـېـدو ـ بـیـا بـیـا بـه ئـې پـه غـېږ کـښې واخـسـتـو ، پـه زړهٔ پـورې بـه ئـې جـوخـت اونـیـوو ، ښـکـل بـه ئـې کـړو ـ څـهٔ پـه اجـنـبـي غـونـدې ژبـه کـښې بـه ئـې ورسـره خـبـرې هـم کـولـې چې ودود صېب بـه وربـانـدې خـپـلـه هـم نـهٔ پـوهـېـدو او نـهٔ بـه ئـې بـېـرتـه عـیـن هـغـسې تـکـرارولـے شـوې الـبـتـه مـاشـوم بـه مـسـکے ضرور شـو ورتـه ، پـښې لاسـونـه بـه ئـې اووهـل ـ څـهٔ وو خـو د مـیـنـې زور ؤ چې ودود صېب بـه ئـې لـه ډېـره فـرطـه د خـپـلـې ژبـې ، لـفـظـونـو، تـکـیـو لـه حـده د اظـهـار او بـیـان څـهٔ غـېـر واضـح جـهـان تـه ور اووتـو چې د مـعـنـې جـامـه شـایـد ودود صېب پـخـپـلـه هـم نـهٔ شـوه ور اوغـوسـتـے،خـو نـه ـ ـ مـاشـوم پـرې لـکـه چې پـوهـېـدو ـ پـه خـپـلـې وړې وړې مُـسـکـا او د پـښـو لاسـونـو پـه والـهـانـه حـرکـاتـو بـه ئـې خـپـل رد عـمـل بـیـا بـیـا څـرګـنـدولـو او ودود صېب بـه چې د خـپـلـې مـبـهـم ژبـې پـذیـرائـي اولـیـده نـو نـور بـه هـم ورتـه پـه اګـړم بـګـړم سـر شـو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـومـونـه ئـې پـرې تـقـریـبـاً یـو درجن بـدل رابـدل کـړل ـ د ګـلـونـو سره نـسبت لـرونـکي نـومـونـه ، د بـادشاهـانـو نـومـونـه ، خـو بـیـا بـیـا بـه ئـې سر اوخـوځـولـو ـ

,, نـه ـ نـه کـنـه ـ څـۀ بـلـه نـامـه ـ زمـا د بـچي پـه شان ښکلې نـامـه ـ زمـا د بـچي سره سمه نـامـه ،،

سکـیـنـې بـه د ودود صېب ددې ټـولـو کـېفـیـتـونـو پـه مـیـنـه نـنـداره کـولـه ـ ورتـه مُسکی شوه ,, چـرتـه د پـالـوان نـوم خـوښ کـړئ ورتـه ـ دا دومـره کُشتـی چـې ورسره تـاسو ددې عمـر نـه کـوئ نـو خـامـخـا بـه تـرې پـالـوان جـوړیـږي ،،

ودود صېب مـاشوم پـه دواړو لاسونـو کـښې د سر د پـاسه اوچـت کـړو ,, پـالـوان خـو بـه تـرې خـامـخـا جـوړیـږي خـو کُشتـي بـه ددې تـور نـظـام سره کـوي د انـسان سره نـه ،،

سکـیـنـې اوخـنـدل ,, تـاسو ورتـه د اوسه نـه دغه څـۀ ښایـئ ـ ـ ـ ـ تـــاسو هم ـ ـ ـ ـ لا خـو مـاشوم دے ـ ـ ـ لا خـو ئـې خـبـرې کـول هم نـۀ دي زده ،،

ودود صېب مـاشوم پـه ځـانـګـو کـښې ډیـر پـه قـلاره واچـولـو او ځـانـګـو تـه ئـې تـال ورکـړو ـ ,, خـبـرې بـه هم زده کـړي ،،

ودود صېب پـه خـپـل مـخـصوص انـداز کـښې اووې ,, د دنـیـا پـه ډیـرو ګـرانـو ګـرانـو کـارونـو کـښې یـو ګـران کـار خـبـرې کـول هم دے ـ سکـیـنـې ! کـمـه لار ، کـوم سبـق چـې یـو چـا تـه د هغۀ د عمـر پـه ابـتـداء کـښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

اوښودلے شي ـ هغه د هغۀ د عمر په هر پړاؤ مل ملګرے وي ، هغه ئې بنیاد وي او ښۀ بنیاد د اعلٰی ترین تعمیر ضامن وي ـ پرورش او لار ښودنه د عمر په باقي حصو کښې هم سودمنده وي خو په ابتدا کښې خو چې څومره ډېره اوکړے شي هومره ښۀ ده ،،

سکینه د ودود صېب خبرو ته په مینه غوږ وه او د خپل عادت مطابق ورته مسکۍ وه ـ ودود صېب ماشوم د ځانګو نه را اوچت کړو اوو د سکینې غېږې ته ئې اوسپارلو ـ

،، د مور غېږ د هر ماشوم اولنۍ درسګاه وي ـ د هم دلته نه یو ماشوم د ژوند دپاره ، د امتحانونو نه ډک ژوند دپاره ابتدائي حرارت او آکسیجن اخلي ـ په هر وګړي د خپلې معاشرې ، خپل چاپېرچل په مختلفو حوالو حق او قرض وي ـ د هر وګړي فرض دے چې خپل بچي ، خپل نوے کهول خپل چاپېرچل ته د ښائست د تحفې په طور وړاندې کړي ،،

،، زما خو به کوشش وي چې ستاسو نه زده کړم او دۀ ته ئې اوښایم ،، سکینې اووې ،، خو خیال مو دے ـ ـ ـ ـ ؟

داسې خو به تر اوسه چرته هم نۀ وي شوي چې د یو ماشوم دې هره ورځ یوه نوې نامه وي ـ ،،

ودود صېب بې واره اوخندل ،، او ، دا خو ده ـ دا مینه هم څۀ عجیبه شے دے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ، نــوم مې ورلــه نــهٔ خــوښېږي ــ تــا ورتــه خــوښ کـړے دے ؟ ،،
,, او ،،
,, څـه ښهٔ ده ــ زهٔ بـه د کـړاؤ نـه خلاص شم ــ څـهٔ نــوم دې خـوښ کـړے؟ ،،
,, پـه يــو شرط ! ،،
,, ام ــ ــ ــ هم ــ ــ ــ ،، ودود صېب پـه شوخئ سره سکيـنې تـه اوکـتل ,, څـه ټـيک ده ــ اووايـه ،،
,, هم هغـه بـه ئـې نــامـه وي ــ بـدلــوئ بـه ئـې نـه ،،
,, خوښـه مـې ده ،، ودود صېب مُسکے شو ــ
,, زمـا د بـچي بـه فـريـد نــامـه وي ،،
,, فـريـد ،، ودود صېب پُـر خيـال انـداز کـښې اووې ,, فـريـد ــ فـريـدــ فـريـد ــ هم م م م ــ ــ ــ ټـيک ده !! ،،
د نــومــونــو د بـدلــيـدو رابـدلــيـدو سلسلـه بــنـد شوه ــ مـاشوم تـه نـوم خـوښ کـړے شو ــ فـريـد ــ خو ودود صېب بـه ورسره هغـه د پـيـريـانــو پـه ژبـه کـښې خبـرې اوس هم کـولــې او داسې د مــاشومــانــو پـه شان چې د خپـل عـادت نـه خلاف بـه ورتـه سکيـنـه هم د خنـدا نـه شنـه شوه !!

O

کـلاس کـښې د ,, خـودي ،، پـه مـوضوع د ودود صېب لـکچـر جـاري ؤ ــ
,, ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ او دغه جـوهـر ، دغـه حـکمت هـر کـلـه چې وګـړو يـا قـامـونـو تـه حـاصل وي نــو د مقـام پـه بـلـنـدئ کـښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شک نـۀ پـاتـې کـيږي ــ بـل تـه اسره کـول ، نـورو تـه پـسخېدل ، لالـچ دراصل د خـپل حميت او غېرت د سودا کـولـو بـرابـر وي ــ خـودي مـونـږ تـه د مـحنت او جـهـدِ مـسلسل لارې نـۀ صرف ښائـي بـلـکې اسانـوي ئـې هـم ــ پـه ډېـرو اسانـو لـفظونـو کښې تـاسو تـه مـثـال درکـوم ــ زمـونـږ پـه پـښتـنه مـعـاشره کـښې پـه يـو څـيز پـسې زمـونـږ خلق خـپلـې ټـولـې تـوانـايـئ خـپلـه ټـولـه انـرجي خرچ کـوي او ډېـر خـلق خـو پـه دغـه بـاب کـښې د جـائـز او نـاجـائـز عمل خـيـال هم نـۀ سـاتـي ــ تـاسو تـه پـتـه ده چې زۀ څۀ يـادوم ؟ ،،

ودود صېب د څۀ ساعت دپـاره غلے شو ــ پـه ټـول کـلاس ئـې يـو نـظر واچـولـو ــ ټـول کـلاس خـامـوش ؤ ، هـمـه تـن گـوش ؤ ــ

،، سيـالـي ،، ودود صېب بـيـا گـويـا شو ،، خـو زمـونـږ سيـالـي زمـونـږ د سمـاجي او مـعـاشرتـي ضرورتـونـو ، رسم و رواج ، دود دسـتـور او جـهـل عظيم د اثـر نـه کـلـه هم ازاده نـۀ شـوه ــ مـونـږ کـلـه هم د خـپـل ذات د سحر نـه اونـۀ وتـُـو ــ مـونـږ کـلـه هم اعلٰی انـسانـي اقـدار او عـادتـونـه خـپـل نـۀ کـړل ــ مـونـږ کـلـه هم خـپـل بـل ورور تـه د ورور پـه سـترگـه اونـۀ کـتـل ــ مـونـږ کـلـه هم شعـوري طور د رڼـا پـه لـور د تـلـو هڅـه اونـۀ کـړه ــ ــ ــ ــ ــ ښـه ــ اوس هم دغـه سيـالـي چې مـونـږ ورتـه خـپل ټـول ژونـد وقـف کـړے دے ــ لـږ Changes پـکـښې کـوؤــ څۀ پـکـښې Add کـوؤ او څۀ تـرې اوبـاسو نـو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, خودی، یو داسې ښکلی او سپېڅلی شکل ترې سازیږي چې هم پرې مونږ ښائسته ، هم پرې زمونږ ژوند او چاپېرچل ښائسته او هم پرې زمونږ دنیا او آخرت روښانه او تابانه ـ دا ډېر لا محدود حجم لري ـ په دې کښې تاسو اسلامي اقدار او تعلیمات شامل کړئ ـ زمونږ د غلطو او فرسوده رسمونو سره خوښ نفس به لږ څۀ شور خامخا اوکړي خو تاسو به اوګورئ چې زمونږ د نفس هغه شور او بې ځایه احتجاج به انتهائي عارضي وي او د بلندئ او پستئ دغه کېدونکې ادراک او تمیز به زمونږ دپاره ډېر د توان او ډاډ باعث او خوشحالوؤنکې وي ـ مونږ ته به دا اندازه ډېره ښکاره کیږي چې مونږ د یو ډنډ نه را اوځو او د مقصد او مرام په یو روښانه سمندر کښې داخلیږو او هر کله چې اسلامي او پښتني اقدار خپله کښې غاړه غړئ شي او مونږ ته په نړئ کښې د خپلې سیالئ صحیح ادراک اوشي نو تاسو به ګورئ چې منظر بیخي بدل دے ـ تاسو په نړئ کښې په یو اعلٰی قائدانه مقام ولاړ یئ ـ تاسو غوښته نۀ کوئ ، تاسو ورکړه کوئ ، ستاسو سره مینه ده ، پېرزوئینه ده ، تاسو ښودنه کوئ ، تاسو اصلاح کوئ ـ تاسو به اوګورئ چې د عمل په لاره ستاسو سره حکمت او بصیرت ملګرے دے او ستاسو سستم د وائرس نه بیخي پاک دے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه صېب فرمائي ،

رائی زورِ خودی سے پربت
پربت ضعفِ خودی سے
رائی

په لوئے الله کامل یقین او توکل او
خپله ایماندارانه سعي او
محنت ستاسو د ,, خودئ ،، بنیاد دي ـ
په دغه باب کښې د فکر او نظر لوړتیا
او ژورتیا زمونږ انفرادي او اجتماعي
ذمه وارئ نورې هم سېوا کوي ـ خو نن
وخت ختم دے ـ نن په دې حقله ستاسو
تپوسونه هم پاتې شول ـ په دې به بیا
خبره کوؤ ـ ټیک ده ګلونو ! ،،

o

فرید ، بابا وئیل زده کړل ـ
ودود صېب ، ماشوم فرید په دواړو
لاسونو کښې اوچت کړو ـ او جذباتي لهجه
کښې ئې اووې ,, د بابا ځانه ! کمه
ورځ به وي چې لکه د خوشبو او رڼا دې
په خپل چاپېرچل کښې اووینم ،، ودود
صېب ماشوم ته په یو مخ کتل بیا ئې
ښکل کړو او په زړهٔ پورې ئې جوخت
اونیوؤ ـ سکینه مسکئ شوه ,, ګرانه ده
چې تاسو ئې ماشومتوب ته پریږدئ ـ
تاسو ورته د اوسه نه دومره لوئې لوئې
او ګرانې ګرانې خبرې کوئ ـ دے خو لا
په مم پوهیږي ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودود صېب اوخندل ,, ټيک ده خو دا مم څۀ ته وائي ـ لږ مې پوئې کړه ،،
سکينه هم په خندا شوه ,, مم ، مم وي نو ،،
,, هـــم ـ ـ ـ ،، ودود صېب په دلـــچسپۍ سره اووې ,, مم ـ هېڅ يو خاص څيز ته نۀ وائي ـ مم ـ يو تصور دے ، د هر ماشوم دپاره د هر هغه ذائقه دار څيز يو زړۀ راښکونکے تصور ، کوم چې هغه خوړلے شي ـ دغسې بوؤ ، باوو يابوؤ بلا دا هم محض تصور دے چې مونږ ئې د خپلو ماشومانو په ذهنونو کښې شعوري يا غېر شعوري طور قائموؤ ، مونږ پرې خپل ماشومان يروؤُ چې په نتيجه کښې ئې د هغوي په ذهنونو کښې د يو داسې خوفناک شکل او هئيت تصوير او د وجود احساس جوړ شي چې څۀ خاص او ښکاره خدو خال هم نۀ لري خو په حواله ئې د ماشوم په ذهن او زړۀ کښې يو خوف ، يو نامعلوم شانې خوف ځائے جوړ کړي چې نفسياتي اثر ئې ورسره په څۀ نا څۀ صورت ټول عمر مل وي ـ ـ ـ ـ ،، ودود صېب لږ شان توقف اوکړو ـ سکينې به همېشه د ودود صېب ټولې خبرې ډېرې په غور اوريدې ـ ,, هر ماشوم ته يو صحت مند سوچ د ابتدا نه ورکول ډېر ضروري وي ,, ودود صېب اووې ,, د ماشومتوب د عمر ټولې خبرې د انسان په لا شعور کښې همېشه همېشه پرتې او محفوظې وي ـ په ښو خبرو او لارښودونو ئې شعور ښائسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او روښانـه وي او پـه بـدو او جـا هلانـه
خبـرو ئـې عـادتـونـه کـا ږۀ ، عمـل نـاقـص او
مـبـهـم او ژونـد ئـې د بـې چـيـنـئ او
نـا هـمـوارئ سره مـخ ـــ ـــ ـــ د مـعـاشرې د
ښکلا انـحصـار پـه وګـړو وي ـــ ښۀ سـوچ ، ښۀ
تـربـيـت د ښۀ عمل ضـامـن وي ـــ او ضروري
ده چې دا هر څۀ د اول نـه اوشي ،،
سکيـنـې بـه اکـثـر د ځـان د پـوهـولـو دپـاره
د ودود صېب سره پـه داسې خـبـرو کـښې
اخـتـلافـي اړخ اخسـتـو ، اوئـې وې ,, خـو د
مـاشومـانـو خـو يـو خـاص سوچ وي ، مـاشوم
غـونـدې ذهن ئـې وي هـغـوي پـه دومـره ژورو
خـبـرو پـوهـول نـه وي مـمـکـن ،،
,, بـالـکـل ،، ودود صېب اووې ,, د
مـاشومـانـو ذهن او سوچ ورکـوټـے وي ،
هـغـوي نـۀ پـوهـيـږي خـو د هـغـوي د پـوهـولـو
ضرورت ددې خـبـرې نـه ښکـاره دے چې هـغـوي
نـۀ پـوهـيـږي ـــ ـــ ـــ مـاشومـان نـۀ پـوهـيـږي
ـــ خـو لـوئـےخـو پـوهـه لـري کـنـه ـــ ـــ ـــ د
هر مـاشوم لار ښودنـه د هـغـه د پـوهـې
مطابـق پـکـار ده ، د هـغـوي د وړو وړو
سوالـونـو ، جـوابـونـه د ژونـد پـحقـلـه د
مـخـتـلـفـو خـبـرو وضاحـتـونـه ډېـر ضروري وي ـــ
ددې سره د هـغـوي ذهن صفـا او مـعـتـدل
پـاتـې کـيـږي چې پـه نـتـيـجـه کـښې ئـې وروسـتـو
د لاشعـور د دنـيـا مـوسم هم صحت افـزاء او
د بـې ځـايـه شدتـونـو او اضطراب نـه بـچ وي
ـــ،، ودود صېب يـو سـاعـت تـه غـلـے شو او
پـه غـور ئـې د سکـيـنـې طرف تـه اوکـتـل ،
سکـيـنـه غـوږ غـوږ وه ـــ ,, ګـوره کـنـه ـــ ـــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــر

ــ ،، ودود صېب ګویا شو ,, د یو تازه
بوټي تصور اوکړه ــ چې په هر لحاظ سره
کمزورے وي ــ که پرې سیورے او اوبهٔ
ډېرې وي او نمر پرې هډو نهٔ لګي نو
هغه کمزورے پاتې شي او که مسلسل نمر
وي پرې او اوبهٔ نهٔ وي ورته نو له
تندې اوسوځي او ختم شي ــ یا که پرې د
پاسه نه د پاڼو او وړو وړو ښاخونو
وزن زیات شي نو چونکې تنه ئې کمزورې
وي نو کوږ شي ــ بیا په داسې صورتحال
کښې خلق څهٔ تدبیر کوي ورسره ؟ ،،
ودود صېب په خبره خبره کښې تپوس
اوکړو ــ
,, اډانه ورکوي ،، سکینې په قلاره
اووې
,, بالکل ! ،، ودود صېب اووې ,,
اډانه ورکوي او هغه ښاخونه کومو چې
په تنه باندې بوج جوړ کړے وي هغه ترې
پرې کوي او دغه واړه تدبیرونه تر هغې
پورې وي څو چې د بوټي تنه مضبوطه شوې
نهٔ وي ــ اوس ، د نګهداشت ددغه ټول او
مسلسل عمل نه پس هغه بوټے بوټے نهٔ
دے ــ ــ ــ ونه ده ــ ــ ــ ــ یوه
مضبوطه ونه ، مېوه داره او سایه داره
ونه چې نهٔ خو څهٔ د طوفان ، باد او
باران نه ویرېږي او نهٔ ئې د موسمونو
تغیّر د ژوند دپاره څهٔ قسم ته خطره
جوړیږي اوس ددې ونې ولې یا بېخونه
په زمکه کښې دومره ژور تلي دي چې د
اوبو یا نمې سره ئې براه راست رشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

جوړه کړې ده ـ اوس ددې ونې سره صرف پېرزوئينه ده ـ ظرف دے ورسره ـ لوئے ظرف ـ ددې ونې ښاخونه که پرې کيږي نو دا نوره غټيږي ګڼيږي ، چې مېوه اونيسي نو خپلې څانګې راښکته کړي ـ سکينې د خوشحال بابا شعر دے :

په بار داره ونه تل
وريږي کاڼي
ورته ګوره چې بار داره
ونه څۀ کا

نو زمونږ اصل ګټه خو دا ده چې مونږ خپل ټول توان طاقت په خپل نوي کهول خرچ کړو ـ دغه اصل سرمايه کاري ده ـ د بوټي بهترين مثال دے د يو ماشوم د ښۀ شخصيت او استحکام دپاره هم ددغه ټولو خبرو ضرورت وي مينه ، ډاډ او توجه ، د بدو خبرو نه په حکمت سره منع کول د ښو خبرو دپاره همت او تحريک ورکول ، هغوي ته د هغوي د اهميت احساس ورکول، په هغوي اعتماد کول ـ ـ ـ اوه ـ ـ ـ سکينې ! قسم په هغه لوئے ذات، ډېر لوئے نتائج لري دا خبرې بلکې اکثر خو ناقابل يقين!!،، ,, خو ټول خلق چرته پوهيږي په دې هر څۀ ،، سکينې اووې ,,حقيقت دے چې دا کيميا ده خو د عامو خلقو سره دا شعور چرته ؟ ،،

ودود صېب اوخندل ,, سکينې ! دا زمونږ خلق دي کنه ـ دوئي که نور څۀ دي او کۀ نۀ دي خو سيالجن په هر حال کښې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه حواله اثر ډېر زر اخلي ــ تهٔ
ګورې څومره ډېرې خبرې ، چې په عملي
شکل مخ ته راشي زمونږ په خواؤ شا کښې
نو باقي خلق هم څنګه داسې پټ پټ ، په
زړهٔ زړهٔ کښې په دؤ دؤ شي چې مونږ
څنګه وروستو پاتې شو ــ د پښتو وطن دے
کنه ،،
سکينه هم په خندا شوه ــ ,, او ، دا
خو ده ــ ــ ــ دا خبره بالکل رشتيا ده
،،
,, هم ــ ــ ــ ــ ،، ودود صېب مُسکے شو
,, او دلته به هم خلق وروستو نهٔ پاتې
کيږي ــ د علم د ضرورت د ادراک او
شعور لرلو سره نهٔ سهي ــ په سيالۍ سره
سهي خو وړاندې به راځي ــ او علم خو
رڼا ده سکينې ! د نور سمندر دے ، سحر
دے ، جادو دے څوک ئې چې يو وار غېږې
ته راغے ، بې مينې ئې کله پرېږدي ــ
پښتانهٔ ډېر عجيبه خلق دي سکينې ــ ــ ــ
د ګټې کور خو کله نهٔ پرېږدي ــ بس خو
چې دغه احساس ورته اوشي چې ددغه رڼا
په حصول کښې څومره لويه ګټه ده ــ نو
بس بيا ئې تماشه کوه ! ،،
سکينې خندل ,, تاسو خو ورته ورته
نقشه جوړه کړې ده ،،
,, زما ارمان دے سکينې ،، ودود صېب
ډېر په سنجيدګۍ سره د سکينې طرف ته
اوکتل ,, زهٔ د خپلو خلقو جهالت او
ناپوهي نهٔ شم کتے ــ ما ته د خپل
چاپېرچل دغه کمزوري اړخونه ډېر تکليف

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکوي ـ او زما یقین دے چې مسلسل
کوشش بهتري راوستلے شي ـ سباؤن سکول
به که خدائے کوي ددغې نظریې لاندې د
عمل د میدان ننګیالي تیاروي ـ د رڼا
په لور سفر به څۀ وخت خامخا اخلي خو
د منزل او مرام حصول ناممکن هر ګز نۀ
دے او بیا دې ماشوم پالوان خو ـ ـ ـ
ـ ـ ـ ،، ودود صېب ډېر په مینه د
فرید طرف ته اوکتل چې د خپلې دلچپسۍ
په وړې شان دنیا کښې د هر څۀ نه بې
نیازه او بې پروا مشغول ؤ ـ ,, زما
توان او طاقت نور هم سېوا کړے دے،،
سکینې ماشوم فرید ته ډېر په مینه
اوکتل ـ چې په یو لوئے شانې بال پسې
ئې بیا بیا خرپوسې وهلې خو خپله وړه
شان غېږه کښې ئې راګېرولے نۀ شو ـ

o

د سباؤن سکول رزلټ دې کال هم ډېر ښۀ
راغلے ؤ ـ د پرچو د انتهائي سخت
چیکنګ باوجود هم ماشومانو خپل قابلیت
ښودلے ؤ ـ د میټرک خو د هم دې سکول
دوه طالب علمان په یو بل پسې د ډېرو
کمو نمبرو د فرق سره په ټوله صوبه
کښې په ټاپ باندې وو ـ
ودود صېب ډېر خوشحال ؤ ـ د سټاف په
هفته وار میټنګ کښې نن هم دغه خبر
دبحث لاندې وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودود صېب وئيـل ,, ـــ ـــ ـــ ـــ تـاسو د عمير خبـره واوريـده ـــ ـــ ـــ چې د خپـل ايـوارډ د اخستـو پـه مـوقـع ئـې اوکړه ـــ ـــ ـــ چې ، زما زړۀ پـه سکـول کـښې هـومـره خـوشحـال وي څـومـره چې پـه خپـل کـور کـښې،، ودود صېب وار پـه وار د خپـل ټـول سټـاف طرف تـه اوکـتـل ,, هم دغه اصل نـکتـه ده او هم دغه زمـونـږ هـدف دے ـــ ډېـر مـاشومـان داسې هم وي چې پـه ظاهـره كـلاس كـښې نـاست وي ، ستـرګـې د استـاذ طرف تـه غړوي خو ذهـنـي طـور غېر حـاضر وي ـــ ددې مـخـتـلـف وجـوهـات وي ـــ د کـور مـسائـل ، د يـو مـاشوم ذهـن وړې وړې پـرېـيشانـئ ، د مـعـاشرې د نـاهـمـوارئ اثـرات نـامـنـاسبې رويـې او بـيـا خاص طـور د استـاذ بـې ځـايـه سخت ګـيـري او عدم تـوجـه ـــ ـــ ـــ ـــ زمـونـږ بـه ټـول كـوشش هم دغه وي چې زمـونـږ د سکـول مـاشوم د مـکـمـل حسيـاتـو سره پـه سکـول او کـلاس روم کـښې حـاضر وي ـــ دا بـنـيـادي خبـره ده او ددې خبـرې د يـقـيـنـي کـولـو پـه صورت د شې نـه شۀ نـتـيـجـه پـه اسانـئ سره تـر لاسه کـېدے شي ـــ زۀ ستـاسو پـه پـوهـه او مـحـنـت فـخـر کـوم نـن زمـونـږ ټـولـو دپـاره انـتـهـائـي د خـوشحـالـئ مقـام دے چې زمـونـږ د نـظـريـې او پـېـرزوئـنـې سفـر ډېـر شۀ روان دے،،

عديـل اووې ,, سر ! د مـاشومـانـو حـاضري هم پـه ډېـر شۀ تـسلسل سره ده ،،

,, دا ډېـره اهـم خبـره ده ـــ ـــ ـــ ،،

ودود صېب پـه ټـول سټـاف بـانـدې نـظـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچول ــ ,, د يو ماشوم سکول ته ريګولر راتلل او غير حاضري نۀ کول دا خبره ثابتوي چې د هغۀ سکول کښې زړۀ لګي هغه ددې ماحول سره ، د خپل سبق او د زده کړې د سفر سره وابستګي لري ــ دا خبره همېشه په نظر کښې اوساتئ ــ ددې کريډټ بې شک چې تاسو ته ځي ــ زۀ ستاسو ستائينه کوم ،،

مس شمائله اووې ,, سر ! د رزلټ په حواله په سکولز کښې نن سبا ډېر سخت Competition وي زمونږ دپاره د خپلو کاميابو تسلسل نور هم ضروري دے ،،

ودود صېب مسکے شو ,, تاسو ښۀ وايئ مس شمائله خو د Competition تصور د ذهن نه بيخي اوباسئ ــ ددې سره د اصل پوهې د کمي په وجه د نقل او سفارش رجحان هم زيات شوے دے ــ تاسو به اکثر ځايونو کښې کتلي وي چې د نقل کولو په سلسله کښې خپل استاذان د شاګردانو مرسته کوي ــ يا دغسې د سفارش او رشوت وبا ــ اوس دوئي څوک پوئې کړي چې دا څومره د نقصان نه ډک عمل دے ــ محض د نمبرو حاصلول هېڅ کله سودمنده خبره نۀ ده ــ اصل شے پوهه ده ــ چې هېڅ کله ماتې نۀ خوري ــ د نظريې او عمل وسله چې د چا سره وي د هغوي فتح په هر مېدان يقيني وي او زمونږ فتح به دا وي چې مونږ د سپرلو راتګ ته لارې هوارې کړو ، مونږ د ګلو کر جاري اوساتو ــ او په دغه حواله زمونږ ذمه وارئ دومره ډېرې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـوئـې دي چې د دمې او غلطۍ ګنجائش خو
راسره بـيخي نـشتـه د روايـتي سفـر نـه بـه
مـونـږ همېشه ځـان پـه ډېره سـاتـو ، مـونږ
بــــه ددې خـبـرې نــــه بـې پـروا ،چې خلق
څـــــهٔ کــوي ، خـپـل د نـظريـې
سفـر ، د يـو لـوئـې مـرام پـه لـور جـاري
سـاتـو ،،
,, مـونـږ پُـر عـزم يُـو سر ،،
,, هـم دغـه عـزم زمـونـږ طـاقـت دے ،،
مـس انـيـلـه اووې ,, سر!ځنې مـاشـومـان ډېـر
زيـات کُـنـد ذهـن دي،،
,, نـفـسيـاتـي جـاج ئـې واخـلـئ ،، ودود صېب
پـه سنـجيـدګـۍ سره اووې ,, خصوصي تـوجـه
ورکـړئ ــ د هـغـوي سره خـبـرې اوکـړئ ــ د
هـغـوي خـبـرو تـه اهـمـيت ورکـړئ ــ پـه وړه
وړه خـبـره ډېـر ډېـر شـابـاسے ورکـوئ ــ ډاډ
ورکـوئ ــ هـغـوي تـه بـيـا بـيـا دا احساس
ورکـړئ چې تـاسو قـابـل يـئ او پـه دغـه
حـوالـه ورسره وخت پـه وخت خـپـل مـشفـقـانـه
تـوقـعـات هم شئـيـر کـوئ ــ نـو تـاسو بـه
ګـورئ چې هـغـوي ورو ورو روانـيـږي ، پـل
اخـلـي ــ مـيـنـه مـرهـم دے مـس انـيـلـه ! د هـر
مـرض عـلاج دے پـکـښې ــ ډاډګـيـرنـه او
شـابـاسے د يـو عـام سړي نـه سالار او
سرخېل جـوړوي ،،
,, يـس سر ! دا حقـيـقـت دے ،،
,, زمـونـږ مـعـاشره ډېـره پـيـچـيـده ده ،،
ودود صېب اووې ,, او ددغـه پـيـچـيـدګـيـو
او نـاهـمواريـو د بـدو اثـراتـو نـه زمـونـږ
مـاشـومـان هـم بـچ نـهٔ پـاتـې کـيـږي ــ د دوئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپـیـن سپـېځـلـي ذهـنـونـه چې دغـه تـضـادات او د انـسـانـي فـطـرت سره مـتـصـادم خـبـرې ویـنـي ، ګـوري او مـحسوسـوي نـو لازم بـه د بـې چینـۍ او بـې قـرارۍ سره مخ کـیـږي کـه زمـا پـه وس کـښې وې نـو مـا بـه پـه سکـولـونـو کـښې سـائـیـــکـاټـس هـــــم تـعـیـنـات کـــړي وې ـ دا ګـلـونـه ډېـر پـه بـې دردۍ سره پـامـال کـیـږي ـ او د چـا سره هـډو فـکـر نـشـتـه ،،

د ودود صېب لـهـجـه قـدرې تـرخـه شـوه ,, بـهـر حـال ـ ـ ـ ـ ! دغـه ټـولـې ذمـه وارۍ بـه مـونـږ اخـلـو ـ دغـه مـسـیـحـائـي بـه مـونـږ کـوو ـ بـلـه هېڅ لار نـشـتـه !! ،،

د فـریـد سکـول تـه د تـلـو نـن وړومـبـۍ ورځ وه ـ

,, ځـوان چـرتـه روان دې ؟ ،، د ودود صېب مـیـنـه ګـویـا شـوه

,,د چـرتـه چې بـابـا جـان روان دې ،، فـریـد بـلا تـوقـف جـواب ورکـړو سکـیـنـې د سکـول بـیـګ اوږو تـه ور واچـولـو او پـه تـنـدي ئـې ښکـل کـړو ـ ,, سکـول کـښې چې څـۀ زده کـوې هـغـه بـه کـور کـښې مـاتـه هـم ښـائـې ،،

,, زۀ بـه دې اسـتـاذ شـم ! ،، فـریـد خـپـل واړه واړۀ لاسـونـه د مـور د غـاړې نـه تـاؤ کـړل ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

,, او ،، سکـیـنـې خـپـل زوئـے بـیـا ښکـل کـړو
,, زمـا بـچـے بـه زمـا اسـتـاذ شي ــ ــ ــ
زمـا بـچـے هـوښـیـار دومـره دے ،،
ودود صېب بـه وار پـه وار یـو یـو کـلاس د
ټـولـو سره اخسـتـو ــ پـرائـمـري سیـکـشـن کـښې
خـو بـه د مـاشـومـانـو سره خـپـلـه هـم مـاشـوم
شـو ــ ټـول مـاشـومـان بـه د خـپـل پـرنـسـپـل
صېب دغـه کـلاس تـه ډېـر زیـات خـوشحالـیـدل ــ
د یـوې وړې غـونـډې ښـائـسـتـه ښـائـسـتـه
مـاشـومـې نـه ودود صېب
تـپـوس اوکـړو ,, سـتـا څۀ نـوم دے بـچـے ؟
،،
,, جي پـلـوشـه ،،
,, جي پـلـوشـه ــ ــ ــ کـه صرف پـلـوشـه ،،
,, نـه جي پـلـوشـه ،، د مـاشـومـې پـه مـخ
خـنـدا خـوره شـوه ــ
,, ښه ــ اوس د جي پـلـوشـه نـه ، نـه جي
پـلـوشـه شـوه ،،
ټـول مـاشـومـان پـه خـنـدا شـول ، پـلـوشې هـم
خـنـدل ــ
,, ښۀ ، پـلـوشـه بـچـے بـه مـې څۀ جـوړیـږي
چې سبـق اوو ائـي؟ ،،
,, جي زۀ بـه ډاکـټـره جـوړیـږم ،، مـاشـومـې
زړۀ ور زړۀ ور اووې
,, بـالـکـل ،، ودود صېب د شـفـقـت نـه ډکـه
لـهـجـه کـښې اووې ــ
,, پـلـوشـه بـچـے خـو بـه مـې خـامـخـا ډاکـټـره
جـوړیـږي ــ کـښیـنـه بـچـے،،
,, د رنـا خـوب بـه تـعـبـیـر
تـه رسـومـه ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ ډيـوه يم تـورتـمونـه
ختـمـومـه
،، د مـيـنـې سـنـدره ،، فـريـد پـه اول ځل د
ودود صېب نـه پـه سبـاؤن سکـول کـښې
واوريـده او دومـره ئـې خـوښـه شـوه چـې هـر
مـاسخـوتـن بـه ئـې د ودود صېب نـه ،، د
مـيـنـې سـنـدره ،، د اوريـدو فـرمـائـش کـولـو
چـې ودود صېب بـه خـامـخـا پـوره کـولـو ــ
وخت تـيـرېـدو ــ ــ ــ ــ

ځۀ نـا ځۀ خـو راپـېـښه شي ــ ژونـد دے ،
بـې تـغـيّـر ئـې کـلـه کـيـږي ــ دا دوه کسان د
ريـحـان آبـاد نـه راغـلي وو ــ د سرور خـان
پـېـغـام ئـې
راؤړے ؤ ــ مـکـرم او تـاريـخ ګـل ــ
تـاريـخ ګـل اووې ،، ودود جـانـه ! سرور
خـان سـتـاسو د ريـحـان آبـاد ټـولـه زمـکـه پـه
بـيـعـه اخسـتـل غـواړي ــ مـونـږ پـه دغـه
سلـسلـه کـښې راغـلي يُـو ،،
ودود صېب مُـسک شـو ، پـه مـتـانـت سره ئـې
اووې ،، فـى الـحـال زمـا ځۀ اراده خـو
نـشتـه د زمـکـې د خـرڅـولـو ــ مـا ئـې ځۀ
ضرورت نـۀ دے مـحـسوس کـړے ،،
،، او ، خـو سرور خـان تـه ئـې ضرورت دے
،، تـاريـخ ګـل پـه کـلـکـو سـتـرګـو اووې ــ
ودود صېب اوخـنـدل ،، سرور خـان تـه خـو
خـدائـے ټـول ريـحـان آبـاد ورکـړے دے ــ د
هغۀ پـه مـلـکـيـت کـښې خـو زمـا پـولـې پـټـې
ښکـاري هم نـه ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ښکاري ودود جانه ،، تاريخ ګل لېږ
شان په بدله لهجه کښې اووې ، کېدے شي
حکم ؤ ورته چې په څۀ لهجه کښې
خبرې کول دي ,, سرور خان وائي چې د
هغوي په زمکه کښې ستاسو پولې پټې د
پېوند په شان ښکاري ،،
د ودود صېب په مخ باندې د يوې لحظې
دپاره د ناګوارۍ سېورے تېر شو ,,
تاسو د ريحان آباد يئ ؟ ،، ودود صېب
په هواره لهجه کښې تپوس اوکړو ـ
,, او ،،
,, د شپېتۀ فى صد نه زياته علاقه په
ريحان آباد کښې د سرور
خان ده ـ د ريحان آباد د خلقو سره خو
اوس تقريباً تقريباً چې صرف خپل کورونه
پاتې شوي دي ـ زمکې خو ترې په مختلفو
حيلو بهانو او يا په جبر او زور سرور
خان تر لاسه کړې دي ـ ډېر کم خلق دي
چې خپلې زمکې ئې سمبال ساتلې دي ـ ـ
ـ تاريخ ګله ! سبا که سرور خان
اووائي چې د هغه په سلطنت کښې دا د
ختو لوټو کورونه بد او بدرنګ ښکاري
نو بيا به تاسو څۀ کوئ؟ ،،
,, ښۀ به وي چې مونږ د کار خبره
اوکړو ،، مکرم شونډې پرانستې ـ
,, په څنګل چې اور اولګي مکرم خانه
،، ودود صېب د مکرم په سترګو کښې
اوکتل ,, نو د هغې مړ کول ډېر ضروري
وي ګني يو شے هم سلامت نۀ پرېږدي ، هر
څۀ اوسوځوي ، د يوې ونې پسې بله ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



، په یو بوټي پسې بل بوټے ، په هغو کښې د مارغانو جالې ، په جالو کښې د مارغانو بچي ، شینکے ، د ژوند او ښائست احساس ورکوونکې تازګي ـ ـ ـ ـ ـ ،، ودود صېب د یوې شیبې د خاموشئ نه پس بیا ګویا شو ـ ,, د هر ظلم ، هر زیاتي مخ نیوے په ابتدا کښې ډېر په اسانه کیږي خو که په اول کښې اونۀ شي نو د هغې دا مطلب هر ګز نۀ وي چې سترګې دې تړې پټې کړے شي ـ ټیک ده زۀ که ستاسو خبره او هم منم ، زما خو دلته هم ځائے ځیګه ، پوله پټے شته ـ دا اور سبـــــــا کـــــه نـــور ، ستاسو پـــه لمن پورې شو ـ تاسو به څۀ کوئ؟ تاسو خو خپل ځانونه خپله کمزوري کوئ ! ،،

,, ودود جانه ! سرور خان زمونږ نه ستا ,,او ،، یا ,, نا ،، غوښتي دي ،،

,, اوه ،، ودود صېب اوخندل ـ ودود صېب د معاملې نازکئ ته رسیدو ـ ـ ـ هغۀ دا وخت خبره ځنډول غوښته ـ په سنجیدګئ سره ئې پرې سوچ کولو ـ د اشتعال وخت نۀ ؤ ـ یوه اوږده ساه ئې راښکه ,, ښۀ ده زۀ به پرې سوچ اوکړم ـ څۀ داسې د تادئ خبره خو هسې نه ده ، نۀ سرور خان چرته تلے دے او نۀ زۀ ،، ودود صېب ته د سرور خان سوچ معلوم ؤ ـ د لږ سوچ کولو نه پس ئې اووې ,, او یا به داسې اوکړو ، د نیمې زمکې سودا به د سرور خان سره اوکړم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـيمـه بـه زمـا سره پـاتـې شي ، زمـا د مـودې نـه خـواهش دے چې هـلـتـه سکول او کـالـج جوړ کـړم ــ نـو کـه داسې وي نـو راځـئ بـسم الله ،،
,, ښـۀ ده مـونـږ بـه سرور خـان تـه ستـاسو خبـره اورسوؤ ،،
تـاريـخ ګـل او مـکرم پـاسيـدل ــ
ودود صېب تـه پـتـه وه چې د نـيمـې زمـکې پـه اخستـو خـو سرور خـان رضا کـيږي نـه او بـيـا چې لا پـاتـې ځـائـے کښې د سکول او کـالـج د جوړيـدو شرط هم وي نـو بـيـا خـو خبـره تـقـريـبـاً چې نـامـمکنـه ده ــ ودود صېب دا خبـره د ځۀ مـودې دپـاره ځـنـډول غوښتـلـه ــ خـو څـنـګـه ؟ پـه دې هـډو نـۀ رسيـدو ــ
مـاښام هم د عـادت نـه خلاف غلـے او پـريـشانـه ؤ ــ
سکيـنـې تـرې تـپـوس اوکـړو ,, تـاسو نـن پـريـشان غونـدې يـئ ، خېـر خـو دے ؟ ،،
,, خېـر دے سکيـنـې ــ ــ ــ ــ هغـه سرور خـان سړي رالـيـږلـي وو د ريـحـان آبـاد نـه ــ ــ ــ سرور خـان زمـونـږ د هـلـتـه زمـکـه پـه بـيـعـه اخستـل غواړي ،،
,, الله دې خېـر اوکـړي ــ نـو دا دومـره لـويـه خبـره ده چې تـاسو روتـۍ هم سمـه اونـۀ خوړه ؟ تـاسو هم کـنـه ــ ــ ــ کـلـه کـلـه خـو د مـاشومـانـو پـه شان ووړو ووړو خبـر تـه پـريـشان شئ ــ ستـاسو خپـل جـائـيـداد دے، ستـاسو خپـلـه خوښه ده ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, سکينې ! تۀ دې خبرې ته نۀ رسې ـ دا وړه خبره نه ده ـ د هغې زمکې حفاظت کول ډېر زيات ضروري دے ،،
سکينې هېڅ اونۀ وې ، په سواليه انداز ودود صېب ته ځيره وه ,, داسې څوک ګورم چې د هغې زمکې کرل ريبل سمبال کړي ـ هغوي ته به هم ترې منافع وي او زمکه به هم ـ ـ ـ ـ ـ ځه الله دې خير اوکړي ـ اوبه شي ـ ـ ـ فريد څۀ شو ؟ فريده بچے ! ،،

O

نن د اتوار ورځ وه ـ ودود صېب سحر سحر د فريد سره د ګپ شپ تياري کړې وه ـ ودود صېب خپل لاسونه شاته نيولي وو ـ
,, زمـــا هـــوښيار بچے بـــه اووائي چې زمـــا پـــه لاسونو کښې څۀ دي؟،، ودود صېب د فريد نه تپوس اوکړو ـ
,, هم م م م ـ ـ ـ ـ ،، فريد لږ شان سوچ اوکړو ، بيا ئې په نفي کښې سر اوخوځولو ,, نه بابا جان ـ ـ ـ نۀ شم وئيلے !،،
,, هيپي برتهـ ډے ټو يُو ـ ـ ـ هيپي برتهـ ډے ټو يُو ،، ودود صېب په خندا خندا کښې اووې او خپل لاس ئې را وړاندې کړوـ يو ښکلے پين د شيشې په کور کښې بند د وددود صېب د تلي دپاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــروت ؤ ـ د فـــــريـــــد پـه ښکلي ښکلي مخ بـې اختيـاره خندا خوره شوه ـ

,, اوه بـابـا جان ـ ـ ـ ،،

,, هيـر وو درنـه کـنـه ،،

,, بـيخي رانـه هيـر وو ـ خـو تـاسو تـه يـاد وو ،،

,, لـه مـا بـه څنګه هيـريـږي ـ ـ ـ دا نـېټـه خـو زمـا د بـچي د پـېدائـش نـېټـه ده ،،

,, پيـن ډېـر ښکلے دے بـابـا جـان ـ تـهيـنک يُـو ،، فـريـد پـيـن لاس کـښې واړولـو را واړولـو ـ

,, قـلـم د ښکلا علامـت وي د بـابـا ځـانـه ! دا د ښکلـو خلقـو خـوښېږي ،،

,, بـابـا جـانـه ! تـاسو تـه دغه نـېټـه څنګه يـاده پـاتـې کيږي ؟ روغ کـال ئـې پـه مـېنځ کـښې تـېر شي ،،

ودود صېب ورتـه ډېـر پـه مـيـنـه مُسکے شو ,, تـهٔ د يـو جـنـج تـصـور اوکـړه ، ډېـر خلق ، ګـڼ شمـېر خلق ، بـيـا پـه هغ جـنـج کـښې ، هغه ډېـرو خلقـو کـښې د وادهٔ د ژنـې تـصـور اوکـړه ـ پـه ټـولـو کـښې مـمـتـاز ښکاري کـه نـه ؟ د نـظرونـو مـرکـز وي او کـه نـه ؟ ،،

فـريـد بـې اختيـاره اوخـنـدل ,, او بـابـا جـانـه ! زهٔ ستـاسو پـه خـبـره پـوئـې شـوم ،،

,, هم م ـ ـ ـ ،، ودود صېب پـه مـيـنـه نـاکـه لـهجـه کـښې بـيـا ګـويـا شو ـ ـ ـ ,, نـو دغسې د ټـول کـال پـه ډېـرو او ګـڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر تاریخونو کښې ستا د زیږېدنې تاریخ زما په ذهن کښې ځلاند او نمایان وي ،،
فرید به د ودود صېب خبرې ډېرې په غور سره اورېدې ، ذهین هم ډېر ؤ ، د ودود صېب سره ئې ګپونه شپونه ډېر وو نو د خبرو انداز ئې هم خوږ او برجسته ؤ ـ یو ساعت ته غلے ؤ ، غلے ؤ بیا ئې اووې ,, بابا جانه ! ستاسو د پېدائش نېټه څۀ ده؟،،
,, اوه ،، ودود صېب سر اوخوځولو ,, بدل رانه اخلې ؟ ،،
,, د پښتو وطن دے بابا جانه ! ،،
او ودود صېب د فرید په دې خبره ښۀ اوخندل ـ ,, ښۀ ده یار خو زما Date of Birth هم څۀ عجیبه غوندې دے ـ کلونه کلونه خو ئې پته هم نۀ لګي ،،
فرید په سوالیه انداز د ودود صېب طرف ته کتل
,, ۲۹ فروري ،، ودود صېب اووې او د فرید په مخ د حېرانتیا او خوشحالۍ شریک تاثر بې اختیاره خور شو ـ ,, اوه بابا جان څومره Unique ډېټ دے،،
ودود صېب مسکے شو ـ فرید د ودود صېب د غاړې نه لاسونه تاؤ کړل او ښکل ئې کړو ,, ستاسو په شان ،،
,, اوس تۀ هر کال ماته خو نۀ شې وِش کولے ،، ودد صېب مسکا کښې اووې ,, بدل خو دې پاتې شو ،،
,, او دا خو ده ! ،، فرید خندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودود صېب اووې ,, دغه ورځ نمانځل څۀ فـرض نـۀ وي بـچـے ، څـنګـه چې خلقـو تـرې رسم او روايـت جوړ کړے دے ـ اصل مقصد دا دے چې مونږ هغه ټولې لوئـې وړې خبرې يـادې اوساتـو او د يـو بـل سره ئـې اظهـار اوکړو ـ پـه کـومـو چې زړونـو تـه د خـوشحـالـۍ احساس کـيـږي ـ دغه وړې وړې خبـرې ، پـېـرزوئـنـې او د يـو بـل احساس د مـيـنـې سلسلې تـه دوام ورکـوي او د زړونـو آلا ئـشونـه ويـنځي ،،

,, تـهـيـنـک يُـو بـابـا جانـه ! ،، فـريـد ډېـر پـه مـيـنـه اووې

ودود صېب فـريـد پـه زړۀ پـورې جوخت کړو ـ

o

د ودود صېب سره احساس ؤ چې د ريـحـان آبـاد د زمـکـو نـه غـافـل نـۀ دي پـاتـې کـېدل پـکـار ـ ګـو چې د سمـبـالـښت دپـاره ئـې پـرې کسان اچـولـې وو خـو د ريـحـان آبـاد د طرف نـه ئـې خپـلـه غېر حـاضري محسوسولـه ـ

,, د ګـرمـۍ چـهـټـيـانـو کښې بـه ريـحـان آبـاد تـه ځـو،، ودود صېب سکـيـنـې تـه اووې نـو سکـيـنـه هم ډېـره خـوشحـالـه شـوه ـ ,, ښۀ ده کـنـه ـ تـاسـو خـو مـوده اوشوه بـيـخي شـا کـړې ده ورتـه ـ مـوربـې بـې خـو بـه وخت پـه وخت خـامـخـا تـلـه ،،

,, ښۀ وائـې ـ ـ ـ خـو د سکـول ذمـه وارۍ هم ډېـرې دي کـنـه ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, سکول خو اوس ډېر ښۀ روان دے ـ
ستاسو ستاف هم ډېر تکړه دے اوس خو
تاسو لږه ډېره دمه هم کولے شئ ،،
ودود صېب مُسکے شو ,, په دغه حواله چې
ماته کار او محنت ځومره دمه او سکون
راکوي زۀ ئې درته نۀ شم بيانولے ـ لا
خو مونږ بيخي په آغاز کښې يو سکينې !
لا ډېر زيات مزل پروت دے ـ ډيوه بلول
ـ ـ ـ د ډيوې نه ډيوه بلول ـ د رڼا
په لور سفر ـ مسلسل سفر ،، د ودود
صېب لهجه خوبولې شوه ـ
سکينې اوخندل ,, خدائے به ستاسو
ارمان پوره کړي ـ فکرجن کيږئ مه ـ
اوس خو دادے فريد هم کلک شو ـ ټولې
خبرې ستاسو په شان کوي ـ وخت خو د
باد په اوږو سور دے ـ ـ ـ زلمے دے که
خېر وي ،،
,, تيارې ډېرې زياتې دي سکينې ـ کار
مسلسل پروت دے ،،
,, د ډيوې نه بۀ ډيوه بليږي کنه بابا
جانه ؟ ،، فريد عين د ودود صېب په
انداز کښې اووې نو سکينې او ودود صېب
دواړو اوخندل ـ ودود صېب په خوشګواره
لهجه کښې اووې ,,او ، د زړۀ سره ! د
ډيوې نه به ډيوه بليږي کــه خېر وي ـ
خامخا
به بلېږي ،،
,, بابا جانه ! نن تاسو ته د مينې
سندره زه اوروم ،، فريد اووې ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ډاډ راکوي ؟ ،، ودود صېب فريد ته په مينه اوکتل ,, ښۀ ده کنه ، اووايه بچے ،،
سکينې خو خپل بچي ته داسې په مينه کتل چې اوس ترې ځاريږي او که اوس ترې ځاريږي –

o

دا د ودود صېب د نيا نيکۀ کور ؤ – سکينې خو لکه د سترګو په رپ کښې د ټول کور صفائي اوکړه – يو يو څيز ئې په سليقې سره کيښودو – په ريحان آباد کښې د فريد ملګرتيا د ټولو نه اول د وفا سره جوړه شوه – وفا د فريد همزولې وه – کور ئې د هغوي د کور نه په لږه فاصله کښې ؤ – وفا د خپل مور پلار يکي يوه لُور وه ، پلار به ئې ټوله ورځ د ختټو لُوټو مزدوري کوله – پلار به ئې زيات محنت کولو ، د هغۀ ډېر خواهش ؤ چې وفا سبق اووائي ، وفا به د ريحان آباد يو ورکوټي غونډې مات جوړ سرکاري سکول ته تله – د هغې سره په دغه ماشوم عمر کښې هم د خپل مور پلار د محرومو او ارمانونو ډېر زيات احساس ؤ – هغه ډېره قابله وه – په ريحان آباد کښې د فريد وړومبۍ نالګي د شفيقې سره اوشوه – شفيقے فطرتاً جهګړ مار غونډې هلک ؤ – د فريد د اول ورځې نه خوښ نۀ شو–

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

,, وفـا تـهٔ ځـويـم کـښې ئـې ,, فـريـد د وفـا نـه تـپـوس اوکـړو ـ
,, ځـلـورم کـښې ،، وفـا اووې
,, زهٔ هـم ځـلـورم کـښې يـم ،،
,, اوس بـه دلـتـه سبق وائـي ؟ ،،
,, نـه ، مـونـږ خو خـالـي د ګـرمـۍ چـهـټـيـانـو کـښې دلـتـه راغـلـي يُـو بـيـا بـه ځُـو ،،
,, هـوم ورک بـه دلـتـه کـوې ؟ ،،
,, او کـتـابـونـه ، کـاپـۍ مـې راوړې دي ،،
,, ستـاسـو د کـلـي څـهٔ نـامـه ده ؟ ،،
,, ګـل کـلـے ،،
,, ستـاسـو کـوم کـور دے ؟ ،، فـريـد تـرې تـپـوس اوکـړو ـ
,, هغـه مـخـامـخ ـ ـ ـ شـيـن ګـيـټ ئـې چـې دے ،،
,, زمـونـږ هغـه کـور دے د سپـيـنـې دروازې والا ،،
,, تـهٔ هـوم ورک کـوې ؟ ،، فـريـد تـپـوس اوکـړو
,, زهٔ خو روزانـه هـوم ورک کـوم ،،
,, زهٔ بـه هم درځـم ،،
,, راځـه کـنـه ،،
د فـريـد سره د وفـا مـور ډيـره مـيـنـه اوکـړه ـ پـه تـنـدي ئـې ښکل کـړو ـ دعـــاګـانـې ئـې ورتـــه اوکـــړې ,, ستـا خـپـل کـور دے بـچـے ، زړهٔ ور راځـه ـ ـ ـ د وفـا سره سبق وايـه ،،
عفـت د کـور پـه کـار پـورې مـصروفـه شـوه او فـريـد او وفـا خـپـل کـاپـۍ کـتـابـونـه راواخستل ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥

د دواړو ماشومانو سره به د کولو
دپاره د جهان خبرې وې ـ وفا به اکثر
حیرانــــه شــوه ـ ,, فریده ! تاته دې
دا ټولې خبرې بابا جان
ښائي ؟ ،،
,, او ـ ـ ـ ماته مې بابا جان هره
ورځ نوې نوې خبرې ښائي ـ ماته ډېر
خوند راکوي ،،
,, او د مینې سندره هم ـ هره ورځ ؟
،،
,, هره ورځ ،،
د وفا په سترګو کښې د محرومۍ سیوري
لاړل راغلل ـ
,, تهٔ هم راځه کنه ،، فرید ورته اووې
,, زما بابا جان ډېر ښهٔ دے ،،
,, ما مې مور منع کوي ،، وفا په قلاره
اووې ,, وائي چې د چا کورونو ته مهٔ
ځه ،،
,, واه ،، فرید برند شو ,, او دا زهٔ
چې ستاسو کور ته درځم،،
,, تهٔ خو هلک ئې ، مور مې وائي چې
جینکۍ بدې ښکاري،،
,, هسې بدې ښکاري ـ ـ ـ ـ ،، فرید
هم هغسې په نیغه لهجه کښې اووې ,,
دغه مخامخ خو زمونږ کور دے ـ ځهٔ چې
ځو . زهٔ آپا جان ته خپله وایم ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, فـريـده ! ګـوره بـيـا بـه مـاتـه قـاريـږي ،،

,, هسې بـه قـاريـږي ـ ـ ـ تـۀ هم ـ ـ ـ ـ ډارنـې ـ ـ ـ راځـه ،،

فـريـد روان شو او پـه ورۀ نـيـغ ورنـنـوتـو ـ وفـا ئـې شاتـه وه

,, آپـا جـان ،،

,, وئ دا خـو مـې فـريـد بـچـے راغـے ـ راځـه بـچـے ,, عفت ورتـه پـه مـيـنـه اووې ،،

,, آپـا جـان ! تـاسو وفـا زمـونـږ كـور تـه ولـې نـۀ راپـريـږدئ ،،

,, نـه بـچـے ! مـا خـو نـۀ ده مـنـع كـړې ،،

,, دا خـو وائـي چې مـاتـه مـې مـور وائـي چې د چـا كـورونـو تـه مـۀ ځـه،،

عفـت پـه خـنـدا شوه ,, خـو تـۀ خـو زمـا خـپـل بـچـے ئـې ـ ـ ـ تـۀ خـو مـې ورتـه نـۀ ئـې يـاد كـړے چې دومـره غـصه ئـې ،،

,, نـو وفـادې راځـي آپـا جـان ؟ مـونـږ بـه د بـابـا جـان نـه سبق زده كـوو،، فـريـد خـوشحـال شو ـ

,, بـالـكـل دې ځـي بـچـے خـو هـوم ورک دلـتـه كـوئ ،،

,, ټـيـک ده آپـا جـان ،،

دواړه مـاشومـان بـهـر را اووتـل ـ وفـا فـريـد تـه داسې پـه عجـيـبـه سترګـو اوكـتـل ـ

,, ښۀ ده مـور مـې قـــــــار نـۀ شوه ـ څومـره كـم عقـل ئـې،،

,, عقـل دې سـتـا اومـبـارک شي ـ زۀ كـم عقـل ښۀ يـم ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــږ ساعت پس بـیـا دواړو د دنـیـا جهـان خبـرې کـولـې ـ

O

,, بـابـا جانـه ! سبـا بـه وفـا هم زمـا سره راځي ، مـا ورتـه ستـاسو نـه وئـيل دي ،، فـريـد د کـاپـۍ پـه لـيکلـو لـيکلـو کښې اووې ـ
,, ښۀ ده کـنـه د بـابـا ځـانـه ! خـامخـا دې راځي ،،
,, دا جيـنـۍ خوچې زۀ هم اوګـورم چې تـۀ پـرې دومـره مـئـين ئـې ،،
سکيـنـې پـه مـيـنـه اووې ,, کـه خوښه مـې شوه نـو ـ ـ ـ ـ ـ ـ ،،
,, بـابـا جانـه ! ،، فـريـد پـه ګـيلـه من انـداز ودود صېب تـه اوکـتـل ـ
,, سکيـنـې ! د مـاشومـانـو سره پـه خيـال خبـرې کـيـږي ،، ودود صېب د فـريـد د ګـيـلـې جـواب اوکـړو ـ
,, بـابـا جانـه ! هغـوي ډيـر غريـبـانـان دي ـ خو وفـا ډيـره قـابـلـه ده ـ هغـه پـورې سکـول کـښې سبق وائـي ـ هغـه هم څـلـورم کـښې ده ،،
,, علـم د چـا مـيـراث نـۀ دے بـچـے ـ هر څـوک ئـې حـاصلـولـے شي او پـکـار ده چې ددې د ضرورت احساس د هر چـا سره وي ـ دا يـوه ډيـره لـويـه او اهمـه فـريـضه ده ،،
بـلـه ورځ فـريـد او وفـا دواړه د ودود صېب خبـرو تـه غوږ نـاست وو ـ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکینې خــــو دغــــــــه ښــــکلې ښــــکلې شان مـــــاشومــــه دومره خوښه شوه چې ځاریده ترې ــ

,, او هن ! ،، ودود صیب وفا ته ډیرپه مینه او شفقت سره اووې ,, ته هم ما ته بابا جان وایه ،،

,, ښه جي ! ،،

,, ښۀ جي نه ـ ـ ـ ښۀ بابا جان ،،

,, ښۀ بابا جان ،، د وفا په مخ مُسکا خوره شوه ــ

د ودود صیب او سکینې د بې کچه مینې سره خو د وفا زړۀ دومره لوئې شو چې د اظهار نه بهر ، هغې غریبې دومره مینه چرته لیدلې وه ــ پلار به ئې ټوله ورځ په مزدورۍ تېره کړه او چې د ماښام به کور ته راغے نو ستړے ستومانه به ؤ ، روټۍ به ئې اوخوړه او اکثر به اودۀ هم زر شو ــ مور به ئې ورسره خپله برخه ځار قربان کول خو دلته خو څۀ بل جهان ؤ ــ دلته خو وفا د ټولو د سترګو داسې تور شوه چې که چرې یوه ورځ به رانغله نو سکینه به ورپسې پخپله تپوس ته لاړه ــ

د مینې د سندرې د اوریدو وخت هم اوس بدل شو ــ اوس په اوریدونکو کښې وفا هم شامله وه ، ودود صیب به ورسره د کورس کتابونه هم ډسکس کول او ورسره به د هغوي په نورو ډیرو خبرو کښې هم شامل ؤ ــ د مینې د سندرې د اوریدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـرمـائـش بـه د بـابـا جان نـه اوس د فـریـد نـه علاوه وفـا هم کـولـو ـ

,, د اغیـارو لـمسون نـۀ مـنم
هـوښیـار یـم
زۀ د خـپـل چـاپـېرچـل تـل
نـوے سیـنـګـار یـم
د ژونـد هـر یـو امـتـحـان
لـره تـیـار یـم ،،
زۀ هـېـڅ کـلـه غـافـل نـۀ یـمـه
بـېـدار یـم
مـورې! ستـا د الاهـو پـت
بـه پـالـمـه
زۀ ډیـوه یـم تـورتـمـونـه
ختـمـومـه

دواړه مـاشومـان د مـیـنـې سنـدرې تـه غـوږ غـوږ وو ـ د دوئـي د کـورونـو سره نـیـزدې ورکـوټـے غونـدې مـېـدان د دوئـي د لـوبـو د کـولـو ځـائـے ؤ ـ د ګـڼ شمـېـر مـاشومـانـو مـشغـولا بـه اکـثـر د شفـیـقـي د لاسه ورانـیـده څـۀ نـا څـۀ لانـجـه خو بـه ئـې جـوړه کـړه ـ جـهـګـړه بـه ئـې ډیـره پـه شوق کـولـه د خپـلـو ټـولـو هـمـزولـو مـاشومـانـو سره بـه نـیـغـیـدو ـ لـسـتـوڼـي بـه ئـې بـره کـړل او بـبـر بـه شو ـ

,, راځـه کـنـه کـه دومـره تـکـړه ئـې ،، انـداز ئـې ټـول د لـوفـرانـو ؤ ، ګـو چې مـاشوم ؤ ـ

فـریـد بـه ورتـه اکـثـر اووې ,, شفـیـقـه ! تـۀ د هـر چـا سره جـهـګـړې ولـې کـوې ؟ ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, څه ، څه ،، هغۀ به داسې په فلمي انداز کښې لاس پورته کړو ,, خپل کار کوه ـ ـ ـ او زما نوم شفيقے دے ښه ـ شفيق نه ،،

,, خپل نوم په خپله ورانوي ،،

,, څه ، څه ـ ـ ـ تاته دې چې پلار دا کومې ښې ښې خبرې ښائي کنه ـ دا دې په جېب کښې واچوه ـ د بدمعاشانو نومونه وي هم داسې ,, شفيقے به داسې په سينه کښې ډډ شو ـ

حال دا شو چې شفيقے به ؤ نو فريد به د خپلو همزولو ماشومانو سره نۀ لوبيدو ـ يو اړخ ته به کښېناستو ـ وفا به هم اکثر لوبه پرېښوده ـ شفيقي به په فخر سره وې ,, زما پلار خو ما ته پخپله سيګرټ راکوي ،، او داسې پيخه غوندې به ئې هم ورسره اوکړه ـ

,, واخله بچے اولګوه دم ،،

شفيقے نن بيا د وفا سره خخ ؤ ـ

,, ګوره شفيقيه ! ما تاته هېڅ نۀ دي وئيلي ښۀ ،، وفا به تېزه لهجه کښې اووې ـ

,, تۀ تګي کوې ،، شفيقے برند ؤ

,, ما کله تګي کړې ده ؟ ،،

,, کوې تګي ،،

فريد ئې مېنځ ته راغے ـ ,, پريږده شفيقيه ! يو خو تۀ په وړه وړه خبره لانجه جوړوې ،،

,, څه ، څه دا تۀ ډېر مُلا راغلے ئې ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, سمه دمه لـوبـه ستـا د لاسه ورانـه شي ،،
,, ښهٔ ده کـنـه چې ورانـيـږي ،،
فـريـد ، وفـا د لاس نـه اونـيـوه ـ ,, راځـه وفـا ! پـريـږده ئـې ،،
وفـا پـه جک تـرې نـه خـپـل لاس خلاص کـړو ـ
فـريـد حيـران حيـران ورتـه اوکـتـل ـ داسې کـچه غونـدې هم شو ـ
,, تـاتـه پـتـه نـشتـه چې هـلـکـان د جيـنـکـو لاسونـه نـهٔ نـيـسي ،،
وفـا اووې او د فـريـد د مخ رنـګ سور غونـدې شو ـ د خـپـلـو همزولـو پـه وړانـدې د وفـا پـه دې خـبـره د کـچـه کـېدو وجه وه ، غصه وه يـا کـه څـهٔ بـلـه داسې جذبـه چې فـريـد پـرې خـپـلـه هم نـهٔ پـوهـېدو ـ
شفـيـقـي پـه زوره زوره اوخـنـدل ـ
,, ښه راځـه ـ پـريـږده لـوبـې مـوبـې ـ هـوم ورک بـه اوکـړو ،،
وفـا پـه تـېـز نـظر سره د شفـيـقـي طرف تـه اوکـتـل او روانـه شوه ـ مـاشوم فـريـد تـه د وفـا دغه خـبـره ډېـره عجيـبـه غونـدې ښکـاريـدلې وه ـ
,, وفـا تـهٔ هم عجيـبـه ئـې ـ د ټـولـو پـه وړانـدې دې زهٔ دومـره کـچـه کـړم ،،
وفـا اووې ,, فـريـده ! مـور مې وائـي چې بـده خـبـره وي ـ هـلـکـان د جيـنـکـو لاسونـه نـهٔ نـيـسي ،،
,, مـا د هـلـتـه نـه را روانـولـې ـ شفـيـقـي درسره شر کـولـو ،، د فـريـد پـه لـهـجه کـښې اوس هم ، هم هغـه ګـيـلـه وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, خـو خبـرې خـو پـه خولـۀ کـيږي کـنـه ـ پـه پـښو لاسونـو نـه ،، وفـا فـريـد تـه اوکـتـل ـ
,, فـريـده ! د مـور پـلار خبـره مـنـلـو کـښې فـائـده وي تـۀ دې د بـابـا او مـور خبـرې نـۀ مـنـې ؟ ،،
,, زۀ خـو مـنـم ،،
,, زۀ هم مـنـم ـ داجي مـې وائـي چې د مـشـرانـو ټـولـې خبـرې د اولاد د فـائـدې دپـاره وي ،،
,, بـابـا جـان مـې هم وائـي ،،

o

د ديـارلـسو کـالـو دلاور خـان پـه ايـښې شـوۀ مـخـتـلـفـو نـخـښو بـانـدې صحيـح صحيـح ډزې کـولـې ـ سـرور خـان ډيـر پـه فـخـر سره د خـپـل زوئـے طرف تـه کـتـل ـ
,, مـالـګـيـنـه ! دلاور خـان يـوه نـخـښه هم خـطـا نـۀ کـړه ـ ګـورې ! ،،
مـالـګـيـن د خـوشـامـدۍ نـه د غـاښـونـو نـمـائـش اوکـړو ـ ,, بـالـکـل خـان! آخـر زوئـے د چـا دے ،،
,, هم ،، سـرور خـان پـه تـکـبـر سره سر اوخـوځـولـو ـ
,, خـان ! ،، مـالـګـيـن شـيـره شـيـره اووې
,, کـشر خـان ټـول سـتـاسو پـه پـل روان دے ـ خـدائـے ئـې د نـظـره مـۀ کـړه ،،
سـرور خـان پـه زوره اوخـنـدل ـ ,, لا خـو تـمـاشـه کـوه مـالـګـيـنـه ـ د دلاور خـان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـانـۍ خـو بـه خـلـق مـثـالـونـه ورکـوي ــ بـس دغـه تـعـلـیـم دې هـم سـر تـه اورسـوي ،،
,, کـشـر خـان تـه د تـعـلـیـم څـۀ ضـرورت دے خـان ــ هـر څـۀ خـدائـے ورکـړي دي ،،
سـرور خـان بـیـا یـوه لـویـه قـهـقـهـه اوکـړه
,, دنـیـا ډیـره لـویـه ده مـالـګـیـنـه ! یـو ریـحـان آبـاد خـو نـۀ دے ــ دلاور خـان بـه اسـمـبـلـۍ کـښې نـۀ کـښـیـنـي ؟ ،،
,, او خـان دا خـو ده ،،
,, خـانـي کـه دومـره اسـانـه وے نـو هـر لـلـو پـنـجـو بـه خـان وے ,,سـرور خـان پـه مـتـکـبـرانـه انـداز سـره اووې ,, زور غـواړي ، زور ــ ورشـه نـخـښې بـیـا سـمې کـړه ،،
دلاور خـان پـه بـلـه نـخـښـه شـسـت اخـسـتـو !

ودود صېب وار پـه وار د ریـحـان آبـاد د ټـولـو مـشـرانـو سـره لـیـدل کـتـل کـړي وو ــ هـغـۀ پـه قـلاره د هـغـوي پـه سـوچ ځـان پـوهـولـوــ ودود صېب چې دا اولـیـدل نـو کـافـي مـایـوسـه شـو چې د هـغـوي پـه زړونـو او ذهـنـونـو د سـرور خـان رُعـب او دهـشـت خـور دے او هـېڅ یـو کـس ښـکـاره خـبـره کـولـو تـه تـیـار نـۀ دے ــ هـغـوي غـېـر شـعـوري طـور د خـپـلـو حـقـونـو نـه دسـتـبـردار شـوي وو ــ ډېـر کـسـان داسې وو چې پـولـې پـټـي ئې سـرور خـان جـبـراً لانـدې کـړي وو ، نـۀ څـۀ بـیـعـه ، نـۀ قـیـمـت ــ بـس د خـپـلـې بـرخې نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئـې فـارغ کـړي وو خـو خـولـې ئـې بـيـا هم بـنـد وې او چا چې لـږه سـاه اخسـتـه ، بـچ خـو هـغـوي هم نـۀ وو پـاتـې خـو دومـره ضـرور شـوي وو چې سـرور خـان لـږې يـا ډېـرې پـيـسې ټـکې ورکـړې وې او پـه چـا کـښې چې عقـل او جرأت ؤ، د هـغـوي زمـکې سلامـت وې دا بـيـلـه چې سرور خـان بـه وخت پـه وخت پـه مـخـتـلـفـو حيـلـو بـهـانـو تـنـګول راتـنـګول ــ

پـه ريـحـان آبـاد کـښې د تـعـلـيـم سـهـولـتـونـه تـقـريـبـاً پـه نـشت وو ــ دا د ودود صېب دپـاره ډېـره د خـفـګـان خـبـره وه ــ هـغـۀ تـه ددې خبـرې ښـۀ ادراک ؤ چې د ظـلـم تـيـارې د تـعـلـيـم رڼـا تـه نـۀ تـېـنـګـيـږي ــ ودود صېب د کـلـي پـه لـويـه حجره کـښې د علاقـې د مـشـرانـو سره نـاست ؤ ــ زلـمـي هم نـاست وو ــ

,, لالا دا څـومـره د فـکـر خبـره ده چې د ريـحـان آبـاد خلق د تـعـلـيـم د حـاصلـولـو څـۀ خاص سـهـولـت نـۀ لـري ،، ودود صېب اووې

,,بس د خدايـه ده ــ څـۀ اوکـړو ،، يـو مـشر سطحي شـان اووې ــ انـداز ئـې د ځـان د خلاصولـو ؤ ــ

,, د خدايـه خوبـالـکل نـۀ ده لالا،، ودود صېب ورتـه پـه غـور اوکـتـل

,, زمـونـږ خـپـلـه بـې غـوري ده ــ زمـونـږ خـپـل غـفـلـت دے ــ زمـونـږ بـچـي پـه ټـپـو رالـوئـيـږي او مـونـږ ئـې هډو احساس نـۀ لـرو ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, د قسمت تقدیر خبره ده ،، یو بل مشر اووې ,, د چا په قسمت کښې ئې چې لیکلي وي هغوي به اووائي سبق ،،
,, ډېر ښۀ کاکا ،، ودود صېب په افسوس سره اوخندل ,, دنیا د سپوږمۍ نه هم مخکښې تېره شوه او ستاسو که په قسمت کښې وي نو ورخیژئ به که خیر وي ،،
,, تۀ د قسمت نه منکر ئې ؟ ،،
,, بالکل نه ،، ودود صېب په صفا لهجه کښې اووې ,, تاسو خپل ځانونه ولې غولوئ ــ زۀ د قسمت نه نۀ یم منکر خو تاسو د حکمت او محنت نه ضرور انکاري یئ ــ قرآن عظیم کښې دي چې الله پاک د چا د ذرې هومره حق تلفي هم نۀ کوي ــ تاسو اول خپل ځانونه حقدار خو ثابت کړئ ــ ایماندارانه کوشش خو اوکړئ ــ ــ ــ ــ ،، ودود صېب یو ساعت ته غلے شو ــ په ټولو ئې نظر واچوۀ ، د زلمو طرف ته ئې اوکتل او بیا ګویا شو ,,قرآن پاک عظیم الشان کښې دي ــ الله پاک فرمائي چې د چا سره د خپل حالت د بدلولو خیال نۀ وي ، څوک چې د خپل حالت د بدلولو دپاره کوشش نۀ کوي ــ د هغوي حالت نۀ بدلیږي ــ ستاسو خوښه ده ــ مونږ خو د پستۍ او زوال په لور روان یُو،،
,, د سرور خان چې نۀ وي خوښه نو دلته نۀ سکول جوړیدے شي او نۀ کالج ،، یو زلمي په اوچت اواز سره اووې نو ډېر مخونه ور واؤړیدل ــ یو مشر ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غصه کښې اووې ,, بې ادبه ! تاته
پته نشته چې مشران کله خبرې کوي نو
کشران غلي ناست وي ،،
ودود صېب مسکے شو ,, کاکا ! د مشرانو
خو هم فرض جوړيږي کنه چې خپلو کشرانو
ته د هغوي بنيادي حقونه اورسوي چې
پکښې يو تعليم هم دے ! ،،
کاکا هېڅ اونۀ وې ـ ودود صېب ترې
تپوس اوکړو ,, کاکا ! دا جوړ ستاسو
زوئے دے ؟ ،،
, او ،، کاکا لا اوس هم خپل سټېشن ته
نۀ ؤ راغلے ـ
,, سرور خان ته به په جرګه ورشو ،،
ودود صېب د ټولو طرف ته اوکتل ,,
ســـرور خان هم ددې علاقې مشر دے ستاسو
په شان
د هغوي خو زمونږ سره د مرستې حق
جوړيږي ،،
ودود صېب نورې ډېرې خبرې اوکړې خو
ويريدلي زړونه د خوزيدلو پوزيشن کښې
نۀ وو ـ
ودود صېب د ريحان آباد د خلقو حالت
ته فکر مند ؤ ـ

o

د ګرمۍ چهټيانې ښنګه تيرې شوې ـ فريد
او وفا خو هډو خبر نۀ شول ـ
,, مونږ به سبا نه بله ورځ کلي ته ځو
،، فريد اووې ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وفـا د مخ بـلا ډېـر رنـګونـه يـو دم تـت شول ـ داسې زړۀ نـيـولـي زړۀ نـيـولـي ئـې اووې ,, سبـا نـه بـلـه ورځ ؟ ،،

,, او ـ ـ ـ ـ ،،

وفـا پـه کـتـاب بـانـدې غېر ارادي طور خپـلـه ګـوتـه تـاوؤلـه راتـاوؤلـه

,, فـريـده ! تـه خـوشحال ئـې چې کـلـي تـه ځې ؟ ،،

,, خـوشحال يـم هم او نـه هم يـم ،،

,, دا خـو دوه خـبـرې دي ،،

,, او کـنـه ـ هم دوه خـبـرې دي ـ خپـل کـلـي تـه ځم او هـلـتـه بـه بـيـا سکول تـه ځم نـو خـوشحال يـم او خفـه ځـکـه يـم چې ستـا پـه شان ښۀ مـلـګـرے مې ځـوک هم نـشتـه ـ مـلـګـري مې ډېـر دي ، هغـوي هم ډېـر ښۀ دي خـو پـه تـا پسې مې د اوس نـه زړۀ خفـه دے ،،

,, بـابـا جـان څۀ وائـي فـريـده ! چې بـيـا بـه راځـو ؟ ،،

,, پـتـه نـشتـه ،، د فـريـد لـهجه داسې فـکـر مـنـده شان وه ,, خـو تـۀ هم راځـه کـنـه زمـونږ سره ـ هـلـتـه بـه سکـول وائـې دلـتـه خـو سکـول هم ټـول ړنـګ پـنـګ دے ،،

,, داسې چـرتـه کـېـدے شي ،،

,, ولـې نـه شي کـېـدے ؟ ،،

,, زۀ پـــه خپـلـه خـــوښه خـــو نـۀ شم تـلـے ـ داجي مې کـه راتـه اووائـي نـو ـ ـ ـ ،، وفـا داسې پـه سوچ سوچ کـښې اووې ,, خـو ګـرانـه ده ـ ګـل کـلـے ډېـر لـرې دے ! ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، څۀ لـرې دے ،، فـریـد اووې ،، نـیمـه ګـهـنټـه مـزل هم نـۀ دے ټـول ،،
دوارړه مـاشـومـان پـه یـو بـل پـسې خـفـه وو خـو دا یـوه داسې نـاګـزیـره مـرحـلـه وه چې بـنـد ئـې ورتـه نـۀ شـو وهـلے ـ ـ ـ
نـن د ودود صیب سره د دوارړو نـشست د نـور کـلـه پـه نـسبت ډیـر زیـات اوږد ؤ ـ
ودود صیب د هغـوې پـه جذبـاتـو پـوهېدو ـ
وفـا اووې ،، بـابـا جـانـه ! تـاسو بـه لاړ شئ او مـا بـه هیـره کـړئ ،،
ودود صیب ورتـه ډیـر پـه مـیـنـه او شفـقـت اوکـتـل ،، نـه نـه ـ ـ ـ زۀ بـه خـپـلـه وفـا لُـور هیـروم ؟ تـاتـه ښکـاري داسې ؟ ،،
ودود صیب د هغې پـه خفـګـان پـوهېدو ،، زمـا خـو بـه مې وفـا لُـور ډیـره یـادیـږي خـو کـه تـا مـونـږ هیـر کـړو نـو بـیـا ؟ ،،
د وفـا پـه مخ د یـقـیـن نـه ډکـه مُسکـا خـوره شـوه ـ څۀ ئـې اونـۀ وې خـو پـه هغـه مُسکـا کـښې داسې یـو چیـلـنـج غـونـدې ضرور ؤ ـ لـکـه د خـامـوشۍ پـه ژبـه ئـې وئـیـل چې ،، ګـورو چې څـوک بـه څـوک یـاد سـاتـي ،،
سکـیـنـې ښکـل کـړه ،، زمـا لُـور خـو زمـا د سـتـرګـو تـور ده ،،
،، تـاسو بـه بـیـا کـلـه راځئ ؟ ،، وفـا تـپـوس اوکـړو
،، د سکـولـونـو پـه ټـولـو چـهـټیـانـو کـښې بـه مـونـږ دلـتـه راځـو ـ ریـحـان آبـاد تـه ـ ټـیـک ده ،، ودود صیب ورتـه پـه مـیـنـه اووې ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ټـولـو چهـټـیـانـو کښې ؟،، د وفـا پـه مـخ د خـوشحـالـۍ رنـګـونـه اوغـوړیـدل
,, او ـــ ـــ ـــ ټـولـو چهـټـیـانـو کښې ،،
,, د اتـوار پـه ورځ خـو هـم چهـټـي وي ،،
وفـا جـوړ وریـاد کـړل او وضاحت ئـې تـرې اوغـوښتـو او ودود صیب بـې واره او بـې اختـیـاره اوخـندل ,, زمـا ځُـور ډیـره هـوښیـاره ده ـــ هـم م م م ـــ ـــ ـــ ـــ ځـه ښـۀ ده د اتـوار پـه ورځ بـه هـم راځـو خـو د کـلـه کـلـه غـیـر حـاضـرۍ بـه راتـه پـکښې بـخښنـه وي ,, ـــ ـــ ـــ ـــ ټـیـک ده ؟ ،،
,, ټـیـک ده ،، وفـا خـوشحـالـه شـوه ـــ
,, بـابـا جـانـه ! وفـا دې هـم زمـونـږ سره لاړه شي کـنـه ، هـلـتـه بـه سبـق وائـي ،،
,, خـبـره خـو ښـۀ ده ،، ودود صیب د وفـا طرف تـه اوکـتـل ـــ د هـغـې پـه سـتـرګـو کـښې هـم د تـلـو خـواهش ځـلـیـدو ـــ
,, زۀ بـه د ارسلا جـان سره اوګـورم ،،
وفـا او فـریـد یـو بـل تـه اوکـتـل ـــ سـتـرګـې ئـې لـکـه د ډیـوۀ اوځـلـیـدې ـــ مـاښام ودود صیب د وفـا د پـلار سره اوکـتـل ـــ
,, ارسلا جـانـه ! پـه دې درې مـیـاشتـو کـښې مـونـږ د وفـا د مـیـنـې دومـره امـوختـه شو چې اوس روان یُـو نـو داسې راتـه مـحسوسیـږي لـکـه چې دلـتـه رانـه خـپـلـه سکـه ځُـور پـاتـې کـیـږي ـــ سکـیـنـه هـم ډیـره خفـه ده ـــ خـبـره څـۀ عجـیـبـه غـونـدې ده خـو دا مـیـنـه هـم څـۀ ډیـر عجـیـبـه شـے دے کـه سـتـاسـو خـوښه وي نـو زمـونـږ سره راځـئ ـــ کـورونـه زمـونـږ دوه دي ، هـیـڅ تـکـلـیـف نـشتـه ـــ څـۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي بس يو کور مې د وفا لُور شو ـ د سبق وئيـــلـــــو اساني به هم ورته ډېره وي ، ستاسو د کار روزګار بندوبست به هم خدائے اوکړي،،

د ارسلا جان په مخ د ودود صېب د مينې او پېرزوئنې ردعمل په يوې ښکلې مُسکا کښې ځليدو ـ ,, ودود صېب ستاسو ډېره مننه ـ زۀ ستاسو اخلاص ته رسم ، زۀ ګورم په دې درې مياشتو کښې وفا ستاسو نه ډېر څۀ زده کړل ، زۀ پرې خوشحاله يم ـ د وفا تعليم هم زما رمان دے خو ـ ـ ـ ـ دا فېصله کول ماته ډېره ګرانه ده ،،

,, زۀ پوهېږم ،، ودود صېب اووې ,, تاسو ته چې کمه خبره ما اوکړه هغه ستاسو دپاره زما نن هم ده او سبا هم ده ـ وفا ډېره قابله ماشومه ده ـ د سبق خيال ئې خامخا اوساتئ ،،

,, په مونږ خو په تيارو تېره شوه ـ ـ ـ ،، ارسلا جان اووې ,, د دوي سبا ورځ خو چې روښانه وي ـ ستاسو ډېره مننه ودود صېب ! ،،

,, ښه ده ارسلا جانه ! ،، ودود صېب پاسيدو کښې اووې ـ ,,سبا به مونږ روانيږو ـ سحر به تۀ کار ته تلے ئې نو اجازت د اوس نه راکړه ،،

,, سبا جمعه ده ،، ارسلا جان مُسکے شو ,, زۀ به يم ، چهټي ده د کار ،،

,, څه ښۀ شوه د الله په امان ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥

د وړلـو سامـان پـه ګـاډي کښې کـيښودے شو ـ سکيـنـه عفـت تـه کـور تـه ورغـلـه او مـخـه ښـه ئـې تـرې واخسـتـه ـ وفـا ئـې ښکل کـړه او اجـازت ئـې تـرې واخسـتـو ، فـريـد ورسره ؤ ، ودود صېب آخـر کـښې د ارسلا جـان سره بـړه ګـړه اوکـړه او ګـاډي کـښې کـښيـنـاسـتـو ـ

تـر دلـتـه پـورې خـو حـالات ټـيـک ټـاک وو خـو چې کـلـه ګـاډے پـه روانـيـدو شو نـو کـار خراب شو ـ وفـا پـه ژړا شـوه ـ ودود صېب د ګـاډي نـه راکـوز شو ,, ولـې ولـې ! وفـا لـورې ـ ـ ـ بـده خـبـره ده بـچـے مـــونـږ بـه راځـو کـنـه ـ مـونـږ بـه ولـې نـه راځـو چې زمـونـږ وفـا لُـور دلـتـه ده ،،

,, زۀ سـتـاسـو نـه خـفـه يـم بـابـا جـانـه ،، وفـا پـه سلـګـو سلـګـو کـښې اووې ـ ودودصېب د وفـا د مـخ نـه اوښکـې پـاکـې کـړې ـ ,, قـصـور خـو مـې راتـه اوښايـه کـنـه د بـابـا ځـانـه ،،

وفـا هـېڅ نـۀ وې ، د هـغـې سلـګـو خـبـرې کـولـې ، ودود صېب د ارسلا جـان طرف تـه اوکـتـل ,, يـره وروره ! دا سـوال مـې اومـنـه ، څـو ورځـو تـه دې وفـا زمـونـږ سره لاړه شي ، چـهـټـيـانـې هـسې هـم لا درې ورځې شتـه دي ـ اتـوار تـه بـه ئـې زۀ د ځـان سره راولـم ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارسلا جان خندل ,, وفا بچې ! تا خو دې د بابا جا ن دپاره مونږ هم پرېښودو ،،
خو د وفا سلګۍ چرته قرارېدې ـ
,, ښۀ ده ودود صېب لاړه دې شي درسره ـ واقعي ده د مېنې د زور هېڅوک نۀ وي ،،
,, ټيک شوه وفا لورې ،، ودود صېب د وفا طرف ته اوکتل ـ ,,اوس خو اوخانده ،، خو وفا د سترګو نه خپل لاس نه اخوا کولو ـ بيا ئې منډه کړه او خپل داجي ته ورتر غاړه وته ـ
,, ورشه بچے خپل سامان دې راواخله ،،
,, نه ، نه وروره ـ هېڅ حاجت نشته ،، ودود صېب ارسلا جان منع کړو ـ ,, وفا بچې مې خپل کور ته ځي ـ د خپل بابا جان کور ته ـ د وفا لُور دپاره مې هر څۀ ډېر دي ـ راځه بچے ،،
,, بابا جانه ! زۀ مې د مور نه اجازت اخلم ،،
,, ضرور بچے ـ ـ ـ شابه ،،
ارسلا جان خنديدو ,, کله کله خو بنده حيران شي ،،
ودود صېب اووې ,, ارسلا جانه ! ژوند ډېر ښائسته دے ـ بس خو که لږ په ښائسته نظر ئې اوګورو ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفا ته خو ګل کلي کښې جوړ د مينې يوه بله دنيا په انتظار وه لوئې واړۀ ترې ځاريدل ـ د فريد نيا نيکۀ خو لکه چې خپل ورک څۀ موندلي وو ـ د وفا په نازولو ستړي کېدل نه ـ وفا دا هر څۀ ليدل او محسوسول ـ
فريد خو د وفا په مېلمستيا کښې سم لېونے شوے ؤ ـ وفا به چې کله د څۀ خوړلو څښلو نه لاس اونيوۀ نو د فريد جنګونه به شروع شول ,, ولې ولې ؟ دا ولې نۀ خورې ،، دا ولې نۀ خورې، دا ولې نۀ څښې ؟ ،،
وفا به ورته مسکې شوه ,, فريده ! تۀ هم کنه ـ پوره لېونے ئې،،
,, لېونے شۀ يم ـ هم ـ ـ ـ دا اوخوره ،،
فريد خو د هوا په اوګو سور ؤ ـ په دوۀ ورځو کښې ئې ټول ګل کلے وفا ته اوښودلوـ چهټيانې وې نو وفا سباؤن سکول د بهر بهر نه اوکتو ـ فريد به ورته د سکول، اُستاذانو او سبق ټولې قيصې کولې ـ د وفا تر هر څۀ نه زيات د فريد د نيا نيکۀ د خټو لُوټو نه جوړ ساده غوندې کور خوښ شو ـ سکينې خپلې مور ته اووې ,, مورې وفا دې خوښه شوه ؟ ،،
د سکينې په لهجه کښې د مستقبل خوبونه او رنګونه انغاړلي وو ـ خو ماشومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفا خو ترې صرف د لفظونو تر حده معنٰی
اخستے شوه ، ایله غونډې مسکی شوه ـ
د سکینې مور په مینه وفا ته اوکتل ،
په سر ئې ورته لاس راښکل ,, د وفا بچی
خو مې هډو ثانې نشته ،، بیا ئې ښکل
کړه ,, خدائے دې د بد نظر نه اوساته
،،
ماشام ودود صېب خبره راواچوله ,,
وفا لورې ! سبا به که خېر
وي ریحان آباد ته ځو ـ ـ ـ ،،
,, زهٔ خو نهٔ ځم ،، د ټولو نازولې وفا
ناز اوکړو ـ
,, ان هن ،، ودود صېب په مسکا مسکا
کښې په حیرانتیا سره د وفا طرف ته
اوکتل ,, چهټیانې ختمې شوې لورې ـ
اوس به تهٔ سکول ته ځې ، سبق به وائې
ـ تلهٔ خو به غواړې ریحان آباد ته ،،
وفا ته هم د ودود صېب دغه انداز خوند
ورکړو ـ مسکی شوه خو د هغې د ځهٔ
وئیلو نه وړاندې فرید اووې ,, بابا
جانه ! وفا وائې چې زهٔ چې سباؤن سکول
اوګورم نو بیا به ځم ،،
ودود صېب ډېر په مینه دواړو
ماشومانو ته کتل ـ سکینې
اوخندل ـ ,, لښکر درته ښهٔ په صلاح مخ
ته ولاړ دے ـ یوه ورځ ده خېردے سباؤن
سکول خو دې اوګوري ـ دومره راغلې
ده ،،
ودود صېب ډېر په مینه اووې ,, زما خو
پرې هډو د ټولو زړهٔ نهٔ کیږي خو سکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئـې دے او بـل ارسلا جـان تـه هم بـې ژبـې کـیږم ـ خېر چې د وفـا لُـور فـرمـائـش مـې دے نـو غـورځـولـے ئـې هم نـۀ شم ښـۀ ده ـ څنګه چې د لـښکر خـوښه وي ،،
فـریـد او وفـا یـو بـل تـه پـه ځـلیدلـو سترګـو اوکـتـل ـ دواړه مـاشومـان خـوشحال شـول ـ
پـه سبـاؤن سکـول کـښې تـېریـدونـکې هره لـمحه دو فـا پـه زړۀ او ذهن نـقش کـیده ـ ودود صېب د خـپل ټـول سټـاف سره د وفـا پـېژنـدګـلو اوکـړه ـ ټـولـو ورتـه تـود هـرکـلے ووې ـ وفـا مـحسوس کـړه چې د ریـحان آبـاد د سکـول او د سبـاؤن سکـول پـه مـاحـول ، د اسـتـاذانـو پـه رویـو او پـېرزوئـیـنـو کـښې فـرق دے ـ ډیـر زیـات فـرق ـ وفـا دلـتـه یـو طلـسم مـحسوسولـو ـ خـبرې ډیـرې وې خـو مـاشوم ذهن ئـې بـاریـکـیـو تـه رسائـې نـۀ لـرلـه ـ
,, د مـیـنـې سنـدره ،، وفـا د ودود صېب نـه ډیـر وارې اوریـدلـې وه خـو دلـتـه ئـې اثـر څـو چنـده سېوا ؤ ـ یـوه یـوه مصرعه بـه ټـول کـلاس د ودود صېب پـسې پـه هم هغه انـداز او آهنګ کـښې تـکـرارولـه وفـا هم پـه هغه مـاشومـانـو کـښې شامـلـه وه ـ

,, وخـتـه ! پـوئـې پـه
بـاریـکـیـو د حکمت یـم
ځـان ځـانـي نـۀ لـرم ټـول
وحدت وحدت یـم
خـاص او عـام لـره پـېغـام
د مـحبت یـم ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـو را اوګـوره یـو رُعب
یـم او طـاقـت یـم
دغـه شـان مـې نـن دنـیـا
وتــه ښـایـمـه
زۀ ډیـوه یـم ، تــورتـمـونـه
ختـمـومـه

o

ریـحـان آبـا تــه د روانـیـدو پـه وخت وفـا بـیـخي غلـې غلـې وه ــ ودود صېب د وفـا دپـاره بـلا ډېـر شـاپـنګ کـړے ؤ ــ سکـیـنـې ښکل کـړه ,, زمـا وفـا خـو بـه مـا هیـروي نـه ؟ ،،

وفـا سکـیـنـې تـه پـه ژور نـظـر اوکـتـل او ډېـر پـه سنجیـدګۍ سره ئـې سر پـه نـفـي کښې اوخـوځـولـو ــ فـریـد او وفـا یـو بـل تـه ددې لـمحې خفـګـان پـه لـفظـونـو کـښې څـرګـنـدولـے نـۀ شـو ــ مـاشـومـان وو ددې خفـګـان د بـنـیـاد ادراک ئـې کـلـه لـرلـے شـو ــ بـهـر حـال چې هر څـۀ وو، څـو چې ودود صېب ګـاډي کښې نـاست نـۀ ؤ دواړو خـپـلـو کـښې څـۀ پـټـې پـټـې خـبـرې کـولـې ــ

,, راځـه بـچـے ،، ودود صېب د مـوټـر دروازه بـیـرتـه کـړه ــ

وفـا پـه خـامـوشـۍ سره پـه خپـل ځـائـے ولاړه وه ــ ودود صېب مـاشـوم خـو نـۀ ؤ چې د هغې پـه مـعـصـومـوتـاثـراتـو رسیـدل نـه ــ فـریـد تـه ئـې اوکـتـل ــ د هغـۀ پـه مخ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



څهٔ خبره څلیده ـ ودود صېب بې اختیاره مسکے شو ـ وفا ته ئې اوکتل ـ
,, وایه لُورې څهٔ حکم دے ؟ ،،
,, بابا جانه فرید دې هم راځي کنه ،،
وفا په معصومیت سره ووې ـ ,, تاسو خو هسې هم واپس راځئ ،،
سکینې اوخندل ,, لښکر بیا په صلاح دے ،،
ودود صېب سکینې ته اوکتل او مسکے شو ـ ,, لښکر بې تا کله پوره دے ـ سر خېله خو ئې هم تهٔ ئې ـ تهٔ هم راځه ،،
ودود صېب دې خبرې ته حېران ؤ ـ وفا او فرید به هره خبره ورسره ښهٔ زړهٔ وره او په ملګرتیا کوله خو دلته زړهٔ نیولي وو ـ په ژور نظر ئې دواړو ته اوکتل ، خوشحالي ئې په مخونو څلیده ـ دغه لمحه کښې ئې ورته بې اختیاره د زړهٔ نه دعا اووته ـ بې لفظونو خو لا محدوده دعا ـ ودود صېب خپله هم پوئې نهٔ شو چې په دغه لمحه کښې ئې ددې ماشومانو دپاره د خپل خدائے نه څهٔ اوغوښتل ـ بس خو خپل اندرون کښې ئې یوه رڼا شان محسوس کړه او د هغې رڼا په غېږ کښې ئې بې واره او بې اختیاره د خپل زړهٔ کچکول کېښودو ـ
څهٔ ساعت پس لښکر ریحان آباد ته روان ؤ ـ

o

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

د ودود صېب په کور کښې يو بل ګل اوغوړيدو ـ يوه ماشومه کور ته راغله ـ نوم ورله فريد خوښ کړو ـ ,, امبر ،، خوشحال خو ټول وو خو فريد خو جوړ په هوا ګرځيدو ـ امبر به ئې د زړۀ نه نۀ جدا کوله ـ د پيريانو په ژبه کښې به ئې ورسره خبرې کولې ، اګرم بګړم به ئې ورته وئيل ـ سکينې به ودود صېب ته وئيل ,, ژنې خو ستاسو نه هم زيات دے ،،
ودود صېب به اوخندل ,, ژنې دے کنه ،،
امبر خړپوسې وهلې ، پل ئې اخستو ، خبرې ئې زده کولې او مور پلار او ورور ئې د خوشحالۍ نه ورته په جامو کښې نۀ ځائيدل ـ
ودود صېب به وئيل ,, مينه په دې دنيا جنتې شان لمحې زيږوي او کرکه کينه د سم دم وخت نه عذاب جوړوي ،،
امبر خبرې زده کړې نو د ګل لالا ، ګل لالا په وئيلو خو ئې هډو خولۀ نۀ ستړې کېده او ګل لالا خو ئې ترې بس ځاريدو او ځاريدو ـ فريد ته به چې کله مور د نظر ماتې دپاره سپېلنې دودول نو تنګ به شو ، زړۀ به ئې را ډوبېدو ـ ,, موري بس کړه کنه ،، فريد به التجا شان اوکړه خو اوس چې په امبر به ئې کله بې کچه مينه راغله نو پخپله به ئې د سپېلنو نه ډډوزه پورته کړه او ښۀ به ئې ورته لوګے کړل ـ سکينې به ورته په مينه او حيرانۍ سره کتل ـ ,,

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـا خدایـه ! دا هغه فـریـد دے چې د لـوګـي نـه بـه یـو دم تـنګ شو او اوس ئـې د امـبـر دپـاره پـه لـوګـو کښې سر ور دنـنـه کـړے وي ، پـوکـوي ئـې ، دودوي ئـې ـ ـ ـ ـ ،،
،، بـس دے مـات شو نـظر ئـې ،، سکـیـنـې بـه ورتـه اووئـیـل ـ
،، لا چـرتـه مـات دے ،، فـریـد بـه هـوښیـارې سترګې ورپـورتـه کـړې، ویـښتـو کـښې بـه ئـې د سپـېـلـنـو سوزیـدلـي سپـړې ، خسـڼې انـختـي وو ـ د ځـان فـکـر بـه ورسره کـلـه ؤ ،، سم ئـې ورتـه سوزوم،،

o

فـریـد د ودود صېب سره خوا کـښې نـاست ؤ ـ امـبـر د پـرپـرکـیـو پـه شان پـه کـور کـښې الـوتـه را الـوتـه ـ فـریـد اووې ،، بـابـا جـانـه ! دا ولـې ؟ زمـاخـو یـوه لـحظه هم د امـبـر د لـیـدو نـه بـغـېـر نـهٔ تـیـریـږي ـ ،،
ودود صېب ئـې ډېـر پـه شفـقـت پـه سر لاس راښکل ،، تـاتـه لـوئـے خدائـے ډېـر څـهٔ عطا کـړي بـچـے ـ تـاتـه ئـې مـیـنـه دربـخښلـې ده ـ ،،
فـریـد خو شېـبـې غلـے ؤ ، بـیـا ئـې اووې ،، خو بـابـا جـانـه ! مـا تـه داسې مـحسوسیـږي چې زمـا ستـاسو نـــــه هـــم زیـــــاتـــــه د امـــبـر سره مـیـنـه ده ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

ودود صېب ورتـه مسکے شو ,, خـور دې ده کـنـه او بـيـا درنـه کشره هم ده نـو مـيـنـه خو بـه دې ورسره خامخا وي ،،
,, بـابـا جـانـه ! پـتـه نـشـتـه چې ولـې ، خو زۀ کـلـه کـلـه اوويـريـږم ،، فـريـد داسې ځۀ ورکـه ورکـه غونـدې لـهـجه کښې اووې ـــ
,, ام هم ـــ ـــ ـــ ـــ ،، ودود صېب ورتـه داسې د سر زنـش کـولـو پـه انـداز کښې اوکـتـل ,, دا سـتـا د ويـرو او انـدېښنـو عمر دے؟ ،، ودود صېب څۀ ساعت ډېـر پـه ژور نـظر فـريـد تـه کـتـل بـيـا ګـويـا شو ,, انـدېښنـو تـه هېڅ کـلـه خپـل زړۀ کښې ځـائـے مۀ ورکـوه دا د يـقـيـن جرړې کـمزورې کـوي ـــ ،،
,, پـتـه نـشـتـه چې ولـې ؟ ،، د فـريـد لـهـجه بـيـخي بـدلـه وه ـــ د مـاشـومـتـوب د عمر د نـاپـخـتـګۍ شـائـبـه هم پـکښې نـۀ وه ـــ ودود صېب بـه د فـريـد د مـخـتـلـفـو کېفـيـتـونـو د ذهن او سوچ د ارتـقـائـي عمل جـاج ډېـر پـه ژوره اخستـو خو نـن دا بـيـخي نـوے احساس ؤ چې د فـريـد پـه دې خبـره ورتـه شوے ؤ ـــ ودود صېب د مـيـنې د انـتـهـا سره تـعـلق لـرونـکو د داسې کېفـيـتـونـو د اثـر انـګـيـزۍاو مـحرکـاتـو ادراک لـرلـو خو د فـريـد خو لا دومـره پـوخ عمر نـۀ ؤ چې ـــ ـــ ـــ ـــ ودود صېب ورتـه پـه ځـيـر اوکـتـل او ورتـه مسکے شو ـــ ,, شېطان د انـسـان ډېـر د نـيـزدې دشمن دے د بـابـا ځـانـه ! خپـل سوچ همېشه مـسـلـمـان سـاتـه ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, مسلمان سوچ څنګه وي ؟ ،، فرید تپوس اوکړو

,, په لوئے خدائے کامل یقین او په هر حال کښې صبر او شکر ـ دغه د مسلمان سوچ بنیاد دے ،، ودود صېب فرید ته ډېر په غور کتل ـ

فرید څهٔ شیبې بښهٔ ورغلے ، غلے ؤ بیا ئې ودود صېب ته سترګې ورپورته کړې او مُسکے شو اوس ئې په مخ بې آرامي نهٔ محسوسېده ـ

,, بابا جانه ! انسان ډېر کمزورے دے کنه ؟ ،،

ودود صېب فرید ځان ته راجوخت کړو ,, کمزورے هم او نیمګړے هم ـ پوره او قادر صرف د الله ذات دے ،،

فرید غلے ؤ ، ودود صېب هم هغسې هغه خپل ځان ته جوخت کړے ؤ ـ په سر ئې ورته لاس راښکو ,, الله پاک د زړونو په واړه سوداګانو، په ذهنونو سوچونو خبردار دے ـ لوئے الله د ښائسته زړونو ملګرتیا کوي ـ ـ ـ همېشه ! ،،

د فرید سترګې اوځلیدې او د ودود صېب د غاړې نه ئې لاسونه تاؤ کړل ـ ,, تاسو چې ماته کله هم په سر لاس کېږدئ نو زهٔ څهٔ ډېر عجیبه او خوشحالوونکے غوندې سکون محسوسوم بابا جانه ! ،،

,, بالکل بچے ! ځنې خبرې د فطرت او روحانیت سره ډېر زیات ژور تړون لري ـ چا ته په سر د شفقت او مینې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښودل ډېـر لـوئـے نفسیاتـي اثـر لـري ـ مـثبت اثـر ـ شـوریـدګـي کـموي ، د هیـجـان او ذهـنـي مـنفـي شدتـونـو زور مـاتـوي ،،

فـریـد ډېـر پـه غـور سره د ودود صېب خبـره اوریـده ـ ,, هـم دغسې پـه اوګـه ټـپـول هـم سـږي تـه غـرونـه ډاډ بـخـښي ، زړهٔ ور کـوي ئـې ، پـالـوان تـرې جوړوي ـ ـ ـ ـ ،،

فـریـد ډېـر پـه انـهمـاک سره ودود صېب تـه غـوږ غـوږ ؤ ، ودود صېب ورتـه ډېـر پـه مـیـنـه مـسکـے شو ـ

,, او بـیـا پـلار خـو هـسې هـم د سر سېـورے وي ـ د تـاؤ پـه سېـوري وس کـلـه رسي ،،

ودود صېب بـیـا خـپـل لاسونـــــه فـــریـــد تــــه واکـړل او فـریـد ئـې بـیـا د غـاړې نـه لاسونـه تـاؤ کـړل ـ

o

د لـکچـر نـه پـس د مـعـمـول مـطـابـق د سوالـونـو جـوابـونـو سلـسلـه جـاري وه ـ

,, کـښېـنـه بـچـے ـ ویـري ګـُډ ،، ودود صېب اووې ,, ستـا تـپـوس ډېـر اهـم دے ـ اصل خبـره دا ده چې پـښتـانـهٔ پـه مـجـمـوعـي حېـثـیـت د حقـیـقـت نـه ډېـر لـرې پـاتـې شوي دي ـ جـذبـاتـي دومـره دي چې عـقـلـونـه ئـې پـه ګـردونـو کـښې پټ دي او جـذبـات هـم کـوم جـذبـات؟ لـېونـي جـذبـات ـ ـ ـ پـښتـون اکـثـر لـه خـپـلـه تـاوه اور اخستـے دے ـ تـاسو کـلـه سوچ کـړے چې نـن پـښتـون پـه خـپـل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

کور کښې محفوظ نهٔ دے ، مري ، استحصال
ئې کيږي او ګرم هم ، هم دے بللے شي ـ
ولې ـ ـ ـ ـ ـ ؟ ،، ودود صېب يو
ساعت ته خاموش شو ـ ټول کلاس غوږ غوږ
ناست ؤ ، په ټولو ئې يو سنجيده نظر
واچوؤ، بيا ګويا شو ,, بې نوا دے ،
ژبه ئې نشته ، د جهالت په تيارو کښې
ګېر دے ـ له اول ورځې نه ورته د پښتو
تشريح غلطه شوې ده ـ کاږهٔ سوچونه ،
کاږهٔ عملونه ئې د شخصيت حصه ګرځيدلي
دي ، دنيا په تيزئ سره بدليږي ، دا د
علم او هنر دور دے ـ د سائنس او
ټيکنالوجي زمانه ده خو پښتانهٔ اوس هم
په غوجلو او غارونو کښې پراتهٔ دي ،
برېتونه تاؤولو او ټوپکې طماچې په
ترخ کښې ګرځولو ته خپله پښتو وائي ـ
دوئي د پت ، ښېګړې ، تورې او وفا په
اصل مفهوم هېڅ کله اونهٔ رسيدل ، ورور
ته تربور وئيل او خپله ټوله توانائي
په دې يا ددې سره متعلقه په نورو
ډېرو وړو لويو ، بې ځايه او بې
حقيقته خبرو ضائع کول د دوئي ننګ او
پت دے ـ خپلې دروغجنې انا همېشه د
خپل جهل وفا دار ساتلي دي ـ د تورې
تشريح ورته د جائز او ناجايز جنګ شور
غوبل او د اور لمبه ، په سر باندې
بله ساتلو په طور شوې ده ـ ـ ـ او د
ډېر زيات افسوس او عبرت مقام خو دا
دے چې په وړه يا لويه سطح ئې مشري هم
اکثر ټګانو کړې ده ـ دوئي ته کله هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داسې ماحول ورکولو کوشش شاید شعوري
طور نهٔ دے شوے چې د تعلیم سره ئې
مینه پېدا شي او د علم د حصول طلب ئې
په زړونو کښې را زرغون شي بلکې زهٔ دا
وئیلے شم چې پښتانهٔ د تعلیم د حصول
نه باقاعده د یو سوچ لاندې لرې ساتلي
شوي دي ،، ودود صېب توقف اوکړو ، ځنې
هلکانو د تپوس کولو لپاره خپل لاسونه
اوچت کړل ، ودود صېب ټولو ته وار په
وار اوکتل او یو خوا ئې ګوته اوړده
کړه ,, یاسر ،،
یاسر د تپوس کولو دپاره پاسیدو ,, سر
! ستاسو د خبرو په رڼا کښې مجموعي
تاثر آیا دا نهٔ قائمیږي چې ګني
پښتانهٔ د ژوند په لاره په هر لحاظ سره
ګرم او غلط دي ؟ ،،
,, کښېنه بچے ،، ودود صېب مسکے شو ,,
شاباش ـ ـ ـ دا ښهٔ
خبره ده ـ خپل زړهٔ او ذهن کښې کله هم
ابهام مهٔ پریږدئ ـ څهٔ خبره مو هم چې
په ذهن کښې سوال پېدا کوي ـ وضاحت ئې
ضرور غواړئ ـ د مخکښې تلو دپاره ، د
ارتقاء دپاره دا ډېره ضروري وي چې د
خپلو خامیو او غفلتونو جاج واخستلے
شي خپلې ناپوهی په حکمت او بصیرت
سره اوینځلے شي او د هغې د پېش رفت
لپاره وړومبے شرط دا دے چې خپلې غلطی
تسلیم کړلے شي ـ د یو نقص ، د یوې
خامی اصلاح کول تر هغې پورې هډو ممکن
نهٔ وي څو چې هغه خامي ، خامي ګڼلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې نهٔ وي ـ څو چې هغه نقص ، نقص
تسليم کړے شوے نه وي ـ د پښتنو خو
ټول ژوند د خوندونو ، رنګونو او
قدرونو نه ډک دے ـ پښتانهٔ خو په ډېرو
زياتو حوالو سپېځلي او ښاغلي دي خو د
وخت تقاضه دا ده چې مونږ د پښتون
وجود د هغو لويو وړو زخمونو نشاندهي
بيا بيا اوکړو کوم چې د ناسور کېدو
په لوري روان دي ـ کوم چې مسيحائي
غواړي ، د پوهې زور او د مينې ټکور
غواړي ـ پخوانے وخت ساده ؤ ـ نن خو
مونږ ته وخت ښکاره خبردارے راکوي ، د
پاسېدو ، بېدارېدو او روانېدو راته
وائي ـ نن که چرې مونږ په هنګامي
بنيادونو د تيارۍ طرف ته روان نهٔ شو،
په شعوري توګه مو د رڼا په لور ګام
پورته نهٔ کړو نو بيا دې کښې هېڅ شک
نهٔ پاتې کيږي چې مونږ معنوي طور د
ورکېدو په لور روان يُو ،،
د ودود صېب د خـــاموش کېدو سره د
تپوس کولو دپاره کلاس
کښې کافي لاسونه بيا پورته شول ـ
,, ابرار ـ ـ ـ ـ تهٔ ،،
ابرار پاسېدو ,, سر ! په دغه حواله
مونږ په خپله لاره کښې تر ټولو لوئے
خنډ څهٔ ګڼلے شو ؟ ،،
,, رسم ـ ـ ـ ـ رواج ،، ودود صېب په
رسان اووې ,, کښېنه ابرار ـ هغه
فرسوده رسمونه رواجونه چې زمونږ له
ژوند چاپېر دي او په جهل بنا دي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـونـږ د ارتـقـاء پـه لاره کښې خنډ دي او دغه بُـتـان صرف نـوے کـهـول مـاتـولـے شي ـ غزنـوي غزنـوي نـوے کـهـول ـ تـاسـو ، صرف تـاسـو ـ د حکمت او بـصـیـرت سره ـ ډیـوه پـه لاس ، د لـويـو جذبـو او لـوړو حوصلـو سره ، د تـحمل او بـرداشت سره ، د عزم او استـقـلال سره ، علامـه صېب فـرمـائـي

خرد کو غلامی سے آزاد کر
جوانوں کو پیروں کا استاد کر

ستـاسو ذمـه وارئ ډیـرې زیـاتـې دي ، تـاسـو بـه خپـل چـاپـېـرچـل تـه ، خپـلـو را روانـو نـسلـونـو تـه د رنـا تـحفـه ورکـوئ ـ پـه دې بـه هېڅ کـلـه نـۀ ځئ چې دا طـور طـریـقـې خـو زمـونـږ د پـلار نـیـکـۀ د وختـونـو نـه را روانـې دي ـ څنـګـه ئـې پـرېـږدو ـ خـلـق بـه څۀ وائـي ـ دا قـسم لـه خبـرې خـو بـه د مـکې مـشرکـانـو کـولـې ـ ـ ـ نـه ـ ـ ـ بـالـکل نـه ـ ـ ـ اوګـورئ ، جاج واخـلـئ او د دانـشمـنـدانـه جرات سره غـلط تـه غـلط اووایـئ او درست تـه درست ـ ،،
د کـلاس وخـت خـتـم شـوے ؤ ـ

O

چـاپـېـر چل کـښې ډیـر بـدلـون راغـلـے ؤ ـ ځـنې خـلـقـو پـه دغه عرصه کـښې د دنـیـا لـۀ سرایـه کـوچ کـړے ؤ او ځـیـنـو ورتـه کـډې راوړې وې ، مـاشـومـان هـم اوس کـافـي لـوئـے شـوي وو ، فـریـد اوس کـالـج تـه تـلـو ـ نـوره هـم ډیـره تـبـدیـلـي ـ خـو د ودود صېب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړۀ درد هم هغۀ ؤ ــ د خپل زخمي زخمي چاپېرچل د مسيحايی دپاره بې قراره ؤ او په دې حقله به ورته يکي يوه لاره په نظر راتله ــ د علم د حصول لاره ــ د مينې لاره ، ودود صېب به کله کله زړۀ نيولے شو نو فريد ته به په يو مخ ځير شو ــ ,, بچے ! وخت ډېر کم دے او چيلنج ډېر لوئے دے ،،
فريد به مسکے شو ,, بابا جانه ! تاسو څۀ ګڼئ چې ددغه لوئے
چيلنج دپاره تاسو لښکر نۀ دے تيار کړے ؟ ،،
,, د تيارو شدت ډېر زيات دے ،،
,, د تيارو اوقات څۀ وي بابا جانه ! تاسو محسوسوئ نه چې د رڼا سفر جاري و ساري دے ،،
ودود صېب به مسکے شو ــ فريد به ئې زړۀ ته نيزدې کړو ــ
,, آئي لو يُو بابا جانه ! ،، فريد به د ودود صېب د غاړې نه لاسونه تاؤ کړل ــ

o

د ماشومتوب د ملګرتيا دغه خوږ او سپېڅلے تعلق د وفا سره کله په مينه کښې بدل شو فريد ته نۀ وه پته خودومره پوهېدو چې هغۀ خپل زړۀ وفا ته ډېر پخوا ورکړے دے ــ خو د اخلاص او ملګرتيا د دومره لوئے او مسلسل تعلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



باوجود فريد کله هم وفا ته د خپلې مينې اظهار اونۀ کړے شو ـ څومره به ئې چې کله د اظهار کولو کلکه اراده اوکړه هومره به ترې دوه ترې خطا شول او په داسې موقع به ئې چې کله د وفا په وړاندې خبرې بيخي مبهم او يو غر بل غر شوې نو وفا به د خپل عادت نه خلاف بې اختياره اوخندل ـ

,, فريده ! دا تۀ کله کله داسې لېونے غوندې نۀ شې ؟ ،،

فريد به داسې سترے سترے شان ، اسوېلے غوندې اوکړو ـ په شونډو به ئې خوبولې شان مسکا خوره شوه ,, او ! کله کله زما خپله هم کيږي په ځان ګمان د لېونې ،،

,, ښکارې خو نه ،،

,, وطن د پښتو دے ـ سړے لېونے کيږي هم په ګرانه ،،

څو څو وارې ئې د اظهار کولو کلکه اراده کړې وه ,, بس دے نن وايم ورته ،، خو عېن په موقع به وار خطا شو ، فريد کله هم د وفا د طرف نه د التفات څۀ محسوس کړي نۀ وو ، سنجيدګي ئې په ښکلي ښکلي مخ جوړ پخه نقش شوې وه ـ کله کله به ئې چې فريد سره څۀ ټوقه شان اوکړه نو هغه ورځ به په جامو کښې کله ځائيدو ـ بيا به په ځان پورې په خندا شوـ ,,دا مينه هم کنه ـ ـ ـ ـ ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـو ورځ ئـې وفـا تـه اووې ,, وفـا ! دا
مـیـنـه هم ډېـر عجیبـه څـیـز دے کـنـه ـ د سم
دم سړي نـه کـوتـک جـوړ کـړي ـ،،
وفـا ورتـه پـه غـور اوکـتـل ,, نـه داسې خـو
نـهٔ ده ـ مـیـنـه خـو سړے لا سړے کـړي ،،
,, نـو بـیـا ـ ـ ـ ـ ،، فـریـد هم دومـره
اووئـیـل شـول ، مـخکښې ئـې اکسلـیـټـر کـار
نـهٔ کـولـو ـ
,, نـو بـیـا څـهٔ ؟ ،،
,, پـریـږده مـړې ـ هېڅ نـه ـ ـ ـ ـ بـس
هسې مـې اووې ،،
یـوه ورځ د اظهـار پـیـریـانـو بـیـا جلالـي
کـړے ؤ خـو چې عېن د څـهٔ وئـیـلـو پـه وخت
کـښې ئـې پـه مـرئ خـپـسه کـښېنـاسته نـو پـه
وار خطـایـئ کـښې ئـې بې اخـتـیـاره د وفـا
لاس پـه خـپـلـو لاسـونـو کـښې اونـیـوؤ ـ وفـا
یـو دم ورتـه پـه بـرنـدو سـتـرګـو اوکـتـل او
خـپـل لاس ئـې تـرې نـه پـه جک سره خلاص کـړو
ـ
,, فـریـده مـهٔ هـیـروه چې یـو هلـک د یـوې
جیـنـئ لاس هېڅ کـلـه نـهٔ شي نـیـوے عېب وي ،
ګـنـاه وي ،،
فـریـد دا وخت مـخـتـلـفـو کـېفـیـتـونـو زورلـو ،
کـچه هم ؤ، اراده ئـې هېڅ کـلـه د وفـا د
لاس د نـیـولـو نـهٔ وه ـ ملامـتـه هم ؤ او څـهٔ
پـاؤ نـیـم پـاؤ بـر هم هم ـ شایـد د بې
وقـعـتـئ احساس ؤ ـ او زړهٔ ئـې درزیـدو کـه
درزیـدو مخ ئـې مـسلـسل بـل خـوا اړولـے ؤ ـ
,, بـابـا جـان کـوم ځـائـے د کـالـج جـوړولـو
لـپـاره زمـکـه اخـلـي ،، وفـا تـپـوس اوکـړو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,,ښارکښې ،،د فريدپه لهجه کښې داسې ناراضګي ښانې وه ـ
,, خبره ښوې ده ؟ ،،
,, او ـ ـ ـ بس څۀ کاغذي کاروائي پاتې ده ،،
څۀ شېبه پس فريد تپوس اوکړو ,, وفا ! د ايم ايس سي نه پس دې څۀ ارادې دي ؟ ،،
د وفا په مخ ښکلې ښان مسکا اوځليده
,, خوبونه خو مې ډېر لوئې دي خو د داجي تکليفونو ته مې نور نۀ شم کتے ـ اوس هم د کالج خرچې ډېرې دي ـ د ريحان آباد نه بهر هم دے ګو که ډېر لرې نۀ دے خو ـ ـ ـ ـ ،،
د فريد زړۀ څړيکه اوکړه ,, وفا تـــــۀ مـــونـــړ پـــردي ګڼې ؟ ما خو پرېږده ـ بابا جان ستا څۀ نۀ لږي ،،
وفا فريد ته سترګې ورپورته کړې ,, د بابا جان مينه او ډاډ که نۀ وے نو زۀ تر دې حده هم نۀ ښوم رارسيدے ـ د بابا جان د شخصيت بې شمېره اړخونه دي فريده ! چې تشريح ئې صرف وخت کولے ښي ـ زۀ او تۀ نه ،،
,, وفا ! تۀ په بابا جان ډېره ګرانه ئې ،،
,, بابا جان په ما هم ډېر ګران دے ،،
فريد وئيل غوښتل چې په ما هم ډېره ګرانه ئې خو بس غلے پاتې ښو ـ ډېره ګرانه وه ـ اوس ئې د اظهارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مظهارونو نه پخه توبه کړې وه ــ د وس خبره ئې نهٔ وه ــ
,, چرته څهٔ وخت به مور جانې ته غلي غوندې اوواېم ــ ,, فريد زړهٔ کښې اووې ــ

O

,, ګل لالا ــ ــ ــ ــ ګل لالا ،، امبر د فريد په کمرې نيغه رانوته ــ
,, اں هں ،، فريد اخبار په ميز کېښو او امبر ته متوجه شو ــ
,, زما خور خو نن ډېره خوشحاله ده ،،
,, ګل لالا ! ډېره نه ــ زهٔ نن ډېره زياته خوشحاله يم ــ زما خو به د زړهٔ ارمان پوره شي ،،
,, ښه نو وايه کنه زما ځان زما ځيګر خورې ،،
,, داسې در ته چرته وايم ـــ ــ زما مټهائي کومه ده ؟ ،،
,, واه ــ ــ ــ دا هم عجيبه ده ــ ارمان ستا د زړهٔ پوره کيږي او مټهائي زما نه غواړې ــ هں ؟ ،،
,, تهٔ نهٔ پوهيږې ــ ــ ــ ــ ،، امبر په شوخئ سره سر اوخوځولو ــ
,, ښه ځه زهٔ درنه يو تپوس کوم ــ تاته زما وفا باجي څنګه لګي؟،،
فــــريد خو لکه چې سم د خوبه رابېدار شو ــ اوس په خبره څهٔ څهٔ رسيدو ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, څهٔ مطلب ؟ څنګه څنګه لګي ـ ـ ـ ؟
،، فريد هسې تندے داسې تريو شانې کړو
,, صفا صفا اووايه ،،
امبر مسکی وه ، قدرې سوچ کولو نه پس
ئې اووې ,, اوس به
دې کور ته زما بهابهي راځي ـ زمونږ
کور خو به لا ښائسته شي کنه ګل لالا ،،
فريد خبرې ته رسيدو خو نور وضاحت ئې
هم غوښتو ، مخ ئې ځليدو ، غوړيدو
خوشحالي وه دومره ډيره چې ـ ـ ـ ـ
,, امبر ! خبره دې بيا هم پوره اونهٔ
کړه ،، فريد ځان داسې مرور غوندې ببر
غوندې کړو ,, ستا مې دا خبره بالکل
نهٔ ده خوښه ـ ښه ،،
,, او ما چې ستا نه تپوس اوکړو نو تا
ئې ماته جواب راکړو ؟،، امبر په تشو
لاسونه کېښودل ـ
,, هم م م ،،فريدځان داسې ناجانه
غوندې کړو ,, ښهٔ ده ـ د نورو
جينکو په شان ده او بس ،،
,, بس ؟ ،، د امبر په سترګو کښې شوخي
ځليده
,, او ـ ـ ـ بس ،، فريد داسې بې
پروا غوندې انداز کښې اووې
,, وختي مې بابا جان او مور جانې
خپلو کښې څهٔ خبره کوله ـ څوک جينۍ ئې
درته خوښه کړې ده ،،
,, څوک ده ؟ ،، د فريد غوږونه
اودريدل ـ مينه کښې سرے انديښمن هم
لږ خو نهٔ وي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, پـتـه نـشتـه ــ ځوک ده ،، اوس امـبـر ځـان نـاجـانـه کـړے ؤ ــ
,, امـبـر ! ،، د فـریـد انـداز تـنـبـیـهي ؤ
,, څۀ مـطـلـب ، پـتـه نـشتـه ، ځـوک ده ،،
,, د مـشرانـو فـېصلـې دي ګـل لالا ،، امـبـر پـه قـلاره اووې ,,مـاتـه خو مې بس بـهابـهي پـکـار ده ،،
,, او زمـا خـوښه نـا خـوښه ؟ ،،
,, څۀ وئـیـلـے شم ،،
,, تـا د وفـا پـحقـلـه تـپـوس کـړے ؤ ،،
,, او ــ ــ ــ کـړے مې ؤ ،، د امـبـر لـهـجه کـښې هم هغـه شان بې نـیـازي وه ــ
,, خـوښه مې ده ــ ــ ــ ــ ،، فـریـد وسلـه اوغـورځـولـه
,, زمـا هم خـوښه ده ،، امـبـر مـسلـسل ځـان نـاجـانـه کـړے ؤ ــ
,, امـبـر ،، فـریـد اوغرمـبـېدو او امـبـر پـه کـړس کـړس پـه خـنـدا شـوه
,, ګـل لالا ! دومـره کم عقـل خو نـۀ ئـې ــ ــ ــ ــ خو دا نـن ولـې ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ؟
ګـل لالا ! بـابـا جـان د وفـا ذکـر کـولـو ــ خو لا ئـې د ارسلا کـاکـا سره خـبـره نـۀ ده کـړې ــ اول بـه ستـا نـه تـپـوس کـوي ،،
,, د دیـارلـسو کـالـو بـوډئ ــ ــ ــ ــ ــ ــ
،، فـریـد امـبـر د غـوږونـو نـه اونـیـولـه ــ
,, دا دومـره استـاذئ دې چـرتـه زده کـړې دي ،،
,, ښه نـو دا مې انـعـام دے ،،
,, ستـا نـه خو مې سر ځـار شه ،، اوس ئـې د پـوزې نـه اونـیـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ګـل لالا ! زمـا خـو تـادي شـوه ـ وفـا بـاجي تـه مـې اوو ايـم؟ ،،
,, نـه ـ ـ ـ نـه ـ ـ ـ نـه ،، فـريـد تـنـدې ګـونـجـې کـړو ,, شش ـ ـ ـ دا د مشرانـو خـبـرې دي ـ خـيـال کـوه ـ کـا ر بـه رالـه اوګـورې ،،
امـبـر پـه خـنـدا وه ,, ګـل لالا ! ښـهٔ ډارن ئـې ښـهٔ ،،
د خـوشـحـالـۍ يـو دلـربـا احـسـاس ـ فـريـد ځـهٔ پـه نـورو نـورو جـهـانـونـو ګـرځـولـو ـ

o

د دلاور خـان زلـمـي تـوب پـه ريـحـان آبـاد کـښې د ظـلـم نـوي نـوي بـابـونـه لـيـکل ـ ريـحـان آبـاد ځـهٔ ، دلاور خـان نـورې مـلـحـقـه علاقـې هـم د خـپـلـې خـانـۍ د اثـر لانـدې راوسـتـلـو خـوبـونـه لـيـدل ـ د ځـان او مـال ويـره خـو د ريـحـان آبـاد د خـلـقـو سـره د مـخـکـښې نـه وه ـ اوس پـه عـزت هـم ويـريـدل ـ د عـيـاش او بـدقـمـاش دلاور خـان زړهٔ د کـانـړي ؤ ـ د ريـحـان آبـاد اوسـېـدونـکي نـن هـم بـې نـوا وو ـ نـوې کـهـول ئـې هـم ګـونـګ او بـې ژبـې ؤ ـ د خـانـانـو ويـره ورتـه ورثـې کـښې رسـېـدلـې وه ـ شـاذ و نـادر بـه کـه چـا چـرتـه جـرات اوکـړو او ژبـه بـه ئـې اوخـوځـولـه نـو نـورو تـه بـه د عـبـرت نـشـان جـوړ شـوـ او د بـاقـي خـلـقـو ژبـه بـه لا پـه تـالـو پـورې اونـخـښـتـه ـ د خـان ګـل لالا د زلـمـي زوئـې ګـنـاه صـرف دومـره وه چـې دلاور

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـان تـه ئـې پـه یـو مـوقـع ایـغ نـېغ جـواب
ورکـړے ؤ ـ نـو بـیـا څـۀ وو دلاور خـان پـه
خـپـل اس پـوريې تـړلـے ؤ او د ریـحـان آبـاد
پـه لارو کـوڅـو کـښـې ئـې راکـاږلـو ـ خـلق ئـې
څـۀ پـټ پـنـا او څـۀ ښـکـاره پـه تـمـاشـه وو ـ
انـدېـښـمـن انـدېـښـمـن او سـاه ختـلـي ـ خـلقـو
خـپـل مـاشـومـان کـورونـو کـښـې پـټ کـړل ـ د
غـېږې د مـاشـومـانـو پـه مـخـونـو ښـځـو خـپـل
څـادرونـه خـوارۀ کـړل خـو تـمـاشـه بـهـر حـال
ټـولـو کـولـه ـ دلاور خـان پـه اس سـور د
خـپـلـو سـفـاکـو تـاثـراتـو سـره دنـګـه غـړۍ د
ریـحـان آبـاد پـه لارو کـوڅـو کـښـې د خـلقـو
پـه زړونـو کـښـې خـپـل دهـشـت تـازه کـولـوـ د
خـان ګـل لالا زوئـے هـلـه پـرېـښـودے شـو چـې
دومـره څـان پـکـښـې پـاتـې شـو چـې ایـلـه سـاه
ئـې اخـسـتـه ـ د هـغـې نـه پـس خـان ګـل لالاد
خـپـلـو ټـولـو وړو لـویـو سـره د ریـحـان آبـاد
نـه کـډه اوکـړه ـ چـرتـه لاړو؟ ددې نـه
هـېڅـوک خـبـر نـۀ شـو ـ د ریـحـان آبـاد
اوسـیـدونـکـي د خـپـلـې ژبـې د پـورتـه کـولـو
پـه چـل نـۀ پـوهـېدل ګـو کـه څـنـې کـسـانـو اوس
څـۀ پـټ پـنـا خـپـل وس او حـرکـت کـولـو ـ
بـخـت عـالـم کـاکـا د ودود صـېب سـره نـاسـت ؤ
ـ څـو کـسـان ورسـره نـور هـم وو ـ
بـخـت عـالـم کـا کـا وئـیـل ,, ډېـره ګـرانـه
شـوې ده ورورره ! ژونـدي یُـو خـو د ژونـدو
پـه شـان نـۀ یُـو ـ څـۀ لاره خـامـخـا پـکـار ده
٬٬
ودود صـېـب سـر اوخـوځـولـو ,, ښـۀ ده چـې
دغـه احـسـاس خـو درتـه اوشـو ـ ډېـر پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـاخيـر سره سهي ــ بـهر حـال ديـر آيـد
درست آيـد ــ اوس تـاسو څۀ سوچ کـړے دے ؟
،،
بـخت عالـم کـاکـا هېڅ تـوقـف اونـۀ کـړو،
اوئـې وې ,, بـس چې پـه هره ځي ــ نـوره
غلامـي نـۀ کـوؤ ــ مـړۀ بـه شو کـنـه ــ مـړۀ
دې شو ،،
ودود صېب بـې اخـتـيـاره مسکے شو ,, هم
دغه خـو زمـونـږ مـسئـلـه ده يـا بـيـخي چـپ يُـو
، هېڅ نـۀ وايـو او يـا جذبـاتـي او د عقـل
نـه بـالا فـېصلې کـوؤ ــ بـې مـوقـعې ، بـې
مـحلـه او بـې فـائـدې ،،
ودود صېب لـږ شان تـوقـف اوکـړو او بـيـا
ګـويـا شو ,, اوس چې تـاسو يـوه فـېصلـه
کـړې او زړۀ مـو مـنـلـې ده نـو د حکمت
جامـه وروا چوئ ــ ستـاسو ړونـد او جذبـاتـي
قـدم بـه پـه ريـحـان آبـاد کـښې نـور هم
تـورتـم جـوړ کـړي ــ داسې نـتـيـجه بـه
پـرېـږدي چې د وګـړو پـه زړونـو کـښې بـه د
پـاسېدو هڅو تـصور خـتم کـړي ،،
,, نـو بـيـا څۀ کـول پـکـار دي ــ زمـونـږ خـو
بـرداشت ختم شوے دے،، دبـخت عالـم کـاکـا
سره جـوخـت نـاست زلـمي پـه کـلـکـه لـهجه کـښې
اووې ,, زمـونـږ پـه وړانـدې زمـونـږ د
سپـيـن روبـو مـشرانـو بـې عزتـي کـيـږي ،
زمـونـږ خـو خـېر دے مـونـږ خـو هڅو پـه شمېر
کـښې نـۀ يُـو ــ خـدائے دې نـۀ کـړي سبـا ــ ــ
ــ ــ ،، زلـمي خـبـره اودرولـه ، اواز ئـې
درونـد غـونـدې شو ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، په یو ورځ هېڅ نۀ کیږي ــ ،، ودود صېب په نرمۍ سره اووې ،، د عمرونو عمرونو کوتاهیو ازاله یو دم نۀ شي ــ وخت خامخا غواړي ــ تاسو خپل عمل په یو څو مرحلو تقسیم کړئ ــ څومره کسان دي چې ستاسو د سوچ سره ملګري دي ؟ مکمل ملګري !،،

،، لږ دي ــ د ګوتو په شمېر دي ،، بخت عالم کاکا اووې

ودود صېب پُر خیال انداز کښې سـر اوخـوځـولـو ،، جـذبــاتـي کیږئ مه ــ ددې پېدا شوي سوچ او احساس قدر اوکړئ ، پالنه ئې اوکړئ ــ په زړونو او ذهنونو کښې ئې اوکرئ نو بیا به د وخت سره سره تاسو ته د خپل طاقت احساس خامخا کیږي او هر کله چې تاسو ددغه سوچ په زرغونولو کښې کامیاب شوئ نو اوګنړئ چې هر تورتم ته مو د نمر مخ اوښودلو ــ لا مونږ د تیارۍ په حالت کښې یُو او تیاري په خاموشۍ سره کیږي ، په یقین او تسلسل سره کیږي ــ خپلو زلمو ته ډاډ او مینه ورکړئ د هغوي په صلاحیتونو اعتماد اوکړئ او کار ترې واخلئ ــ زما یقین دے چې سحر نیزدې دے ــ ډېر نیزدې ،،

،، مونږ دې نۀ یُو خو بس دغه سحر دې راشي ،، زلمي اووې

ودود صېب مسکے شو ،، که خدائے کوي تاسو به دې سحر ته پخپله هر کلے وایئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د شپې آخر دے ګرانـه ، د تـيـارې زور پـه مـاتـيـدو دے ـ يـقـيـن ساتـئ ،،

o

امـبـر بـه د وفـا سره شرارتـونـه خـو هسې هم کـول خـو نـن ئې ورانـه پـه دې راغلـې وه چې نـن ورتـه امـبـر د ,, وفـا بـاجي ،، پـه ځـائـے ,,وفـا بـهـابـهـي ،، وئـيـلـي ووـ د امـبـر سره د وفـا هم مـيـنـه ډېـره وه نـو ځکه بـه ئې ورسره د وړې وړې خبـرې نـه هم قـيـصه جـوړولـه خـو نـن خـو ئې خبـره بـيـخي ځۀ بـــــدلـــــه شان کـړې وه ـ د وفــــــا بــــاجي پـه ځـائـے وفـا بـهـابـهـي ـ ـ ـ وفـا پـه حېرانـی سره ورتـه اوکـتـل ـ ,, ځۀ ـ ـ ـ ځۀ ـ ـ ـ ؟ ځۀ دې اووې ؟ ،،

امـبـر بـيـخي ځـان نـاجانـه کـړو ,, وفـا بـا ـ ـ ـ ـ جي ،، د ,,بـا،، او ,,جي،، پـه مـېـنـځ کـښې ئې يـوه مـعـنـي خـيـزه خلا جـوړه کـړه او پـه مـعـصـومـيـت سره ئې اووې ,, خـولـۀ مې خطا شوه وفـا بـا ـ ـ ـ جي،، وفـا د غـوږ نـه اونـيـوه ـ ,, ستـا او خـولـۀ خطا کـېدل ،،

د امـبـر زړۀ خـو غـوښتـل چې ورتـه صفـا صفـا اووائـي ـ د خپـلې وفـا بـاجي نـه هم تـپـوس اوکـړي چې ستـا څۀ خـوښه ده ؟ خـو بـس چُپ پـاتـې شـوه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, نـو كـه بـهـابـهـي درتـه وايـم نـو څۀ قـيـامـت بـه راشي ،، امـبـر پـه مـعـصـومـيـت سره وفـا تـه اوكـتـل ـ
,, امـبـر ـ ـ ـ ،، وفـا امـبـر تـه بـرنـد اوكـتـل ,, دا دربـانـدې نـن څۀ پـيـريـان راغـلـي ، بـاجي ـ ـ ـ صرف بـاجي ـ ـ ښه ،،
,, ښه نـو غـوږ خـو مـې پـرېـږده كـنـه ،، امـبـر ورتـه داسې مـرور مـرور شـان اوكـتـل ـ غـوږ ئـې پـرېـښودے شـو ـ څۀ د اخـوا دېـخـوا خـبـرو نـه پـس امـبـر بـيـا شـوخـي اوكـړه ـ ,, ښه څـه ټـيـک ده وفـا بـاجي خـو كـه دا دواړه نـومـونـه ګـډ كـړم خـپـلـه كـښې نـو بـيـا ؟ بـاجي او بـهـابـهـي يـو ځـائـے ! بـهـابـهـي جي ! ،،
,, امـبـر ،، امـبـر تـه د نـور كـلـه پـه شـان وړومـبـے وارنـنـګ مـلاؤ شـو ـ
,, خـيـر دے كـنـه ،، امـبـر يـو قـدم شـاتـه لاړه ـ
,, امـبـر ـ ـ ـ ،، دوېـم وارنـنـګ ـ د وفـا لـهـجـه سـنـجـيـده وه ـ
,, بـهـابـهـي جـان ،، امـبـر بـيـا پـه شـوخـۍ سره داسې نـازولـي اووې خـو يـو قـدم ئـې بـل هـم پـه شـا ضرور ورسره اخـسـتـے ؤ ـ
,, اودريـږه زمـا نـيـا ،،
خـو امـبـر اوس پـه كـمـره كـښې چـرتـه وه چـې پـه پـنـجـه كـښې بـه راتـلـه ـ د مـنـډې خـو تـكـړه وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر

د امبر فطرت هم داسې ؤ ــ خوږ او مینه ناک ــ ګرانه هم په ټولو وه ــ

ودود صېب سحر د ناشتې نه پس برآمده کښې کرسۍ کښې ډېره وهلې ناست ؤ ــ اخبار ئې کتو ــ
په امبرخو دې خبرې لا ناوخته کړے ؤ چې څو ورځې پس هغوي
خپل کلي ، ګل کلي ته روان دي ــ څۀ چهټیانې هم کمیدې او څۀ ودود صېب چې په ښار کښې کومه زمکه اخستې وه په هغې باندې د کالج د تعمیر کار هم په تیزۍ سره جاري ؤ ــ خو امبر خو نور څۀ کرل او رېبل ــ د هغې په زړۀ کښې دا ارمان اوړېدو را اوړېدو چې بس یو ځل په ډکه خولۀ وفا ته بهابهي اووائي او هغه ورته اونۀ قهرېږي ــ نو بیا څۀ وو ، ودود صېب چې خبرېدو نو امبر خلق راټول کړي وو ــ دوه کټونه د ودود صېب د کرسۍ نه یو خوا بل خوا واچول شول او لښکر ترې محاصره اوکړه ــ ودود صېب په حېرانۍ سره سر راپورته کړو او د تپوس کولو په انداز کښې ټولو ته اوکتل ــ
سیکنه مسکۍ شوه ,, امبر څۀ خبره راوړې ده ، تاسو سره ئې کوي،،
,, ام هم ،، ودود صېب اخبار بند کړو
,, بسم الله ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, هسې بـابـا جانـه ! د ګل لالا د کـويـژدن دپـاره روانـه يم ، مـا وې ښهٔ ده کـه تـاسو هم راځئ ،، امـبـر پـه معصومـيت سره اووې او ودود صېب بـې وار او بـې اختـيـار اوخـنـدل ، فـريـد قـدرې غلـے غلـے نـاست ؤ خـو د امـبـر پـه انـداز او خـبـره ئـې پـه شونـډو بـې قـابـو شان مـسکا خوره شوه ــ سکـيـنـه خـو هسې هم تـرې ځـاريـده ــ ودود صېب پـه مـيـنـه اووې ,, سـتـا پـه مـوجـودګـۍ کـښې زمـونـږ څـهٔ ضرورت دے ــ خـو لـږ صبـر ښهٔ نـهٔ دے ؟ ،،

,, نـه کـنـه بـابـا جانـه ! ،، امـبـر نـاز او اصرار اوکـــړو ,, تـــــاسو سوچ خـو اوکـړئ کـنـه څـومـره خـوشحالـي بـه جوړه شي ــ

,, نـن سبـالـږ پـه مـنـډو يم بـچے! ښهٔ نـه ده چې لـږه ساه ورتـه واخـلـم ،،

,, پـلـيـز بـابـا جانـه ! وادهٔ تـه ساه واخـلـئ خېر دے خـو کـويـژدن دې اوس اوشـي ــ ،،

,, مـور جانـې تـهٔ هم څـهٔ نـهٔ وائـې ,, امـبـر سکـيـنـې تـه اوکـتـل ، انـداز داسې ګـيـلـه مـن غـونـدې ؤ ــ

سکـيـنـې اووې ,, سـتـا بـابـا جان کـلـه سـتـا خبـره غورځـولـې ده ــ چې زمـا ضرورت بـه پـېښېږي ،،

,, ددې مـطـلـب دا دے چې رعايـت نـهٔ مـلاويـږي ،، ودود صېب مـسکـے شـو ــ ,, ښهٔ ده ، زهٔ بـه مـاښام تـه د ارسلا جان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوګـورم، د خـوشحـالـۍ خبـره ده هم نـن سهي ،،
د خـوشحـالـۍ د یـونـوي شـان احسـاس نـه د ټـولـو مـخونـه ځـلیـدل ـ هم هغـه وخت بـهر ګـېټ پـه زوره زوره اووهلـے شو او بـیـا ورپـسي زر پـه ګـېټ کښې لـګـېدلـې کـړکـۍ نـمـا دروازه چې پـه کـنـډې سره بـنـد وه بـېـرتـه شوه او څو کسان رانـنـوتـل ـ سـرور خـان ، دلاور خـان او ورپـسې د ټـوپـکـو ، طمـاچـو سره مـلا تـړلـي خوشـامـدګـر ، یـو ، دوه ، درې ـ ـ ـ پـوره لـس کسان وو ـ
ودود صېب د خپـل ځـائـے نـه پـاسېـدو پـه مخ ئـې بـرهمي ښکـاره مـحسوسېـده ـ سـرور خـان او دلاور خـان سره د خپـلـو کسانـو وړانـدې راغلـۀ ـ ودود صېب پـه دالان کښې قـدم کـېښود ـ
سرور خـان طمـاچـه پـه لاس ، پـه سینـه کـښې ډډ ودود صېب تـه مـخـامـخ اودرېـدو ـ پـه مـخ ئـې د تـکـبـر او حقـارت رنـګـونـه خوارۀ وو ـ
,, ودوده ! دومـره صبـر سرور خـان هیـچـا تـه نـۀ دے کـړے څـومـره چې تـاتـه ـ خو نـن سرور خـان خپـلـه خانـي دلاور خـان تـه سپـاري او د دلاور خـان پـه خانـۍ کـښې نـیمـګـړتـیـا سـرور خـان نـۀ شي زغملـے ـ نـن وخت نـۀ ستـا سره شتـه او نـۀ زمـا سره ـ نـن درنـه آخري ځـل تـپـوس کـوم ـ ډېـر پـه سوچ سره جواب راکـړه ـ او یـا نـا ،،
ودود صېب پـه غرئـیـزه خامـوشۍ سره د ســـرور خـــان پـــه سترګـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـښې کـتـل ـ
ودود صېب د سرور خان خبره نظر انداز کړه ,, زمـا کـور تـه بې تـپوسه رانـنـوتـلـې ئـې سرور خانـه ! ډېـر بـې پـښـتـو کـار دې کـړے دے،، د ودود صېب لـهجه قـطعي او قـلاره وه ـ
,, پـښـتـو خلق د سرور خـان نـه زده کـوي ودوده ! ،، سرور خـان خپـل سر تـه د لـويـې سره حرکت ورکـړو ـ ,, ډېـرو کـتـابـونـو سـتـا مـازغـهٔ خراب کـړي دي ـ زهٔ ګورم چې سـتـا لاس زمـا طرف تـه پـه بـل بـل رنـګ راغزيـږي زمـا دخبرې جواب راکـوه ،،
,, جواب مـا پـخوا درکـړے دے ،، ودود صېب پـه کـلـکـه لـهجه کـښې اووې ,, د سـوچ کـولـو وار سـتـا دے ـ نـيـمـه زمـکـه سـتـا شـوه او نـيـمـه زمـا خو پـه دې شرط چې زهٔ بـه دلـتـه سکـول او کـالـج جوړوم،،
,, سکـول او کـالـج جوړوې ،، سرور خـان اوغـرمـبـېدو ,, او کـه د سرور خـان ګـريـوان تـه لاس اچـوې ،،
,, مـا خپـلـه خبـره اوکـړه ،، ودود صېب پـه ډېـرې سنجيـدګـۍ سره اووې ـ
,,دا سـتـا آخري خبـره ده ؟ ،، سرور خـان د طمـاچې والا لاس اوچت کـړو ـ
,, او ،،د ودودصېب لـهجه قـطعي وه ,, دا زمـا آخري خبـره ده ،،
فـريـد تـه د صورتـحـال د بـدلـيـدو احساس ډېـر پـه شدت سره اوشو مـعـامـلـه انـتـهـائـي سنـګـيـنـه او نـازکـه وه خو چې څـنـګـه وړانـدې راغـے نـو د سرور خـان کـسـان تـرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چاپېر تاؤ شول ـ دلته دے د هغوي
په ګرفت کښې راغے نو هلته د سرور خان
د طماچې نه ګولۍ اووته ، ورپسې بله ،
ورپسې بله ـ ـ ـ ـ ـ !
د ودود صېب د سينې نه وينې بې واره
دانګل ـ ـ ـ د ودود صېب لاس او قدم چې
د سرور خان طرف ته پورته کېدۀ نو د
سرور خان ګوتې يو ځل بيا د طماچې
ماشې ته زور ورکړو ، يوه بله ګولۍ د
ودود صېب د سينې په لور لاړه ـ
,, مه ظالمه ! ،، سکينه په چغو چغو
وړاندې راغله ـ
خو په ظالم کښې ترس چرته وي ، دا
وارې دلاور خان لاس سم کړو يو ډز ، بل
ډز سکينه زړۀ نيولې په زمکه کښېناسته
ـ
د فريد دنګه ځواني د سرور خان د بې
رحمه ، بې ضميره خانۍ د تورو علامتونو
ګرفت کښې غورځېده را غوځېده ـ
ودود صېب په زمکه پرېوتو ـ امبر په
زوره زوره ژړل ـ چغې ئې وهلې ,, وه
بابا جانه ! وئ مورې کنه ،،
فريد هم هغه شان د لسو کسانو په ګرفت
کښې پرړېدۀ ـ ,,پرېږ مې دئ ،، فريد
يوه چغه اوکړه ,, سرور خانه اخوا کړه
دا سپې دې ـ ماته رامخامخ شه ـ بې
غېرته ، بزدله ،،
,, اوئې تړئ ،، د دلاور خان لهجه سړه
وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کر

د امبر چغو آسمان راغورځوؤ ـ کله به د مور په مړۀ وجود ورپرېوته او کله د پلار ـ ,, وه مور جاني سترګې اوغوړوه ـ يه بابا جانه ! ما سره خبرې اوکړه کنه ـ ګوره کنه ستا امبر ژاړي ـ
بابا جانه ـ ـ ـ ـ ! ،،

امبر پاسېده ـ د لېونو په شان ئې اخوا دېخوا نظر زغلولو ـ بيا ئې يو خوا منډۀ کړه او په زمکه پروت يو غټ شان کانړے ئې په لاس کښې راواخستو او په پوره زور سره ئې په دلاور خان ورګوزار کړو ـ کانړے عېن د دلاور خان په تندي لګېدلے ؤ ـ سره سره وينه د دلاور خان په مخ راماته شوه ـ ډېر په قهر سره ئې امبر ته اوکتل ـ دا خو ئې هډو په ګمان کښې نۀ وه ـ يو تالي څټ د امبر طرف ته حرکت کولو خو دلاور خان د لاس په اشاره منع کړو ـ

فريد مکمل بې وسه ؤ ـ پښې لاسونه ئې تړلي شوي وو ـ د زخمي مار په شان تاويدو راتاويدو ـ د غصې او غم شدت ئې خدوخال وران کړي وو ـ سترګې ئې تکې سرې وې ، لکه سکروټې ـ خو بې وسه ؤ بېخي بې وسه ـ

د دلاور خان په مخ د تندي نه راماته وينه اوس هم بهېده ـ خو اوس ئې په مخ د غصې معمولي غوندې تاثر هم نۀ ؤ ـ ډېر په شېطاني نظر ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امبر ته کتل ـ یوه سفاکه او وحشیانه مُسکا ئې په شونډو غزیده راغزیده ـ یو دم د فرید لمبه لمبه حواسو ته عجیبه اندیښنې راپریوتې ـ ناڅاپي یو زړۀ ته راتلونکي خیال اولړزولو ـ اوس ئې د مخ درشتي او سختي چرته بل خوا تلې وه ـ یوه عجیبه شان بې وسي ئې په سرو سرو سترګو کښې اوښکې اوښکې اوغزیده ـ اوس ورسره صرف د خپلې خور د تحفظ خیال ؤ ـ د مکمل تحفظ خیال ـ امبر ته ئې په اوترو سترګو اوکتل ـ هغه اوس هم ژړیدلې ، قهریدلې زمرئ زمرئ ولاړه وه ـ په دواړو لاسونو کښې ئې کاڼې نیولي وو او دلاور خان ته ئې داسې کتل لکه چې وئیل ئې ورته چې سر دې لا روغ دے ، سم نۀ دے مات شوے ـ دلاور خان هم هغه شان په شیطاني سترګو امبر ته څیر ؤ ـ

فرید په ژړا شو ,, امبر ! زما خورې دلته راشه ، زما خوا ته ، د خپل ګل لالا خوا ته ،،

خو امبر خو په جنګ ولاړه وه ـ

د کافي خاموشئ نه پس یو دم د دلاور خان شونډې اوخوزیدې ,, جینئ ! دا ګوزار دې پور شو په ما او دلاور خان هېڅ کله په ځان باندې د چا بدل نۀ پرېږدي ـ دغه قرض به دې خامخا لنډوم ـ خو لا ئې وخت نۀ دے ـ لا دې وي ـ ـ ـ لا ـ ـ ـ ـ ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرور خان فريد ته مخ ور واړولو ,,
اوس د هر څۀ تـۀ مالک ئې ــ اوس ستا
خوښه ده ــ که عقل درکښې وي نو کومه
خبره دې چې پلار نـۀ منله تـۀ ئې اومنه
ــ او کۀ نه تـۀ دې هم د پلار په شان ئې
نو د ژوند نه به لرې چرته ژوندے ئې ــ
وخت به درسره صلاح کار کړم خېر دے ،
سوچ پرې اوکړه ،،
سرور خان او دلاور خان کنډرې اوکړې او
د خپلو کسانو سره واپس روان شول ــ
امبر د لاسونو نه کانـي اوغورځول او
رامنډه ئې کړه او د فريد سره خوا کښې
کښېناسته او د هغۀ پښې لاسونه ئې ازاد
کړل ــ غصه ، صدمه ، بې وسي ــ فريد
خپل يو لاس په زمکه اولګولو او ژوبل
ژوبل راپاسېدو ــ امبر ورتر غاړه وته
ــ
,, ګل لالا ــ دا څۀ اوشو ــ ــ ــ بابا
جان خو اوس اوس زمونږ سره خبرې کولې
ــ خندل ئې او مور جانـي ــ ــ ــ ــ ،،
امبر په ژړا کښې اووے ــ
,, مۀ ژاړه امبر چپ شه ،، فريد، امبر
خپلې فراخې سينې ته جوخته کړه ــ
,, خپله خو ژاړې ــ زړۀ دے څۀ کانړے خو
نـۀ دے ،،
دواړه ورور خور غاړه غټې وو ــ دواړو
ژړل ، ښۀ ئې ژړل ، زړونو ئې نـۀ منله
ــ خو د حقيقت نه انکار هم نـۀ شو کېدے
ــ مور پلار ئې په وينو کښې لت پت
پراتـۀ وو ــ فريد او امبر ئې حق بق

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

خوا تـه کښېناستل ــ د سکینې په مخ
حیراني او معصومیت نقش وو ــ د ودود
صیب سپینې جامې تولې په وینو سرې وې
ــ فرید ئې په رپېدونکو لاسونو په تندي
ویښتهٔ سم کړل شکل ئې کړهٔ او په ورکه
ورکه شان لهجه کښې ئې اووې ,, بابا
جانه ! تاسوخو مینه ویشله ــ دا ولې ؟
تاسو د چا سره څهٔ بد کړي وو،،
فرید څهٔ ساعت ډېر په مینه او حسرت
سره د ودود صیب مخ ته کتل او د زمکې
په سینه باندې بهیدلې د هغهٔ په وینه
کښې ئې لــــکـــــه د خـــوب پـــه
عـــالـــم کښې لاس وهلو ــ د یــــــو
قیامتي
خاموشی نه پس ئې شونډې اوخوځیدې ــ
,, بابا جانه ! د سرور خان او دلاور
خان خاني لاړه ــ ستا د مینې قسم چې
لاړه ــ ستا د ظرف قسم چې لاړه ــ سرور
خان او دلاور خان خطا شول ــ ژوندے ئې
پرېښودم اوس خو ــ ــ ــ ــ ،، د فرید
خبره نیمه پاتې شوه ــ د چا د موجودګی
احساس ورته شوے ؤ د امبر او د هغهٔ نه
علاوه د نور چا د موجودګی احساس ــ
فرید سر پورته کړو ــ د علاقې
تهانېدار په څهٔ فاصله کښې د خپلې
نفری سره ولاړ ؤ ــ
فرید اودریدو ــ تهانېدار په خپلو وړو
وړو دنیادارو سترګو فرید ته په غور
کتل ــ ,, څوانه تهٔ به زمونږ سره
تهانې ته ځې،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـریـد پـه حېرانـۍ سره تـهـانـېدار تـه اوکـتـل ,, ظـالـمـانـو د خدائـے خـاطـر اوکـړئ ـ زمـا مـور پـلار مـړۀ پـراتـۀ دي او سـتـاسو قـانـون پـه سر سـور دے ـ لاړ شئ کـۀ وس کـښې مـو وي د سرور خـان نـه تـپـوس اوکـړئ ـ چـا چې دا قـیـامـت پـه مـونـږ راوسـتـلے دے ،،

د تـهـانـېدار پـه مخ د بې حسۍ نـه علاوه بـل هېڅ تـاثـر نـۀ ؤ ـ ,,حـراست کـښې ئـې واخـلـئ ،، تـهـانـېدار سـپـایـانـو تـه اوکـتـل ـ

فـریـد ډېـر پـه بې یـقـیـنـۍ سره ورتـه کـتـل ,, سـتـا مـازغـۀ خـو نـۀ دي خـراب شـوي ؟ ،، ,, مـازغـۀ سـتـا ټـیـک نـۀ دي ، واچـوئ ورتـه هـتـکـړۍ ،،

سـپـایـان د فـریـد نـه تـاؤ شـول ـ پـه داسې انـداز لـکـه چـرتـه یـو ډېـر خطـرنـاک مجـرم ګـرفـتـاروي ـ د حېـرت انـتـهـا وه ـ فـریـد نـۀ پـوهېدو چې دا څۀ چـکـر دے ـ زمـا لاسـونـو تـه ولې هـتـکـړۍ اچـوي ؟ هسې نـه سـرور خـان ـ ـ ـ ـ ـ فـریـد تـه د سـرور خـان خـبـره وریـاده شـوه ـ ,, کـه عـقـل در کـښې وي نـو کـومـه خـبـره دې چې پـلار نـۀ مـنـلـه ، تـۀ ئې اومـنـه او کـه نـه تـۀ دې هم د پـلار پـه شـان ئې نـو د ژونـد نـه بـه لـرې چـرتـه ژونـدے ئې ـ وخت بـه درسره صلاح کـار کـړم خېـر دے ، سـوچ پـرې اوکـړه ،،

سـپـایـانـو د فـریـد لاسـونـو تـه هـتـکـړۍ اچـولې وې ، فـریـد امـبـر تـه هسک اوکـتـل ـ هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه زار زار ژړل ـ ,, ګـل لالا ! دوئـي تـا ولـې بـوځـي ؟ ،،
زلـمـي فـريـد سر اوخـوځـولـو ,, امـبـر ! نـه ـ ـ ـ ژاړې بـه بـالـکـل نـه ـ ـ ،،
بـهـر د پـولـيـس ګـاډي ولاړ وو ـ فـريـد پـه لاسونـو کـښې هـتـکـړۍ اچـولـې وې او د سپـايـانـو مـېـنـځ کـښې روان ؤ ـ پـه مـخ او سـتـرګـو کـښې ئـې يـو غـرئـيـز سکـوت خـور ؤ ـ امـبـر ژړل ـ ـ ـ ,, ګـل لالاـ ـ ـ ګـل لالا ،،
فـريـد امـبـر تـه اوکـتـل ,, امـبـر ! عفـت آپـا ـ ـ ـ ځـه ورشـه هـغـوي خـبـر کـړه ،،
فـريـد د پـولـيـس ګـاډي تـه خـتـو ـ امـبـر پـه مـنـډو مـنـډو د عفـت آپـا کـور تـه روانـه وه ـ پـه ژړا ژړا پـه سلـګـو سلـګـو د سـتـرګـو نـه ئـې اوښکـې وريـدې ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ٥

د تهانېدار په دفتر کښې د فريد لاسونه د هتکړو نه آزاد کړے شول ـ فريد خپل زپلي حواس راغونډول خو ډېره ګرانه وه ـ صورتحال انتهائي غېر معمولي ؤ ـ څۀ شېبه پس دوه کسان نور هم دفتر ته رانوتل ـ د انداز او روېې نه هغه هم څوک سرکاري کسان ښکارېدل ـ تهانېدار ورته د مصافحې دپاره په زبر زير سره پاسېدلے ؤ ـ هغوي کښېناستل ـ

يو فريد ته اوکتل ,, فريد نوم دے ستا ؟ ،، فريد خاموش ؤ ـ په نفرت او حقارت سره ئې ټولو ته کتل ـ د هغۀ دننه خو طوفانونه اوچتېدل ـ

تهانېدار اووې ,, صورتحال ستا دپاره بېخي خراب دے ـ تۀ د معاملې سنګينئ ته نۀ رسې ـ ستا دپاره ښۀ ده خبره هم دلته خلاصه کړه ـ پولې پټې دې سرور خان ته حواله کړه ـ مناسبې پيسې به ئې درکړي ،،

د فريد په سترګو کښې اور بل ؤ ـ ,, تاسو هم څان ته انسانان وايئ ،، د هغۀ لۀ خولې وتلے يو يو ټکے لکه په زهرو کښې ډوب ؤ ـ په لهجه کښې ئې د جهان تراخۀ وو ,, ما خپل مور پلار په وينو کښې ډوب پرېښي دي ـ زما مور پلار سرور خان اووژل او هتکړئ تاسو زما په لاسونو کښې واچولې او اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ــ ــ ځهٔ یئ تاسو ــ ــ ــ ؟ انسانان خو نهٔ یئ ــ ــ ــ بې ضمیره او بې غېرته ــ ــ ــ لعنت دې وي ،،
د تهانېدار تندے تریو شو ــ ,, ځوانه ! مهٔ هیروه چې تهٔ د خپل مور پلار د قتل په الزام کښې په حراست کښې اخستے شوے ئې او دا هم یاد اوساته چې که د سرور خان نهٔ وي خوښه نو د خلاصي دې لار هم نشته ،،
,, په څومره دې ایمان خرڅ کړے ؟ ،،
فرید د تهانېدار په سترګو کښې اوکتل ــ تهانېدار برند شو ، راپاسېدو خو بل خوا ته ناستو دوؤ کسانو کښې یو ورته د لاس په اشاره د څهٔ نهٔ وئیلو اووې ، تهانېدار د کرسۍ پورې خخ پاتې شو ــ یو کس فرید ته مخاطب شو ,, عقل ښهٔ شے دے ځوانه ! څهٔ چې شوي هغه هسې هم شوي ، د آئنده خیال دې اوساته ، ستا ژوند دے ، ستا د خور ژوند دے ــ ــ ــ تهٔ د سرور خان د زور او طاقت اندازه غلطه لګوې ــ ــ ــ ستا بهتري هم په دې کښې ده چې خپل ضد پرېږدې ــ سرور خان دا هر څهٔ په ډېر لوئے بندوبست سره کړي دي ــ تهٔ هېڅ نهٔ شې کولے ،،
فرید وار په وار درې واړو ته ژوبل ژوبل اوکتل ــ یو لحظه سوچ یوړو ــ بیا ئې اووې ,, نن زما د مور او پلار د مرګ ورځ ده ، د هغوي جنازه ده ــ زهٔ اول ددغه هر څهٔ نه فارغېدهٔ غواړم ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهانېدار په خباثت سره مسکے شو ,,
اول زمونږ د سر نه بوج لر کړه ګله ـ
ستا خبره به هم مونږ اومنو ـ ګني
د مور پلار قاتل د
هغوي جنازې ته کله تلے شي ـ زمونږ هم
واړه واړۀ بچي دي ـ،،
فريد زهرجن شان مسکے شو ,, ستاسو
دلالي سرور خان ته هېڅ ګټه نۀ شئ
رسولے ـ ما سره که نا انصافي اوهم
شي ، پروا نشته،،
تهانېدار فريد ته په ځير اوکتل ,, نن
ورځ دې په حوالات کښې ده ـ ددې نه پس
به جېل ته لېږلے شې ـ په عدالت کښې
دربانـدې جرم ثابتول د سرور خان دپاره
ډېر معمولي خبره ده ـ ګواهان هم ډېر
او ثبوتونه هم ـ د ړوند قانون ړنده
فېصله به دې د ټول عمر دپاره د تورو
ټمبو بنديوان کړي او يا کېدے شي
پهانسي درته واورولے شي ـ ښۀ سوچ
اوکړه ـ اوس درسره وخت دے ،،
,, ما درته خپله خبره اوکړه ،، فريد
کلکه لهجه کښې اووې ـ
تهانېدار ناستو نورو دوؤ کسانو ته
اوکتل ، هغوي سرونه اوخوځول ـ
تهانېدار څۀ شېبه ډېر په عجيبه نظر
فريدته کتل بيا ئې يو سپائي ته اواز
کړو ـ سپائي دفتر ته رانوتو او کوتک
کوتک اودريدو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, دے حوالات کښې بند کړئ ،، تهانېدار د فرید طرف ته اشاره اوکړه ,, د قتل ملزم دے ــ خیال پرې ساتئ ،،

o

د ګل کلي خلق خو څۀ چې لارې کوڅې ئې هم مړاوې وې ــ ارسلا جان او عفت د ودود صېب او سکینې مړي سمبال کړي او ګل کلي ته رارسولي وو ــ وفا ژړل که ژړل بیخي نۀ قلاریده ــ ,, بابا جانه ! نۀ به دې راکوله دومره مینه چې داسې دې پرېښودم ــ سترګې اوغړوه بابا جانه ! ستاسو هومره لوئے زړۀ خو زما نۀ دے ــ ــ ــ بابا جانه ــ ــ ــ ــ !! ،،
د امبر سترګې اوچې وې ــ بېخي غلې وه ــ کله کله به ئې څو سلګئ اووهلې او کله د خپلې نیا او کله د عفت په غېږ کښې خپل سر کېښودو ــ
د سکینې د مور پلار حوصله په ځائے وه ــ خو حیران دومره وو چې حد ئې نۀ ؤ ــ د ګل کلي خلق خو خېر د کلي خلق وو د سباؤن سکول سټاف څۀ چې د ودود صېب شاګردان هم ټول په ټوله راغلي وو ــ خو یواځې نه ، مشران ئې هم راغلي وو ــ د څنو څنو خو ټوله ټوله کورنۍ راغلې وه ، داسې خلق هم وو چې هډو چا پېژندل نه خو سترګې ئې یو ساعت ته نۀ وې اوچې شوې ــ نور خو څۀ د ریحان آباد نه ډېر زیات خلق راغلي وو باوجود ددې چې دا عمل په یو صورت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرور خـان سره د ډغرې نـه کم نـۀ ؤ خو چې راغـلي وو نـو راغلي وو ــ يـوه خـبره وه چې مـېلمـه پـکښې څـوک هم نـۀ ؤ ــ ټـول کـوربـانـۀ وو ــ جـوړ د ودود صېب ورونـه خـوئـيـنـدې راغـلي وو ــ بـچي ئـې راغـلي وو خـپـلـو کښې بـه غـاړه وتـل بـيـا بـيـا بـه ئـې اوژړل ــ

د خـپـلـو خلقـو سره د ودود صېب د مـيـنـې تـعـلق نـن زرغـون ښکـاريـدو! ښکـاره مـحسوسېدو !!

دا نـن د فـريـد سره د هغـوي دوېـم مـلاقـات ؤ ــ ارسلا جـان او د فـريـد نـيـا نـيـکـۀ د ورځې هم راغـلي وو خـو ډېـر لـږ وخت ايـسار شول ــ يـو خو ورسره وخت بـيـخي نـۀ ؤ ــ هر څـۀ ئـې نـيـمـګـړي پـرېـښي وو ــ جـنـازې پـرتـې وې خـو د ژونـدي فـکـر هم ضروري ؤ ــ د هغـوي د فـريـد سره صرف مـلاقـات اوشـو نـور ئـې هېڅ اونـۀ کـړے شول ــ حېران هم وو او پـرېـشان هم ــ خـو دومـره ضرور پـوهېدل چې قـانـون پـه مـکمل تـوګـه د زورور مـرسـتـيـال دے ــ

تـهانـړېدار د هغـوي د سوال زارۍ پـه جـواب کـښې صرف دومـره اووې ,, ټـيک ده تـاسو ئـې پـوئـې کـړئ ــ د سرور خـان تـسلـي دې اوکـړي نـو ځـي دې درسره ــ بـاقـي زۀ نـور هېڅ نـۀ شم کـولـے ــ خـبـره ډېـره د پـاسه نـۀ ده ، زمـا پـه وس کـښې نـۀ ده ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو فرید لکه ټول په ټوله د کاڼي شوے ؤ ـ په دې بابله خو ئې هډو خبره نۀ کوله ـ هغوي هم بې وسه وو ـ واپس ستانۀ شوي وو خو هم نن ماښام بیا راغلي وو ـ د فرید د نیا نیکۀ سره دا ځل د سباؤن سکول د سټاف سینئر او ذمه وار کسان هم راغلي وو ارسلا جان او عفت هم وو او وفا هم ـ

د فرید نیا اوژړل ,, فریده بچیه ! زمونږ خو تۀ پکار ئې ـ نور مو هېڅ نۀ دي پکار ،،

نیکۀ ئې اووې ,, فریده ! حالاتو ته خپله اوګوره ـ هسې نه څۀ نور نقصان در اورسي د ظلم زور دے بچے ،،

خو فرید خاموش ؤ ـ بیخي خاموش ـ ټولو خپل خپل رنګ خبره کوله ـ چا ځان پوهول او چا فرید خو فرید لکه قسم کړے ؤ چې هېڅ به نۀ وائي ـ وفا یو قدم وړاندې راغله او فرید ته مخامخ اودرېده ـ د غرونو په شانې درونډ څادر کښې پټه وه ـ وفا هېڅ نۀ وې بس د هغې نظر د خپل ماشومتوب د ملګري د مخ او سترګو تاثرات لوستل ـ هغې ته د فرید د یو یو عادت پته وه ـ د هغۀ په مزاج پوهېده ـ د یو لوئے عزم سره ئې د فرید په سترګو کښې کتل ـ بیا ګویا شوه ,, فریده ! مونږ ټول د صدمې په حالت کښې یُو ، حالات هم موافق نۀ دي خو ـ ـ ـ ـ بابا جان مونږ ته یو درس راکړے دے ، یو سوچ او نظر ئې راکړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے ــ څو چې مونږ ژوندي يُو نو د ژوند خبره به کوؤ ــ مونږ به هېڅ کله د بابا جان روح نهٔ خفه کوؤ او نهٔ به ځان ورته شرمنده او ملامته کوؤ ــ

فريده ! چې کمزورے نهٔ شې ــ ــ ــ مرحله ګرانه سهي خو زمونږ مرام ډېر ښکلے او نازولے دے ــ ډېر زيات سپېڅلے دے ــ تيارو ته سر ټيټول د هيچا سره نهٔ ښائي ــ ياد ساته دا خبره به بابا جان کوله ،،

لکه د بُت ساکت او خاموش ولاړ ځوان جان فريد په سترګو کښې اوښکې اوځليدې ــ په مخ باندې خورې بې انتها سختی کښې ئې يــــــو رنـــــــګ لاره اوکـــــړه ــ پـــــــه رسان ســـــــره ئې اووې ,, زهٔ محکم يم ــ ــ ــ زما سره ستاسو فکر دے ،،

د سباؤن سکول وائس پرنسپل سر عديل ډېر په تفاخر سره مسکے شوــ ,, عزم او استقامت د منزلونو پوړۍ وي ــ مونږ به په باوقاره طريقه خپل جنګ کوؤ ــ او په هومره وقار سره به ئې ګټو هم ــ باور ساته ،،

د فريد ذهن او زړهٔ به بيا بيا تاؤجن شول ــ د هغهٔ په سپېڅلي احساس قيامتونه تېرېدل خو په ځان ئې تر کافي حده قابو ساتلے ؤ ــ هغهٔ د خپلو راغلو مئينانو زړونه نور خفه کول نهٔ غوښتل ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـریـد ارسلا جـان او عفـت تـه اوکـتـل ,,
ارسلا کـاکـا او عفت آپـا تـاسو د بـیـا
دپـاره د راتـلـو تـکـلـیف مـهٔ کـوئ ـ سـرور
خـان تـاسو تـه هم نـقـصـان در رسـولـے شي ـ
سـتـاسو دلـتـه راتـګ خطرنـاک دے،،
,, الله بـه خـېر کـړي بـچـے ،، د ارسلا جـان
آواز کـافـي درونـد ؤ ـ
فـریـد وفـا تـه مـخ ور واړوهٔ ,, وفـا تـهٔ
بـیـا مـهٔ راځـه ،،
د وفـا پـه مـخ غرونـه سنجیدګـي
خـوره وه ـ
,, بـابـا ! مـورې ګـلـې !! ،، فـریـد خـپـل
نـیـا نـیـکـهٔ تـه اوکـتـل ,, دعـا کـوئ ـ خـفـه
کـیـږئ مـه ـ خـېـر بـه شي ،،
,, مـونـږ خـو نـهٔ پـوهـېـږو بـچـیـه ،، د فـریـد
نـیـا پـه سـادګـی سره اووې ,,بس اوس تـاتـه
دې خـدائـے خـېـر پـېـښ کـړي ،،
سر عدیـل را وړانـدې شـو او د هغـې لاس ئـې
پـه خـپـل سر کـیـښو ـ ,, مـــورې ګـلـې !
مـونـږ هم سـتـاسو بـچـي یُـو ـ دعـا کـوئ ـ
ټـول بـه خـېـر
شي ـ مـونـږ بـه عدالـت تـه ځـو ـ مـونـږ بـه
خـبـره کـوؤ ،،

O

احـمـد عـلـي خـان د نـورو روایـتـي جـېـلـرانـو
پـه شـان بـالـکـل نـهٔ ؤ ـ د سـنـټـرل جـېـل پـه
عـمـلـې او ټـولـو قـېـدیـانـو کـښـې پـه سر جـي
مـشـهـور ؤ ـ د قـېـدیـانـو سره ئـې رویـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انـتـهـائـي مـشـفـقـانـه او دوسـتـانـه وه ـ قـېـد بـهـر حـال قـېـد وي ـ خـو کـه د قـېـد سـره تـړلـے تـصـور او د احـسـاس اذيـت تـرې مـنـفـي کـړے شـي نـو دا وئـيـل بـه نـامـنـاسـب نـهٔ وي چـې ددغـه جـېـل قـېـديـان بـاقـي پـه نـورو ډېـرو حـوالـو مـطـمـئـن او خـوشـحـال وو ـ هـغـوي پـه خـپـل مـهـربـان او شـفـيـق سـر جـي مـئـيـن وو ـ

د فـريـد فـائـل او تـفـصـيـلاتـو احـمـد عـلـي خـان د حـېـرانـتـیا او پـرېـشـانـتـیا سـره مـخ کـړے ؤ ـ دا وخـت هـم فـائـل د هـغـهٔ مـخ تـه پـروت ؤ او ډېـر پـه سـنـجـيـدګـی او انـهـمـاک سـره ئـې ځـيـرلـو ـ

,, د ودود صـېـب قـتـل د هـغـهٔ خـپـل زوئـے څـنـګـه کـولـے شـي ؟ ،، هـغـهٔ د ځـان سـره سـوالـيـه انـداز کـښـې خـود کـلامـي اوکـړه ـ

,, ودود صـېـب خـو ـ ـ ـ ـ ،، احـمـد عـلـي خـان د فـائـل نـه سـتـرګـې پـورتـه کـړې پـه لاس بـانـدې تـړلـې ګـهـړی تـه ئـې يـو نـظـر اوکـتـل او بـيـا ئـې يـو سـپـائـي تـه اواز کـړو ـ

,, مـبـيـن ،،

سـپـائـي پـه مـسـتـعـدی سـره دفـتـر تـه رانـنـوتـو

,, جي سـر جـي ،،

,, هـغـه نـوے حـوالاتـي راولـه ـ ـ ـ فـريـد ،، احـمـد عـلـي خـان سـپـائـي تـه اووې او فـائـل تـه ئـې بـيـا سـتـرګـې ښـکـتـه کـړې ـ

څـهٔ سـاعـت پـس فـريـد د جـېـلـر پـه دفـتـر کـښـې مـوجـود ؤ ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمد علي خان جهانديده نظر د فريد د مخ او سترګو د تاثراتو په غور سره جائزه اخسته ــ

,, کرسی ته کښېنه ،، احمد علي خان په نرمی سره اووې ــ

فريد کښېناستو ــ په انداز کښې ئې ويزاري وه ــ د احمد علي خان تجربه کار نظر اوس هم د فريد محاصره کړې وه ــ

احمد علي خان په اول ځل تري نه څۀ تپوسونه کړي وو خو هغه په جواب کښې بيخي غلے ؤ ــ د مخ او سترګو نه ئې صفا ښکاريده چې په زړۀ او ذهن ئې ډېر درانۀ دي ــ احمد علي خان د هغۀ په سترګو کښې د بې اعتباری او نفرت شريک تاثر محسوس کړے ؤ ــ دا د احمد علي خان دپاره څۀ دومره لويه خبره نۀ وه ــ په خپل پېشه ورانه ژوند کښې هغۀ ددې نه زيات پېچيده کېسونه ليدلي وو ــ د بې شمېره قېديانو سره ئې واسطه پېښه وه ــ عادي مجرمان ، د انتهائي مجبوری په حالت کښې جرم کوؤنکي او بې ګناه بنديوان ــ خو دلته خو د ودود صېب نوم او د ريحان آباد او ګل کلي ذکر د هغۀ په زړۀ او ذهن کښې د تجسس طوفان راپورته کړے ؤ ــ د قتل الزام د ودود صېب په زوئے لګېدلے ؤ او ايف آئي آر د سرور خان په مدعيت کښې درج شوے ؤ ــ نو احمد علي خان حقيقتاً حېران ؤ ــ د ودود صېب سره د هغۀ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاقات دومره ورځې خو نۀ وې شوې په
ښار کښې د کالج د جوړولو په سلسله
کښې د ودود صېب د منډو تړړو په دوران
کښې د کالج د وخت دغه دواړه یاران
عېن د بازار په مېنځ کښې یو بل ته
مخامخ شوي وو او غاړه وتلي وو خو ښۀ
غاړه وتلي وو ـ د یو بل نه ئې لاسونه
کلک چاپېر وو او داسې یو خوا بل خوا
ځنګېدل راځنګېدل ـ څۀ خبرې ئې هم
کولې ـ په لار روانو خلقو به چې ورته
اوکتل نو ځنې به بې اختیاره مسکي شول
ـ بیا ئې ګپ چرته ختمېدۀ ـ نیزدې
ورکوټې شان هوټل کښې کښېناستل ، چائې
او سموسې ئې را اوغوښتې او نوؤ او
زړو ته ئې زور ورکړو ـ
,, ودود صېب لا اوس هم زلمے ئې ښه ،،
احمد علي خان د چائیو نه ګوټ اوکړو ـ
ودود صېب د کالج د زمانې نه خپلو
ملګرو په هم دې نوم سره مخاطب کولو ـ
,, ودود صېب ،، ملګري خو څۀ ، غیاث
الدین صېب به هم ورته ودود صېب وې
غیاث الدین صېب د دوئي یو انتهائي
شفیق او حکیم استاذ ؤـ هغوي به وئیل
,, ودود صېب د مینې او پېرزوئنې پېکر
دے همه روح دے ، د محسوسولو سړے دے
،،
,, دومره زر چرته زړېږم خانه ،، ودود
صېب مسکے شوـ
,, بچي دې څومره دي ؟ ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, دوه ـ يوه لور او يو زوئے ،، ودود صېب اووې ، ودود صېب چې د احمد علي خان سره د فريد ذکر کولو نو لهجه ئې د مينې او تفاخر نه ډکه وه ـ

,, او ستا ؟ ،، ودود صېب ترې تپوس اوکړو ـ

احمد علي خان ورک ورک غوندې مسکے شو

,, زما هم دوه ـــــ يوه لور او يو زوئے ـ ـ ـ ـ لور خو مې رانه لاړه ـ ـ ـ ګولو اوخوړه ـ ګلالئ ـ ـ ـ او زوئے مې د تعليم دپاره بهر استولے دے ـ لا ورکوتے دے ـ د څوارلسو کالو دے ـ خوشحال ـ ترۀ ئې هلته دے ـ هم د هغۀ سره دے ـ ،،

,, او ګلالئ ؟ څنګ ګولوا وخوړه ؟،، د ودود صېب تندے ګونجې شو ـ

احمد علي خان يوه اوږده ساه راښکه ـ

,, ياره ! د ايماندارئ او فرض شناسئ باب کښې ازمېښتونه تر هر څۀ زيات وي ـ او بيا زمونږ پېشه ـ ـ ـ توبه ـ ـ ـ ايمانداره کس پکښې قدم قدم په پل صراط تېرېږي ـ ډېرې قيصې دي د زړۀ چاؤدون خو دا څل خو ـ ـ ـ ـ ,, احمد علي خان يو ساعت ته غلے شو، په خلاء کښې داسې ځير ؤ لکه چې څۀ ورته ښکاريدل ، څۀ ئې کتل ، بيا ئې ودود صېب ته سترګې وروا ړولې او داسې درد جن شانې مسکے شو او ګويا شو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، د هغوي تعلق د ډېرې مضبوطې پارټۍ
سره ؤ ـ د پوډرو ډېر درونـد مقدار ئې
سمګل کولو ـ خو ګېر شوي وو ـ د تېښتې
په دوران کښې ئې په پولیس ډزې شروع
کړې ، دوه د هغوي کسان مړهٔ شوي وو او
څلور د پولیس ـ ـ ـ خبره ډېره مخکښې
لاړه ـ میډیا هم په کېس مکمل نظر
ساتلے ؤ ـ شاته کسانو ئې د خپلو
وسائلو او اختیاراتو د بې دریغه
استعمال باوجود هم هېڅ اونهٔ کړے شول
ـ ګرفتار شوؤ دري واړو کسانو ته د
مرګ سزا واورولے شوه ـ په باقي دوؤ
خو ئې څهٔ خاص پروا نهٔ وه خو یو خاص
کس ؤ ـ ډېر خاص ـ د ایم پي اے شجاعت
ملک نیازبین او عیاش زوئے خرم ملک ـ
د هر داؤ بائیللو نه پس هغوي براه
راست ماته راغلل ـ سره د یو څو
حاکمانه سفارشونو او ډېر تېر لالچ ،
رنګ رنګ دامونه ئې راته اوغوړول را
اوغوړول ـ ما واپس کړل ـ څو ورځې پس
بیا راغلهٔ ـ ما بیا واپس کړهٔ ـ نو
بیا ئې دهمکۍ دړکې شروع کړې د بل بل
رنګ دباؤ اچولو کوشش ئې هم کولو ،
ورسره ورسره ئې آفرونه او پېشکشونه
هم سېوا کېدل ـ ما ته صرف دومره کول
وو چې خرم ملک ته د جېل نه د تښتېدو
لاره هواره کړم او بس ـ هغوي چې ښهٔ
سترې شول نو آخري دهمکي ئې دا راکړه
چې ستا خو یکي یو زوئے دے ، مړ ئې
غواړې او که ژوندے ـ د هغوي خبره ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



منلے نۀ شوه ـ د خوشحال پحقله مې خپل
احتیاط کولو ـ دغه ورځ د خوشحال
طبیعت ټیک نۀ ؤ ، سکول ته نۀ ؤ تلے ـ
ګلالۍ تلې وه ـ د سکول نه په واپسۍ
کښې پرې د هغوي کسانو فائرنګ اوکړو ـ
د ګاډي ډرائیور هم زخمي شوے ؤ خو
ګلالۍ ـ ـ ـ ـ ـ ،، د احمد علي خان
اواز دروند شو ,, ګلالۍ ژوندۍ خپل کور
ته رانۀ غله ـ څۀ ورځې پس زما هم
بدلي اوشوه ـ سنټرل جېل ته ـ د کافي
سوچ او فکر نه پس زۀ هم ښار ته راشفټ
شوم ـ خوشحال مې د سبق دپاره بهر
واستولو ـ قسم دے یاره ، د ګلالۍ مرګ
مې زړۀ بیخي پرې کړے دے ـ خو ضدي هم
هغه شان یم ،، احمد علي خان په وئیلو
وئیلو کښې مسکے شو ـ ,, هغه سرکشي مې
له سره نۀ اوځي ـ هغه چې تا به راته
لېونے وئیل ،،
,, دا د وفا لارې دي خانه ! ،، ودود
صېب په یقین سره اووې ,,ازمېښتونه به
خامخا لري خو بې منزله هېڅ کله نۀ وي
،،
احمد علي خان اوخندل ,, تۀ وایه کنه
ـ کمې سیپــــارې کښې ئې ؟ ،،
,, خانه ! د ریحان آباد صورتحال شش و
پنج کښې اچولے یم ـ د سباؤن سکولز
پروګرام ډیر ښۀ روان دے ـ نتائج ئې
هم عېن د توقعاتو مطابق دي ـ دلته
ښار کښې هم د سکول او کالج عمارت
تقریباً چې مکمل شوے دے خو په ریحان

(c) ketabton.com: The Digital Library



آباد کښې سرور خان د خرۀ پښه جوړ شوے
دے ، سکول خو سکول هلته نۀ پرېږدي چې
زمکې هم اکثر د هغۀ د لاسه شاړې پرتې
وي، څو څو وارې مې ورته کسان اونيول
خو هغه عاجزان د سرور خان د شرارتونو
او بدمعاشيو توان کله لري ـ واپس لاړ
شي ـ د سرور خان ارادې ښې نۀ دي ،،
د احمد علي خان په زړۀ کښې ډېر څۀ
اوړېدل را اوړېدل خو تر ټولو اهم ،
حقيقت معلومول وو ـ د فريد په فائل
کښې چې کوم څۀ ليکلي شوي وو په هغې
د احمد علي خان باور نۀ کېدو ـ
,, ځوانه ! ستا خاموشي زما د فهم نه
بالا ده ،، احمد علي خان د فريد په
سترګو کښې مسلسل کتل ـ ,, دا ستا
ملامتيا ده د خپل مور پلار په قتل کولو
باندې او که اطمينان ،،
د فريد په سترګو کښې لکه چې لمبې
پورته شوې په انتهائي قهر او حقارت
سره ئې جېلر ته اوکتل ,, تاسو هم ځان
ته انسانان وايئ ـ تور داغ يئ د
انسانيت په نامه ـ کله مو سوچ هم کړے
دے چې د تفتيش په نوم کوم بې سر او
پښو او بې عقله تپوسونه کوئ ، ستاسو
د مقابل روح څومره ازاروي ؟ خو خرڅ
شوي او نيلام شوي خلق په دې خبره څۀ
پوهيږي ،،
,, تا زما د خبرې جواب رانۀ کړو ،، د
احمد علي خان لهجه بې تاثره وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, تـاسو پـه څومـره خرڅ شوي يئ ؟ ،،
فـريـد زهـرجن انـداز کښې اووې ــ
,, دا زمـا د خبـرې جواب نـۀ دے ،،
,, د بـې ضمـيرو سره زمـا هم دومـره خبـره وي ،،
احمـد علـي خـان ډېـر ژور سوچ کښې ؤ ــ هغـه ددې ټـول صورتـحال نـازکئ او سنګيـنئ تـه رسيـدو ــ د فـريـد خلاف ډېـر پـه مـنصوبـه بـندئ او مـنظمې طريـقې سره ګـامـونـه پـورتـه کـولـے شول ــ جېل کښې فـريـد پـه آرام ساتـل د هغۀ دپـاره ګـرانـه خبـره نـۀ وه ــ خو پـرېـشانـي د عدالـتي کـاروايـئ او فـېصلـې وه ــ احمـد علـي خـان د ظلـم او زور د ګـټې ډېـرې تـمـاشې لـيدلـې وې خـو دلـتـه مـنظر بـېخي بـدل ؤ ــ انـتـهـا وه ــ قـاتـل مـدعي ؤ او ــ ــ ــ ــ ــ ــ !! د فـريـد تـعـاون ډېـر ضروري ؤ خـو د هغې نـه هم ضروري اول ددې ټـولـې معـامـلـې زبـر زيـر مـعـلـومـول وو ــ احمـد علـي خـان ، فـريـد واپـس بـارک تـه اولـېږلـو ــ

○

فـريـد د احمـد علـي خـان سره د هغۀ پـه دفـتـر کـښې نـاست ؤ ــ
,, فـريـده بـچے ! ،، د احمـد علـي خـان لـهجه انـتـهـائي نـرمـه وه ,,خبـره ډېـره سـاده ده ــ زۀ تـلے ؤم ريـحـان آبـاد تـه ، ګـل کـلـي تـه ــ ــ ــ د ريـحـان آبـاد د خلقـو خو ژبـئ ده ــ لـوئے وړوکے ويـريـدلـے دے ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا ته پته ده خو ژبه هېڅوک نۀ شي
خوځولے ــ څۀ کسانو زما سره خبره
اوکړه خو ښکاره هغوي هم څۀ نۀ شي
وئيلے ــ د سرور خان او دلاور خان دهشت
د مرګ غوندې د هغوي په زړونو او
ذهنونو خور دے ــ ما دا هم واوريدل چې
سرور خان ستا خلاف ګواهان هم تيار کړي
دي ــ ستا په حق کښې د وئيلو والا
هېڅوک نشته ــ د هر چا په سر د سرور
خان د ظلم تېره توره ځوړند ده ــ سرور
خان په هره حواله ډېر لوئے اپروچ کړے
دے ــ د هغۀ ستا ســــــره هېڅ ســــــروکار
نشته ــ د هغۀ ستا زمکې ، ستا
پولې پټې پکار دي ،،
فريد ډېر په تحمل سره د احمد علي خان
خبره واوريده ــ يوه د طنز نه ډکه
مسکا ئې په شونډو اوځليده ,, سرور
خان تاسو ته څۀ ذمه واري سپارلې ده ؟
،،
د احمد علي خان د مخ تاثرات هم هغه
شان نرم او خواږۀ وو ,,ودود صېب زما
د کالج د وخت ملګرے ؤ ، تۀ ماته لالا
وئيلے شې ،،
,, پوليس والا هم د چا لالا ، کاکا کېدے
شي ؟ ،، د فريد لهجه هم هغه شان وه ــ
,, هر څوک کېدے شي ــ زۀ ستا دپاره
مکمل کوشش کوم ــ خو ستا تعاون هم ډېر
ضروري دے ــ ما ستا د وکيل سره هم
کتلي دي ــ مونږ کوشش کوؤ چې ستا په
حق کښې د ګواهۍ ورکوؤنکي پېدا کړو ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

,, زمــا ګــواه الله دے جېلــر صېب ــ زمــا نــور پــه هيچا بــاور نــشتــه ــ ســتــاسو پــه قــانــون خــو بــالــکل نــه ،،

,, ستــا ضد تــاتــه نــور نــقــصان در رسـولــے شي بــچــے ــ نــهٔ ســهي ــ زمــا سره خــو تــعــاون اوکـړه ،،

,, زمــا پــاتــې څــهٔ دي ،،

,, زهٔ ستــا د انــدرونــي کــشمکش او اضطراب خبــر لــرم فــريــده بــچــے زهٔ پــوهــېږم چــې تــهٔ د کــوم لــوئــے اذيــت او عذاب نــه تــيــرېــږې ــ خــو د ژونـــــــد نــه خــو انــکــار نــهٔ شي کــولــے کــنــه ــ نــه بــچــے ــ د ودود صېب نــال کــړے بــوتــے دومــره کــمــزورے کــلــه کــېدے شي ،،

فــريــد ډېــر پــه عجيبــه غــونــدې نــظر احــمــد عــلي خــان تــه اوکــتــل ــ

,, ګــوره بــچــے ! د حــالا تــو جــاج واخــلــه ــ تــهٔ بــاوجــود ددې چــې د ظلــم ښکــار شوے ئــې ، بــې ګــنــاه ئــې خــو بــيــا هم مــســلــسل پــه دفــاعي پــوزيــشن کــښې ئــې ــ کــمــزورے دفــاعي پــوزيــشن ــ ستــا ضمــانــت مــنــظور نــهٔ شو ــ تــاتــه پــه ځــائــے ددې چــې انــصاف در اورسي د خــپــل ځــان د صفــا کــولــو مــرحــلــه درپــېښه ده ــ ستــا پــه حق کــښې د شهــادت ورکــولــو والا څــوک نــشتــه ــ خــلاف دې تــيــاريــږي ــ ددې هــېڅ بــې هــېڅه ضد دې څــهٔ مــعــنٰــی ؟ ،،

,, زهٔ ســرور خــان تــه سر نــهٔ شم ټــيــټــولــے جېلــر صېب ــ او زمــا پــه تــاسو هم بــاور نــشتــه ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, سر مۀ ته‌یتوه ـ خو لېونتوب خو هم مۀ کوه کنه ـ دغه سکوت دې مات کړه ـ ما سره د خپل زړۀ هره خبره اوکړه ،،
,, زما زړۀ کښې هېڅ خبره نشته ـ زما زړۀ کښې صرف هغه ورځ ژوندۍ ده ، کومه ورځ به چې د سرور خان او دلاور خان خانې په خاورو کښې ګډوم ـ د حالا تو څۀ جاج واخلم ـ د تیارو د یوې ډیوې سره دشمني ده د هوا په ملاتړ ـ بس ،،
,, تیارو هېڅ کله رڼا ته ماتې نۀ ده ورکړے بچے ،،
,, زما یقین دے ،،
د خپل تکلیف نه راته وایه ،، احمد علي خان ډېر په شفقت سره اووې ـ

O

عدالت کښې پېشۍ شروع شوې وې ـ تاریخونه بدلیدل رابدلیدل ـ د سرور خان مکمل کوشش ؤ چې په هره طریقه وي خو فرید وسله کیږدي ـ خو د فرید په سینه کښې خو اور بل ؤ ـ هغۀ به د سرور خان خبره منله ؟ څو څو وارې ئې جېل ته ورته کسان رالیږلي وو خو فرید ورته یکي یوه خبره کړې وه ـ
,, زما مې د بابا جان په روغ نیت قسم وي ـ سرور خان به دا ارمان ګور ته وړي د څان سره ،،
احمد علي خان فرید ته د هر ممکن سهولت او آرام بندوبست کړے ؤ ـ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په آرام کله ؤ ــ کله کله به ورته دا هر څهٔ خوب اوښکاريدل ــ بې يقينۍ غونډې به واخستو ــ خو دا کيفيت به ئې عارضي او انتهائي مختصر ؤ ــ زهرجن حقيقت به ئې په رګ رګ کښې اوبهيدو نو د سر نه به ئې شنه لوخړه اوختله ــ

د احمد علي خان دفتر د هغهٔ د خپلو مئينو سره د ملاقات کولو ځائے ؤ ــ نن هم د خپل نيا نيکهٔ ، امبر ، ارسلا جان ، عفت ، وفا او سر عديل سره ناست ؤ ــ ټول کافي پريشان ښکاريدل ــ دوه ورځې پس د عدالت د فيصلې د راتلو ورځ وه ــ اوس اوس د فريد وکيل راغلے ؤ ــ هغه هم ډير چُرت کښې نهٔ ؤ ــ سرور خان په عدالت کښې کافي ګواهان پيش کړي وو ــ د فريد وکيل هره مرحله د خپلې تجربې او ذهانت په توره وهلې وه ــ خو داسې ښکاريده چې هر کس بيخي سترګې پټې کړي دي ــ سترګې غړولو ته هډو څوک تيار نهٔ دے ــ

د فريد نيکهٔ اووې ,, فريده بچے ! دلاور خان راغلے ؤ ،،

,, ګل کلي ته ؟ ،، د فريد لهجه تيزه وه

,, او ،، بابا سر اوخوځولو ــ ,, ډيرې دړکې ئې کولې ــ وئيل چې د فريد سره دا آخري موقع ده ــ زمونږ خبره دې اومني نو سبا به د جيل نه بهر وي او که ضد کوي نو هم هغه ئې ځائے دے ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فـریـد پـه سـتـرګـو کـښې لـکـه اور بـل ؤ ـ سینـه ئـې ډډېـده ، تـشېـده امـبـر سـلـګـۍ اوکـړه ـ
,, ګـل لالا ـ ډېـرې ګـنـده خـبـرې ئـې کـولـې ـ زۀ ئـې نـۀ شم وئـیـلـے ـ مـاتـه ئـې وې ـ ـ ـ ـ ،، امـبـر پـه ژړا شـوه ـ
د فـریـد پـه سـکـروټـو سـتـرګـو کـښې اوښـکې اوځـلـیـدې ـ غـاښـونـه ئـې ډېـر کـلـک جـوخـت کـړي وو ـ
,, یـا الله ،، د فـریـد آواز لـــــــړزیـدلـے ؤ ، حـرف حـرف ئـې پـــــه ویـنـو ،
اوښـکـو لـړلـے ؤ ،، یـا الله ! لـوئـے خـو تـۀ ئـې ـ لـوئـے خـو تـۀ ئـې ،،
د فـریـد پـه مـخ اوښـکـو را اودانـګـل او د مـاشـومـانـو پـه شـان پـه ژړا شـو ـ بـیـا ئـې امـبـر تـه اوکـتـل ـ
,, ژاړه مـه خـورکـې ـ ټـول بـه خـېـر شي ،، څـۀ ساعت خـامـوشي وه ـ فـریـد وفـا تـه مـخ ور واړوۀ ـ
,, وفـا ! تـۀ بـه بـیـا دلـتـه نـۀ راځې ،،
,, فـریـده ـ ـ ـ ـ ،، وفـا څـۀ وئـیـل خـو خـبـره ئـې پـوره نـۀ شـوه ـ
,, نـۀ بـه راځې ،، فـریـد اوغـرمـبـېـدو ـ خـو فـوراً ورتـه احـسـاس اوشـو چې نـور خـلـق هـم دلـتـه نـاسـت دي ـ ارسلا جـان او عـفـت تـه ئـې اوکـتـل ,, ارسلا کـاکـا ! عـفـت آپـا !! تـاسـو تـه پـتـه ده د ټـول صـورتـحـال ـ خـدائـے دې نـۀ کـړي ـ ـ ـ ,, فـریـد خـپـلـه خـبـره لـږه اودرولـه ,, احـتـیـاط ضـروري دے ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ئې سر عدیل ته اوکتل ـ ,, سر ! بخښنه غواړم ـ ډېر زیات ډسټرب یم ،، سر عدیل ورته په مینه مسکې شو ,, نه بچې ! مونږ دلته راغلي ددې دپاره یُو چې ستا پریشاني کمه کړو ـ تاته ددې خبرې احساس او اطمینان درکړو چې په دې جنګ کښې ته یواځې نه ئې ، مونږ ټول ستا سره یُو ،،

د فرید نیا ادې هېڅ نه وې ـ د پرېشانۍ عالم ؤ ـ بس د تسبو دانې ئې یوه یوه اړولې او شونډې ئې ورو ورو خوځېدې ـ د صبر یو دردیدلې رنګ ئې په مخ خور ؤ ـ

O

عدالتي فېصله راغله ـ د مکر په ثبوتونو کښې د کوم ځائې نه صداقت راغلې ؤ ـ ګواهان څنګه پېدا کړي شوي وو ـ د کوم کوم ځائې نه احکامات صادر شوي وو ـ څوک خرڅ شوې او څنګه څنګه خرڅ شوې ؤ دا ټوله د پردې د شا قیصه وه ـ پټ معاملات وو ـ ښکاره صرف دا وو چې خلقو اولیدل چې فرید ته عمر قېد واورولې شو ـ د فرید نیکۀ بابا په سترګو کښې راغلې اوښکې پاکې کړې ـ هغه د فرید د وکیل سره د عدالت د کمرې نه بهر را روان ؤ ـ عفت په زوره زوره ژړل وفا ورته مخ ته اودرېده ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, مـۀ ژاړه مـورې ــ ژړا خـو کـمـزوري خـلـق کـوي ،،
,, زړۀ دے څـۀ کـانـړے خـو نـۀ دے لــورې !
څـنـګـه ئـې صـبـر کـړم ــ دې غـېـږه کـښـې مـې لـــــوئـے کـــــړے دے فـــــريـــــد ــ وئ خــــدايـــه دومـره ظـلـم ــ ــ ــ،،
,, خـېـر دے مـورې ! دا بـه د الله رضـا وه ،، وفـا خـپـلـې مـور تـه تـسـلـي ورکـولـه خـو دلـتـه ئـې لـهـجـې خـپـلـه هـم تـيـنـدک اوخـوړه ــ يـو بـې اخـتـيـاره غـريـو ؤ چـې پـه مـرى کـښـې ئـې اونـخـښـتـو ــ بـيـا ئـې پـه ځـان هـېـڅ قـابـو اونـۀ سـاتـلـے شـو او خـپـلـې مـور تـه ورتـر غـاړه وتـه ــ فـريـد تـه د عـمـر قـېـد سـزا واوروليې شـوه ــ خـو سـرور خـان او دلاور خـان خـوشـحـال نـۀ وو ــ چـې د عـدالـت د احـاطـې نـه بـهـر راوتـل نـو تـکـبـر خـو ئـې پـه انـداز کـښـې ؤ ولـې خـوشـحـالـي ئـې پـه مـخـونـو نـۀ وه د هـغـوي ارمـان نـۀ ؤ پـوره شـوے ــ

O

نـن پـه جـېـل کـښـې د فـريـد د عـمـر قـېـد وړومـبـی ورځ وه ــ

O

دا غـټـې د پـاخـۀ عـمـرښـځـې د دلاور خـان د طـرف نـه راغـلـې وې پــــــه عـفـت خـو سـر ګـرځـېـدۀ ــ حـق حـېـرانـه وه چـې څـۀ ورتـه اووائـي ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــوې ښځې پــه نــاصحانــه انــداز کښې سر اوخوځوۀ ــ ,, کم عقلې ! تـۀ لا پـه دې کښې سوچونه کوې ــ خـانـان دي د لُـور رشته غوارې شکر نـۀ اوباسې ،، عفت بـه څۀ وئـيل ــ د هغې عاجزې خو د خولې لاړې هم اوچې شوې وې ــ
بـلـې ښځې اووې ,, مـزې بـه کـوې مـزې ــ د خپلې بـرخې خـانـه بـه ئـې دلاور خـان تـه د رشتو څۀ کمے دے ــ پـه خپلو پښو تـبـر مـۀ وهه ،،
عفت ورتـه پـه لاچارۍ سره اوکـتـل ,, خـورې ! د دلاور خان خو يـوه ښځه شته کـنـه او يـوې تـه ئـې طلاق هم ورکـړے دے ،،
,, خـانـان دي خـانـان ،، وړومبۍ غټې ښځې بـيـا د پـوهـولـو پـه انـداز کـښې اووې ــ ,, ستا ددې سره څۀ کـار دے ــ چې څو ودونـه ئـې دي او څو ئـې طلاقې کـړي دي ــ لـېونـۍ ئـې ــ ــ ــ ستـا لُـور خـو دلاور خـان پـخـپـلـه خوښه کـړې ده ــ مـزې بـه کـوې مـزې ،،
,, خـورې ــ ــ ــ ــ ،،
,, خـورې مـورې پـرېـږده ــ خـپل نـصيب پـه لـتـه مـۀ وهـه ــ څۀ شوه وفـا بـچۍ ؟ ،،
,, وفـا د کـالـج نـه نـۀ ده راغـلې ــ خـورې ! د وفـا پـلار هم کـور نـشـتـه ــ زۀ بـه د هغـوي سره صلاح اوکـړم ــ دا فـېصلـه زۀ خـو نـۀ شم کـولـے کـنـه ،،
,, يـه کم عقـلې ! پـه دې کـښې د تـپـوسـونـو څۀ حـاجت دے ــ د خـپل بـخت پـه بـيـدارۍ نـۀ پـوهـېږې ــ هغـوي خـانـان دي پـه دې خـبـره بـه خفـه شي خـو څـه خېر دے ــ مـونـږ بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا بیا راشوــ او **هن** ! سړے دې پوئې کړه ــ ورځې به مو بدلې شي ــ خیال کوئ د خانانو خفګان ښۀ نۀ دے ،،
ښځې پاځېدې !
وفا د کالج نه راغله خو عفت ورته هېڅ اونۀ وے ــ هغه ټوله ورځ لکه په پل صراط ولاړه وه ــ مازیګر چې ارسلا جان راغے نو ټوله قیصه ئې ورته تېره کړه ــ ستړے ستومانه راغلے ارسلا جان اوچې شونډې ناست ؤ ــ په مخ ئې د ویرې او اندېښنو رنګونه تلل راتلل ــ کافي ساعت په سوچ کښې ډوب ناست ؤ ــ بیا ئې په ډېرې فکرمندۍ سره وفا ته اوکتل ــ د وفا په مخ پریشاني هم وه او برهمي هم ــ
,, زۀ خو هېڅ نۀ پوهېږم ،، عفت ډېر په پریشانۍ سره اووې ,,که اقرار ورته کوؤ نو د خپلې لُور ژوند تباه کوؤ او که انکار کوو نو ــ ــ ــ ظالمان دي ــ زور ئې نۀ لرو ،،
,, ډېره ګرانه خبره ده ،، ارسلا جان په تفکر سره اووې ــ
وفا خـــــاموش ناسته وه ــ د خپل مــــور او پلار سوداګانې ئې شمارلې ــ پلار ته ئې اوکتل ,, داجي ! دې کښې څۀ ګران دي ــ چې زمونږ نۀ ده خوښه نو نۀ مو ده خوښه ،،
ارسلا جان مړاوے غونډې مسکے شو ــ ,, ستا خبره د وئیلو پورې خو ټیک ده لورې خو انکار کول د خانانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمني کول ده ـ او د هغوي سره دښمني
څوک کولے شي ،،
,, بیا ورته اقرار اوکړئ ،، وفا د
مور پلار په سترګو کښې اوکتل ـ
,, دا هم ګرانه ده ،،
,, بچے ! زما خو عقل بیخي کار نۀ کوي
،، عفت سر اونیوۀ
,, زما عقل کارکوي مورې ،، وفا په
اعتماد سره اووې ـ ,,داجي مونږ ریحان
آباد پرېږدو ـ بس دے دلته زمونږ نور
ژوند نۀ کیږي ،،
ارسلا جان او عفت په حیرانی سره وفا
ته اوکتل ,,لورې؟ ،،
,, او داجي ! بله هېڅ لار نشته ،،
,, چرته به ځو ـ دا دومره اسانه خبره
خو نۀ ده ،،
,, دومره ګرانه هم نۀ ده ـ
د الله جهان ډېر لوئے دے ـ دنیا د
ریحان آباد پورې نۀ ده محدوده ،،
,, لورې ـ ـ ـ ـ ،، ارسلا جان پس و
پېش کښې ؤ ـ
,, داجي ! تاسو فېصله اوکړئ ـ مونږ
دلاور خان ته اقرار هم نۀ شو کولے او
انکار هم نۀ شو کولے ـ نو بیا ددې
دواړو خبرو په صورت کښې مونږ دلته
څنګه پاتې کېدے شو ؟ زور ئې لرئ؟،،
,, لورې ! چرته به ځو ؟ ،، ارسلا جان
په ډېر حېرت او پرېشانی سره اووې ـ
,, هر چرته چې وي ـ خو د ریحان آباد
نه روان یُو ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارسلا جان عفت ته اوکتل ــ عفت ئې په لاس باندې لاس کېښوه، مه خفه کېږه ــ بله خو څۀ لاره هم نشته ــ الله زمونږ مل ملګرے دے،،
ارسلا جان يو سوړ اسوېلے اوکړو ,, ښۀ ده نو بيا تادي کول پکار ده ــ وخت دومره نشته ،،
لږ ساعت پس درې واړو د کور ضروري سامان بندولو ، يو ځائے کولو ــ

O

احمد علي خان په هر رنګ د فريد ډېر خيال ساتلو ــ هغۀ نۀ غوښتل چې د فريد دغه سوخت او له حده زيات اضطراب ددۀ په زړۀ او ذهن داسې نقشونه جوړ کړي چې ورسره ئې د شخصيت روغتيا او نفسياتي صحت مندي متاثره شي ــ څو څو وارې به ئې ورسره ورځ کښې ملاقات کوۀ ــ احمد علي خان غوښتل چې پۀ هر حال وي خو د فريد کم از کم د ځان پحقله دغه بې باوري ختمه کړي ــ ودود صېب او احمد علي خان د يو احساس او يوې نظريې لرونکي ياران وو ــ احمد علي خان کله غوښتۀ چې فريد دې نور هم پامال شي ــ هغه ددې خبرې منلو ته هډو تيار نۀ ؤ چې د ودود صېب نظريه شکست خوړلے شي او د هغۀ پرورش دومره خام کېدے شي چې د وختونو تاؤدۀ ساړۀ پرې خپل رنګونه اوخيژوي ــ د احمد علي خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه فـريـد بـانـدې مـکمل تـوجه وه ـ هغۀ د فـريـد د شخصيت ورانـيدل هېڅ کـلـه نـۀ غوښتل ـ د احساس او نـظريـې د اشـتراک نـه علاوه پـه هغۀ بـانـدې د ودود صېب د يـارئ حق هم کم خو نـۀ ؤ ـ
فـريـد د شديـد انـدرونـي اضطراب سره مخ ؤ ـ هغۀ ځان د بـې وسئ پـه آخري حدونـو ولاړ مـحسوسولـو ـ ددې هر څۀ د کېدو نـه پـس هغۀ مـسلسل يـوه نـامـعلـومـه او بـې نـومـه شان ويـره مـحسوسولـه ـ ويـره وه خو خدوخال ئې نـۀ وو ـ خو اوس پـتـه نـۀ وه اوس بـه ئې ښکاره او مـنظر مـنظر د فـريـد پـه زړۀ او ذهن يـرغل کـولـو ـ خو هغه مـنظر بـه کـلـه هم هغۀ لـيدے نـۀ شو ـ سترګې بـه ئې پـټې کړې او بـې اختـيـاره بـه ئې چغې کړې ,, نـا ـ نـاـ ـ ـ ـ ـ نـا ،، او بـيـا بـه پـه چغو چغو پـه ژړا شو ـ پـه جېل کـښې قـسم قـسم قـېديـان وو ـ د هر چـا خپـلـه خپـلـه قـيصه او خپـل خپـل تـکـلـيف ؤ خو چې فـريـد بـه ئې پـه داسې کېفـيـتـونـو او عذابـونـو کـښې ګېر اولـيـدو نـو د هغوي نـه بـه خپـل درد او تـکـلـيف کم از کم هغه وخت خـــــو ضـــــرور هېر شـــــو ـ فـريـد تـه بـه د خپـلـې مـاشومـې خور سلګئ بـيـا بـيـا پـه سمـاعت کـښې انـګـازه شوې ـ
,, ګل لالا ! ډېرې ګنده خبرې ئې کـولـې ـ زۀ ئې نـۀ شم وئـيـلـے ـ مـا تـه ئې وې ـ ـ ـ ـ ـ ،، او بـيـا بـه د هغۀ پـه سمـاعت کـښې د امـبـر مـسلـسل ژړا وه ـ د فـريـد نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه منظر هم نۀ هیرېدو چې مور او پلار ئې په وینو کښې لت پت مړۀ پراتۀ وو او د دلاور خان شیطانې او بې حیا سترګې د امبر په مخ کښې خخې وې ــ بیا به ئې د دلاور خان معني خیزه او شیطاني لهجه په غوږونو کښې انګازه شوه ــ

,, جینۍ دا ګوزار دې پور شو په ما او دلاور خان هېڅ کله په ځان باندې د چا بدل نۀ پرېږدي ــ دغه قرض به دې خامخا لنډوم خو لا ئې وخت نۀ دے ــ لا دې وي ــ ــ ــ لا ــ ــ ــ ،،

فرید به په دواړو لاسونو سر اونیوۀ او چغې به ئې کړې او به ئې ژړل ــ د جېل په قېدیانو کښې به چا ترې په نرمۍ سره تپوس اوکړو ــ

,, وروره تاته څۀ تکلیف دے ؟ مونږ ته اووایه ــ زړۀ به دې ورسره سپک شي ،، فرید به ورته زخمي زخمي اوکتل ,, زړۀ خو به مې هله سپکېږي کله چې د سرور خان او دلاور خان وینې اوڅښم ،،

د فرید د شپو خوبونه حرام شوي وو ــ سترګې به ئې ورغلې نۀ وې چې قسم قسم پریشانه کوۀنکي خوبونه به ئې بیا بیا لیدل خو نن خو حد اوشو ــ دلاور خان ئې خوب کښې لیدو ــ هم هغه شېطاني خندا ، سرې سرې وحشتناکې سترګې ، په مخ هم هغه سفاکانه تاثرات ، امبر ئې په ژړا لیده ــ فرید ته ئې رامنډې وهلې ,, ګل لالا ، ګل لالا ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انـتـهـائـي پـريـشـانـۍ پـه عـالـم کـښې د فـريـد سـتـرګـې اوغړېـدې ـ بـدن ئـې ټـول خـولـې خـولـې ؤ ـ سـاه ئـې داسې ختـلـې وه لـکـه مـيـلـونـه مـنـډه ئـې وهـلـې وي ـ ګېـر چـاپـېـره ئـې اوکـتـل ـ نـور قـېـديـان اودهٔ وو خـدائـے خـبـر چې د شپـې څهٔ وخـت ؤ ـ فـريـد د جېـل د دنـګـو ديـوالـونـو تـصـور اوکړو او ځـان ئـې پـکـښې بـنـديـوان اولـيـدو ـ نـو خـپـلـه خـور ورتـه ډېـره بـې اسـرې ، بـې وسـه او پـه بـيـابـان مـحـسـوس شـوه ـ بـې اخـتـيـاره پـه ژړا شـو ـ نـوره ټـولـه شـپـه ئـې ويـښـه او پـه کـرلـو ريـبـلـو کـښې تـېـره کړه ـ چې سحر شـو نـو دومـره ورځـو کـښې ئـې نـن احـمـد عـلـي خـان تـه د خـپـل يـو ضـرورت نـه اووې ـ

,, مـاتـه زمـا خـور مـلاقـات تـه راولـئ ـ يـواځې ـ نـور هېڅـوک نـه ،،

احـمـد عـلـي خـان د فـريـد پـه مـخ بـې قـراري او بـې آرامـي لـيـدلـه ـ

,, صرف امـبـر ؟ ،، احـمـد عـلـي خـان ډېـر پـه غـور فـريـد تـه کـتـل ـ

,, او ـ ـ ـ صـرف امـبـر ،،

,, ښـهٔ ده ،، احـمـد عـلـي خـان ورتـه ډېـر پـه روڼ تـنـدي سره مـسـکـے شــــو ،، خـو فـــــريـــــده ! دومـره بـوج پـه ذهـن مـهٔ سـاتـه بـچـے ـ تـا د ودود صېـب نـه دومـره حـوصـلـه هـم نـهٔ ده زده کړې ؟ ،،

فـريـد خـامـوش ؤ ـ احـمـد عـلـي خـان تـه ئـې کـتـل ـ احـمـد عـلـي خـان د فـريـد پـه اوګـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس کېښو او ډېر په مينه ئې ورته اووې ,, هم دغه فريد به ئې ـ ـ ـ دومره به هم نۀ ئې بدل شوے او دا وخت به تېر شوے وي ـ تاته خو ستا ژوند په انتظار دے بچے ،،
امبر راغلې وه ـ دواړه ورور خور کلک غاړه وتل او ښۀ ئې اوژړل ـ احمد علي خان د هغوي د خبرو په دوران کښې بهر اووتو ـ د هغۀ دفتر د فريد د ملاقات ځائے ؤ ـ
,, دا څۀ اوشو ګل لالا ،، د امبر سلګو اووې ـ ,, تۀ به کله راځې؟ ،،
,, امبر ! زما نيازبينې خورې ! ،، د فريد لهجه اوښکې وه ـ ,, دا هغه دنيا نۀ ده کومه چې زمونږ په زړونو او سوچونو کښې ده ـ دا د نفرت جهان دے ـ د کرکې دنيا ده ـ امبر ستا زما سره څومره مينه ده ؟ ،،
,, تاته پته ده ګل لالا ،، امبر د فريد په سترګو کښې اوکتل ـ
,, او زما ستا سره څومره مينه ده ؟ ،، فريد لکه په تنويمي کېفيت کښې خبرې کولې ـ ورکې ، خوبولې خوبولې ـ
,, ماته پته ده ګل لالا ،،
,, امبر ! زۀ بخښنه غواړم زما خورکې ،، فريد د امبر د سترګو اوښکې پاکې کړې ـ ,, زۀ ستا دپـــاره نـــور هېڅ نـــۀ شم کـــولے زۀ تا په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګل کښې يـوائې نـۀ شم پـرېښودے ـ زمـا نـور
هېڅ وس نـشتـه ـ ګـل لالا دې مـعـاف کـړه خـورکـې ،،
فـريـد د امـبـر د سـتـرګـو نـه اوښکې بـيـا
بـيـا پـاکـولـې ـ ـ ـ د فـريـد لاسونـــه د
امـبـر پـه مخ ورو ورو راخـوئـيـدل ـ عن تـر دې چې مـرئ تـه
ئـې راغـلـل ـ
،، بـابـا جـان او مـور جـانـه مې د خـپـلـې
نـيـازبـيـنې امـبـر لارې تـه ګـوري،، فـريـد پـه
بـړق بـړق ژړل ـ د دواړو لاسـونـو ګـرفـت ئـې
ورو ورو د امـبـر پـه مـرئ سـخـتـيـدو ـ امـبـر
پـه ډېـرې حـېـرانـئ سره خـپـل ګـل لالا تـه کـتـل
ـ هـېـڅ نـۀ پـوهـېـده ـ فـريـد سـتـرګـې پـټـې
کـړې ـ د امـبـر رنـګ ورو ورو سـور کـېـدۀ ـ
پـه سـتـرګـو کښې ئې پـه يـو سـاعـت کښې بې
شمـېـره سـوالـونـه ، تـپـوسـونـه د حـېـرانـئ
پـه رنـګ لـړلـې څـلـيـدل ـ فـريـد د خـپـلـو
دواړو لاسـونـو مـکـمـل زور د امـبـر مـرئ تـه
ورکـړو ـ د هـغـې مـاشـومـې خـو لاسـونـه هـم د
فـريـد لاسـونـو تـه پـورتـه نـۀ شـول ـ
،، فـريـده ! ،، احـمـد عـلـي خـان دفـتـر تـه
پـه رانـنـوتـو کښې لـکـه د زمـري اوغـرمـبـيـدو
ـ فـريـد سـتـرګـې اوغـړولـې ، د دفـتـر د
دروازې طـرف تـه ئـې اوکـتـل ـ احـمـد عـلـي
خـان چې څـو ځـان رارسـولـو نـو امـبـر ړنـګـه
پـنـګـه د فـريـد پـه غـېـږ کښې پـريـوتـلې وه ـ
،، ځـنـاوره ! ،، د احـمـد عـلـي خـان د
سـتـرګـو نـه د اور بـڅـري خـتـل ـ زر زر ئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امبر وجود په غېږ کښې راواخستو او
د ور په لور ئې منډه کړه ـ په وتو
وتو کښې ئې چاته آواز کړے ؤ ـ
,, جمال ـ ـ ـ اعزاز !! ،،
فرید اوچې شونډې او بې تاثر مخ ،
ځوړند سر ناست ؤ ـ نن پرې د لېونو
ګمان کېدو ـ

o

فرید درې ورځې احمد علي خان اونۀ
لیدو ـ په ځلورمه ورځ ئې خپل دفتر ته
بللے ؤ ـ د احمد علي خان په مخ
انتهائي سنجیدګي خوره وه ـ فرید ته
ئې اوکتل نو بې واره ئې په سترګو کښې
اوښکې اوځلیدې ـ ,, ما کله تصور هم
نۀ ؤ کړے چې د ودود صېب د بچو به دا
حال کیږي ،،
د فرید شونډې اوخوځېدې ,, امبر ،،
احمد علي خان ورته په برند نظر اوکتل
,, مړه دې کړه ،، بیا ئې اواز یو دم
تېز شو ,, اودې وژله ،، د هغې
معصومې په روح به څۀ تېر شوي وي چې
کله هغې ته دا احساس شوے وي چې د خپل
ورور دلاسه مري ،،
فرید لکه د بُت ساکت ولاړ ؤ ـ سترګې ئې
خالي خالي او د تاثر نه عاري وې ـ
,, څۀ فرق دے په تا کښې او په سرور
خان کښې ،، احمد علي خان په برهمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخ بل خوا واړولو ــ ,, تا زما باور مات کړو فریده ،، دا د احمد علي خان هغه نرمه لهجه نه وه چې زړونه به پرې ټکوریدل ــ
ساعت پس د احمد علي خان په مخ لږ شان نرمي راغله ــ د خپلې کرسۍ نه راپاسېدو ــ څو قدمه مخکښې راغے او فرید ته مخامخ اودریدو ــ ډېر په سوچ سره ئې د فرید زخمي زخمي سترګو کښې کتل ــ د احمد علي خان سترګې نمجنې وې ــ
,, زما سره بله هېڅ لار نۀ وه ،، د فرید اواز دروند ؤ ــ ,, ما خپله خور په ځنګل کښې نۀ شوه پرېښودے ،،
,, زۀ حېران یم ،، احمد علي خان ډېر په قــــلار اووې ,, د ودود صېب زوئے دومره کمزورے او کم همته څنګه کېدے شي ،،
فرید یو دم احمد علي خان ته ورتر غاړه وتو ــ لاسونه ئې ترې نه کلک چاپېر کړل او د ماشومانو په شان په ژړا شو ــ ,, لالاجي ! زۀ د ډېر لوئے اذیت سره مخ یم ــ زۀ ماتیږم ، نړیږم ، خو زۀ ماتیدل نۀ غواړم ــ په ما ډېر لوئے قرض دے هغه پرې کول غواړم ــ زما یو فرض دے هغه ادا کوم غواړم ــ لالاجي ! زما ستاسو مرسته پکار ده ــ زۀ هېڅکله کمزورے نۀ یم خو انسان یم ، بشر یم ، په ما کښې اور بل دے خو زۀ پخپله په هغه اور کښې سوزېدل نۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوارم ــ تاسو خو مې د بابا جان ملګري يئ کنه ــ پليز ماته لاره اوښايئ ــ ،،
د احمد علي خان په سترګو کښې اوښکې تلې راتلې ــ فريد ئې په ملا ورو ورو ټپولو ــ بيا ئې ډېر په قلاره د ځان نه جدا کړو ــ
،، کښېنه ،، احمد علي خان د يوې کرسۍ طرف ته اشاره اوکړه ــ خپله هم کښېناستو ــ څۀ ساعت ئې فريد ته کتل بيا ئې په نرمۍ سره اووې ــ ،، د امبر په حقله تۀ مجرم ئې خو ــ ــ ــ ــ ــ زۀ ستا اندروني کشمکش ، ستا په نفسياتو د حمله کوؤنکو تيارو د شدتونو او زور اندازه لرم او د هغې په نتيجه کښې ستا ذهني کېفيتونه هم ګورم نو ــ ــ ــ ــ ــ ،، احمد علي خان يو ساعت ته غلے شو ، څو شيبې ئې فريد ته په غور کتل ، بيا ګويا شو ،، تۀ د نفرت د لارې سړے نۀ ئې فريده ،،
،، زما په سينه کښې نفرت نۀ دے لالاجي ،، فريد ورو شان اووې ــ ،، انتقام دے او دا انتقام به زۀ پالم ،،
احمد علي خان پُر خيال انداز کښې سر خوځولو ،، ابتدائي تربيت هېڅکله غېر مؤثر نۀ وي ــ او تۀ خو د ودود صېب د سېوري لاندې لوئے شوے ئې ــ زۀ نۀ ګڼم چې ودود صېب به خپله نظريه ، خپل سوچ او درد خپل بچي ته سپارلے نۀ وي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـارضي کېفـيـتـونـه دي فـريـده ! دا پـه ځـان حـاوي کـوه مـه ،،
فـريـد ډېـر پـه حېـرانـۍ احـمـد علـي خـان تـه اوکـتـل ,, لالاجي ! دا تـاسو څنګه وئـيـلـے شئ ـ زمـا خـو دنـيـا ورانـه شـوه ـ زمـا مـور پـلار، امـبـر ، ددې هـر څۀ ذمـه وار څوک دي ؟ زۀ سرور خـان او دلاور خـان څنګه مـعـاف کـولـے شم ،،
,, د امـبـر دپـاره تـۀ ذمـه وار ئـې ، دا ستـا جـرم دے ،، احـمـد علـي خـان د فـريـد پـه سترګـو کښې اوکـتـل ,, تـۀ ويـريـدلـے ئـې ، تـاتـه هـر څۀ تـور تـور ښکـاري ، ستـا پـه ذهـن تـيـارې خـورې دي ـ او پـه تـيـارو کښې هېڅ کـلـه د رنـګـونـو تـمـيـز نـۀ کـيـږي ،،
,, رښـا چـرتـه ده ،، د فـريـد پـه لـهـجـه کـښې سوخـت ؤ ـ
احـمـــد علـي خـان مـسکـے شـو ـ هغۀ غـوښـتـل چې د فـريـد خـامـوشي
مـاتـه شي او فـريـد اوس د هغۀ سره د زړۀ خـبـرې شريـکـولـې ـ
,, ستـا د نـظـر زاويـه بـدلـه شـوې ده ،، د احـمـد علـي خـان لـهـجـه نـرمـه وه ـ ,, رښـا زۀ يـم ، رښـا تـۀ ئـې ، د ريـحـان آبـاد خـلـق کـه پـه يـو اتـفـاق راپـاسي نـو سرور خـان د هغـوي څۀ کـولـے شي ؟ د سرور خـان سره لـښکـرې خـو نـشـتـه ـ يـاد ساتـه څوک د چـا استـحـصـال هېڅ کـلـه نـۀ شي کـولـے ـ زمـونـږ ويـريـدل او خـامـوشي د ظـالـم زور زيـاتـوي ـ يـو انـسـان د بـل انـسـان نـه بـالا او بـرتـر څنګه کـېدے شي،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ستاسو قانون ئې مرستيال وي ،،
فريد اوويې ـ
,, قانون حقيقتاً د ټولودپاره دے ،،
احمد علي خان اوويې ,,خو داسې ده چې
مونږ اکثر د خپلې ناپوهۍ په سوب د
خپلو حقوقو نه ځان دستبردار تصور کړے
وي ـ چرته چې تيارۀ وي نو هلته غلا هم
کيږي او غل هم پټيږي ـ خو د رڼا خبره
نوره ده په رڼا کښې نۀ څوک په اسانه
جرم کولے شي او نۀ پټيدے شي بس هم
دومره خبره ده ،،
د فريد سترګې اوځليدې ـ په احمد علي
خان ئې زړۀ خوږ شو ـ
,, بابا جان به هم ، هم داسې خبرې
کولې ,, فريد سوچ اوکړو ـ خو د بابا
جان د ياديدو سره ئې زړۀ بيا څړيکه
اوکړه ـ يو لمبه لمبه احساس ئې په رګ
رګ کښې خور شو ـ د يو لوئې او مسلسل
کشمکش نه ډکو دغه کېفيتونو فريد د
شديد اضطراب سره مخ کړے ؤ ـ

فريد څو ورځې بيخي اودۀ شوے نۀ ؤ ـ
هغه په خپلو کېفيتونو نۀ پوهيدو ـ د
بې وسۍ انتها وه ـ اوس خو ورسره څۀ
عجيبه شان ملامتيا هم مل وه ـ چرته د
شپې په آخرنۍ برخه کښې به ئې که د څۀ
ساعت دپاره سترګې پټې هم شوې نو رنګ
رنګ خوبونو ، منظرونو به ئې په زخمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

زخمي احساس يـرغل اوکړو او بې واره بـه ئـې سـترګې اوغړېدې ، بـيـا بـه تـر سحره پـورې ويـخ نـاست ؤ ، دردېدلے درېدلے ــ ،، بس دے مـات شو نـظر ئـې ،، دا بـه ئـې د مـور جـانـې مـيـنـه نـاک اواز ؤ ــ
،، خـور دې ده کـنـه او بـيـا درنـه کـشره هم ده نـو مـيـنـه خـو بـه دې ورسره خامخا وي ،، ودود صېب بـه ګـويـا ؤ ــ
،، ګـل لالا ښـۀ ډارن ئـې ښـه ،، امـبـر بـه ورتـه پـه خـنـدا وه ــ
فـريـد د احساس د قـيـامـتـونـو عذابـونـو نـه تـېرېـدو خـو نـن ئـې څـۀ بـل رنـګ خـوب لـيـدو ، جـدا ــــ بـيـخـي جـدا ــ
مـاشوم فـريـد ئـې لـيـدو چې د بـابـا جـان سره نـاست ؤ ــ
،، بـابـا جـانـه ! پـتـه نـشـتـه چې ولـې ؟ خو زۀ کـلـه کـلـه اوويـريـږم ،، مـاشوم فـريـد څۀ ورکـه شان لـهجه کـښې اووې ــ
،، ام هم ــ ــ ــ ــ ،، ودود صېب ورتـــــــــه داسې د سرزنـش کـــــولــــــو پـــــــه
انـداز کـښې اوکـتـل ــ ،، دا سـتـا د ويـرو او انـدېـښـنـو عـمـر دے ؟ انـدېـښـنـو تـه هيڅ کـلـه خـپـل زړۀ کـښې ځـائې مـۀ ورکـوه ــ دا د يـقـيـن جـرړې کـمزورې کـوي ،،
،، پـتـه نـشـتـه چې ولـې ؟ ،، د فـريـد لـهجه بـدلـه وه ــ
ودود صېب ورتـه پـه ځـيـر اوکـتـل او ورتـه مـسکـے شو ،، شيطان د انـسان ډېـر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـيـزدې دښمن دے د بـابـا څـانـه ! خـپـل سـوچ همېشه مـسلمـان سـاتـه ،،
,, مـسلمـان سوچ څنګه وي ؟ ،، فـريـد تـپـوس اوکړو ـ
,, پـه لـوئـې خداۍ کـامـل يـقـيـن او پـه هـر حـال کـښې صـبـر او شکـرـ دغه د مـسلـمـان سوچ بـنـيـاد دے ،، ودود صېب ، فـريـد تـه ډېـر پـه غـور کـتـل ـ
,, بـابـا جـانـه ! انـسـان ډېـر کـمـزورے دے کـنـه ـ ـ ـ ـ ؟ ،،
ودود صېب ، فـريـد څان تـه جوخت کـړو ,, کمزورے هم او نـيمګړے هم ـ پـوره او قـادر صرف د الله ذات دے ـ الله پـاک د زړونـو پـه واړه سوداګـانـو ، پـه ذهـنـونـو ، سوچـونـو خبـردار دے ـ لـوئـې الله د ښـائـسـتـه زړونـو مـلـګـرتـيـا کـوي ـ ـ ـ ـ همېشه ! ،،
د فـريـد سـتـرګـې اوځـلـيـدې او د ودود صېب د غـاړې نـه ئـې لاسونـه تـاؤ کـړل ـ
د فـريـد د خـوب د لـيـدو تـسلسل جـاري ؤ خـو مـنظر اوس بـدل ؤ ـ امـبـر ئـې لـيـده چې ګـل ګـل ولاړه وه او خـپـل ګـل لالا تـه مـسکـئ مـسکـئ وه خـو د ډېـرې لـرې فـاصلې بـاوجـود هم فـريـد لـۀ خپـلـه څـايـه حـرکـت نـۀ شـو کـړلـے ـ پـه بې وسئ سره ئې د امـبـر طرف تـه خـپـل لاسونـه وا کـړل ,, امـبـر ! زمـا نـيـازبـيـنـې خـورکـې !! د ګـل لالا غـېږې تـه دې راشه کـنـه ،،
امـبـر هم هغه شان مـسکـئ وه ـ فـريـد تـه ئـې پـه مـيـنـه کـتـل ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فـريـد سـتـرګـو کـښې اوښکې اوځـلـيـدې ,,
امـبـر ! د ګـل لالا نـه دې خفـه ئـې خـورکـې ؟
،،
د امـبـر د مـخ او سـتـرګـو مـسکـا يـو دم
مـعـدومـه شـوه ــ ډېـر پـه ګـيـلـه مـنـو سـتـرګـو
ئـې فـريـد تـه اوکـتـل ــ شـونـډې ئـې ورو شـان
اوخـوځېـدې ــ ,, ګـل لالا ! زۀ سـتـا نـه خفـه
نـۀ يـم خـو کـه تـۀ دا دومـره خفـګـانـونـه
کـوې نـو بـيـا بـه درنـه ضـرور خفـه يـم ،،
فـريـد غـوښـتـل چې امـبـر ځـان تـه ، خـپـل زړۀ
تـه جـوخـتـه کـړي خـو لـۀ ځـايـه ئـې حـرکـت نـۀ
شـو کـولـے ــ
امـبـر ګـل ګـل او مـسکـی مـسکـی ولاړه وه ــ
د فـريـد د خـوب د لـيـدو تـسـلـسـل مـات شـو خـو
، خـوب ئـې نـۀ ؤ مـات شـوے ــ پـه دومـره
ورځـو کـښې ايـلـه نـن داسې شـوي وو چې د
څۀ خـوب د لـيـدو پـه دوران کـښې د فـريـد
سـتـرګـې نـۀ وې غـړېـدلـې چې هـر څۀ وو خـو
نـن د فـريـد پـه مـخ د اذيـت رنـګـونـه نـۀ وو
ــ
فـريـد اودۀ ؤ ــ

o

وخـت تـيـرېـدو !
فـريـد بـه د احـمـد عـلـي خـان سـره خـپـل زړۀ
سـپـکـولـو ــ د احـمـد عـلـي
خـان پـوهې او تـجـربې د فـريـد مـايـوسـه شـوي
ذهـن او نـظـر تـه ځـائـے پـه ځـائـے ډيـوې
بـلـولـې او کـېښـودلـې ــ فـريـد بـه هـغۀ تـه د
خـپـل زړۀ هـره خـبـره کـولـه ــ زيـات تـر ذکـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د ودود صيب ؤ ـ احمد علي خان به ورته وخت په خپل ژوند قيصې تېرولې ـ د کالج د وختونو ذکر به ئې کولو ـ د ودود صيب خبرې به ئې ورته کولې ـ فريد به هغه ټولې خبرې په دلچسپۍ سره اوريدې ـ
نن چې د احمد علي خان د ژوند قيصه تر دلته را اورسيده نو د فريد د زړۀ د زخمونو نه څړيکې پورته شوې ,, لالاجي ! ګلالۍ مړه شوه ؟ ،،
,, او فريده بچے ! ،، احمد علي خان يوه اوږده ساه واخسته ـ ,, هغه کورته ژوندۍ رانۀ غله ،،
,, خوشحال چرته دے لالاجي ؟ ،، فريد د احمد علي خان په قيصه کښې جوړ څۀ لټول ـ
,, هغه مې د تعليم دپاره بهر لېږلے دے ـ د ترۀ سره دے ،، احمد علي خان ډېر په سنجيدګۍ سره دا وخت د فريد د مخ تاثرات لوستل ـ
,, ستاسو ډېر لوئے زړۀ دے لالاجي ،،
,, انسان د وخت نه ډېر څۀ زده کوي ،، د فريد په زړۀ کښې ناڅاپي يو خيال راغے ـ تپوس ئې اوکړو ,, لالا جي ! وفا چرته ده ؟ ،، خو هغه د اظهار کولو بې همتي په کښې اوس هم وه ـ زر ئې خبره په بل رنګ کړه ـ ,, زما مطلب دے ارسلا کاکا او عفت آپا ـ هغوي خنګه دي ؟ ،، د احمد علي خان د ژور نظر نه د هغۀ د زړۀ حال پټ څنګه پاتې کېدے شو ـ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـيـنـه ورتـه مـسکـے شو ,, وفـا دې ډېـره
زړۀ تـه نـيـزدې ده بـچـے ؟ ،،
فـريـد ورتـه هېڅ اونـۀ وې ـ
,, هغـوي د ريـحـان آبـاد نـه کډه کـړې ده
،،
,, څۀ ؟ ،، فـريـد ډېـر پـه تـعجب سره
اووې ـ
,, او بـچـے ! هغـوي د ريـحـان آبـاد نـه
تـلـي دي ،،
,, ولـې ؟ لالاجي ـ ـ ـ ـ ! څۀ چل شوے
دے ؟ ،، د انـدېښنو مـاران د فـريـد پـه
ټـول وجـود خـوارۀ شول ـ
,, شايـد د سرور خـان لـه ويـرې ـ ـ ـ ـ
،، احمـد عـلي خـان ډېـر پـه غـور د فـريـد د
مـخ د تـغيـر سره مخ تـاثـرات لـوستل ـ
,, چـرتـه تـلـي دي ؟ ،، د فـريـد پـه لـهجه
کـښې د شکستګـۍ عنصر مـوجـود ؤ ـ
,, هېڅ پـتـه نـشتـه ! ،،
,, تـاسو هـلـتـه تـلـي يـئ ؟ ،، فـريـد د
خبـرې تـل تـه رسيـدل غـوښتـل ـ
,, او ـ ـ ـ زمـا د ريـحـان آبـاد او د
ګـل کـلي سره بـرابـره رابـطه ده ـ ددې
ټـولـې قـيـصې سره زمـا د يـار ارمـانـونـه
تـړلـي دي ـ زۀ څنګه غـافـل پـاتـې کېدے شم
،،
,, هغـوي نـشتـه ؟ ريـحـان آبـاد کـښې نـشتـه
؟ ،،فـريـدد مـاشومـانـو
پـه شان احمـد عـلي خـان تـه اوکـتل ـ لـهجه
ئـې د درد نـه ډکـه وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, کور ته ئې تالا لګېدلې ده ،، احمد علي خان اووې ,,چم ګاونډ کښې ئې هم چا ته نۀ دي وئیلي چې هغوي چرته ځي ،،

,, لالاجي ـــ ـــ ـــ ،، فرید نور هېڅ اونۀ وئیلے شول ـ

,, د سباؤن سکول د پېرزوئنې سفر جاري دے ،، احمد علي خان وئیل ,, کوم سټاف چې ودود صېب منتخب کړے دے په هېڅ طور د ملغلرو نه کم نۀ دے ـ د ښار د کالج تعمیر مکمل شوے دے ـ او د باقاعده پرانستلو دپاره ئې تیارۍ شروع دي ـ عدیل صېب او د هغۀ ملګري په رښتیا چې ډېر قابل دي ،،

,, لالاجي ! او تاسو ؟ ،، د فرید په لهجه کښې چرته لرې یو ارمان ؤ ـ

احمد علي خان بې اختیاره اوخندل ,, زۀ په هېڅ طور د ودود صېب نه جدا نۀ یم ـ مونږ زده کړه هم یو ځائے کړې ده او د عمل مېدان کښې مو قدم هم یو ځائے ایښے ؤ ـ سوچ او نظر مو یو ؤ خو لارې مو جدا جداـ اوس خو زما د ریحان آباد او ګل کلي سره نۀ ختمېدونکے تعلق جوړ شوے دے ،،

,, مننه لالاجي ! ،، فرید په ممنونیت سره اووې ,, زما نیا نیکۀ څۀ حال کښې دي ؟ ،،

,, ښۀ دي ـــ ـــ ـــ ـــ ،، احمد علي خان مسکے شو ـ ,, را روان دي ستا ملاقات ته سبا ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



o

ډېـر سحرونـه مـاښامـونـه تـېر شول ـ
احمد علـي خـان بـه د فـريـد هر مـمکن خـيـال
سـاتـلـو ـ کـلـه کـلـه بـه ورتـه فـريـد اووې ـ
,, لالاجـي ! تـاسو خـو زمـا داسـې خـيـال
سـاتـئ لـکـه څـوک د چـا تـيـمـار داري کـوي ؟
،،
احمد علـي خـان بـه پـه جـواب کـښې مـسکے شو
,, هم داسـې ده ـ يـو ګـل چې د زهـرجـن
مـاحـول د شدتـونـو او کـېفـيـتـونـو سره مخ
شي نـو د هغـهٔ خـوشبـو ، تـازګـي او ښکلا
بـراه راست مـتـاثـره کـيـږي ـ فـريـده ! زهٔ
نـهٔ غـواړم بـچے ، چې ستـا د انـدرون
ښائـستـونـه دې مړاوي شي ،،
,, هغه ښائـستـونـه خـو ويـنـې ويـنـې پـراتـهٔ
دي لالاجـي ! بـې سـاه او بـې ژونـده ،،
,, ويـنـې ويـنـې خـو کـيـدے شي فـريـده ! خـو
بـې سـاه او بـې ژونـده هېڅ کـلـه نـه ـ تـهٔ
د ودود صېب پـه غـېږ کـښې لـوئـے شوے ئـې
او هغه هـمـه مـيـنـه مـيـنـه ؤ ، د نـفـرت نـه
خـو ئـې بـيـخـي کـرکـه وه ـ ستـا پـه ذهـن د
انـتـقـام شدت حـاوي دے ـ نـو تـهٔ لا د خـپـل
فـطـرت پـه پـتـه نـهٔ پـوهـېږې او ستـا پـه
فـطـرت کـښې تـيـارې هډو ځـائـيـدے نـهٔ شي تـهٔ
پـه رڼـا مـئـيـن ئـې ، رڼـا خـو بـه پـېژنـې ؟
،،
,, زمـا ژونـد کـښې پـاتـې څـهٔ دي ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, د داسې خبرې د کولو حق د هیچا سره نشته ـ چې ژوند پاتې دے نو ژوند پاتې دے ،،
کله کله به فرید اووئیل ,, لالاجي ! تاسو اکثر زما مخ ته دومره په ځیر ولې ګورئ ؟ ،،
احمد علي خان به بې اختیاره اوخندل ,, ستا مخ یو ډېر منفرد کتاب دے ، لولم ئې ، زده کړه ترې کوم ـ ـ ـ ستا په مخ د انساني نفسیاتو انتهائي باریکۍ او د شعور او لاشعور ګډ وډ رنګونه ډېر په وضاحت سره د لوستلو دپاره موجود دي ـ ستا په مخ زما مینه ماتیږي ـ ماته ډېر څۀ رایادوي ،،
نن احمد علي خان په مختلفو موضوعاتو مشتمل ګڼ شمېر کتابونه د فرید دپاره راوړي وو ـ
فرید په حېرانۍ سره احمد علي خان ته اوکتل ,, لالاجي ! دا ټول زما د خوښې کتابونه دي ـ تاسو څنګه ـ ـ ـ ـ ؟ ،،
احمد علي خان مسکے شو ,, دا ما د ودود صېب د خوښې کتابونه اوموضوعات راوړي دي ستا به څنګه نۀ وي خوښ؟ ،،
,, تهینک یُو لالاجي ! ،،
,, دا څۀ ډائریانې دي ستا د لیکلو دپاره ،،
,, اوه ،، فرید ډېر پُرخیاله انداز کښې سر اوخوځولو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, فریده ! زما تبادله شوې ده ـ زۀ
به د نوي جېلر سره ستا خبره اوکړم ـ
پلیز د ځان خیال ساته ـ زۀ به ستا
ملاقات ته راځم ،،
فرید په حېرانی سره احمد
علي خان ته اوکتل ,, لالاجي !
ستاسو تبادله ـ ـ ـ ـ ،،
احمد علي خان مسکے شو ، هغه د فرید
خبرې ته رسیدو ,, نه ـ نه ـ کیږي
راکیږي ـ د پولیس نوکری کښې دا د
روتین خبرې دي کېدے شي څۀ وخت پس بیا
دلته یم ـ ستا دیدن ته خو به خامخا
راځم ،، د احمد علي خان ګوتو د فرید
په ویښتو کښې شیطاني اوکړه ویښتۀ ئې
وران را وران شول ـ فرید مسکے شو ـ

o

موسمونه بدلیدل رابدلیدل ـ وخت
تیرېدو ـ میاشتې میاشتې، کلونه ،
کلونه ـ
دلاور خان د ریحان آباد په خلقو د ظلم
انتها کړې وه ـ سرور خان به چې دلاور
خان ته کتل ، د هغۀ رعب او دبدبه به
ئې لیده نو بې اختیاره به ئې د
برېتونو سرونه تاؤ راتاؤ کړل ـ ددې
ورځې خو سرور خان ارمان کړے ؤ ـ
د دلاور خان معمول ؤ ، هر مازیګر به د
ریحان آباد په زمکو په اس باندې سور
، طماچه په غاړه ګرځېدو ـ سرور خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ورته کله کله اووې ,, څو کسان درسره ملا تړلي ګرځوه ـ د خلقو ويره په هم دې سېوا کيږي ،،
دلاور خان به اوخندل ,, خان بابا ! داسې مې نۀ دي يرولي ـ د ريحان آبـــــاد خو ګډې چيلۍ هم په هغه لاره نۀ ځي په کومه لار چې دلاور خان روان وي ،،
د سرور خان مخ به د تفاخر د احساس نه اوځليدو ـ
د خان ګل لالا د زوئے خپله بې عزتي هېڅ کله نۀ وه هېره شوې ـ سفيان په ظاهره غلے ؤ خو دننه لکه د زخمي مار اوړيدو را اوړيدو ـ خو څۀ تقاضې د کور هم وې ـ د ريحان آباد د پرېښودو نه پس هم هغه د ريحان آباد د حالاتو نه ځان خبر ساتلو ـ دومره کلونه صبر کول د هغۀ دپاره ډېر ګران وو خو چې کله به ئې هم د خپل مور او پلار غريبو او وخت زپلو سترګو ته اوکتل نو ځان به ئې د دومره لوئے قدم د اخستو نه منع اوساتلو ـ په دې کښې هر څۀ پېښېدے شول ـ سفيان نهۀ کاله مسلسل محنت کړے ؤ ـ شپې او ورځې ته ئې نۀ وو کتلي بس کار ته ئې کار وئيلے ؤ ـ نن وخت بدل ؤ ـ نن سفيان ګڼل چې اوس پل پورته کولے شي ـ هغه د څو ورځو نه مسلسل ريحان آباد ته تلو راتلو او د دلاور خان د معمولاتو جاج ئې اخستو ـ نن د مکمل تيارئ سره راغلے ؤ ـ دغه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم ډېر ښکلے ؤ ـ یخه یخه هوا لګېده ـ فصلونه شنهٔ ولاړ وو ـ د مازیګر وخت ؤ نو د موسم سحر انګیزي لا سېوا وه ـ د دلاور خان اس د پولو پټو په غاړه غاړه ورو ورو قدمونه اخستل روان ؤ ـ دلاور خان، په اوګه کښې طماچه اچولې، د اس په ملا د یو فاتحانه شان سره ناست، د خواؤ شا ننداره کوله ـ اس لږ هم مخکښې نهٔ ؤ تلے چې دلاور خان ئې واګې راښکې ـ وړاندې څوک د ونې د سټې د شانه یو دم بهر راوتلے ؤ ـ په کینه اوګه کښې ئې پړے اچولے ؤ او په ښي لاس کښې ئې طماچه وه ـ

دلاور خان په حېرانئ سره ورته اوکتل

,, سفیانه تهٔ ؟ ،، لهجه ئې د حقارت نه خالي نهٔ وه ـ

,, حېران شوې دلاور خانه ،، سفیان د دلاور خان په سترګو کښې کتل ـ

,, ستا دومره همت ،، دلاور خان اوغرمبېدو او ورسره ئې د اس د ملا نه راټوپ کړو او چې خپلې طماچې ته ئې لاس وړلو سفیان خپل د طماچې والا لاس د هغهٔ طرف ته نېغ کړو ـ

,, په خپل ځائے اودرېږه دلاور خانه لاس دې ښکته ښهٔ دے او طماچه دې په غاړه ،،

,, سفیانه ! ،، د دلاور خان مخ د غصې د شدت نه سور شو ـ ,,ستا جوړ هېر دي چې تهٔ د چا مخ ته ولاړ ئې ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, د خانی نشه دې د سر نه کوزه کړه دلاور خانه ،، سفیان د طماچې والا لاس ته حرکت ورکړو ,, اوس الله یادوه ،، او ورسره ئې د طماچې په ماشې ګوته کلکه کړه ـ یو ـ ـ ـ دوه ـ ـ ـ درې ـ ـ ـ څلور ګولی د دلاور خان په سینه ننوتې ـ دلاور خان پریوتو پریوتو کښې خپلې طماچې ته لاس وړلو ـ خو دا وار ئې ګولی تندے خوړلے ؤ ـ دلاور خان په زمکه پریوتو ـ وخت د سفیان سره انتهائي کم ؤ ـ رسی ئې پرانسته ـ اس یو خوا تاویدو راتاویدو اول ئې دلاور خان په ترخونو کښې اوتړلو او بیا ئې رسی په اس پورې اوتړله ـ سفیان په یو ټوپ سره په اس کښېناستو او اس ته ئې د ریحان آباد د آبادۍ مخه ورکړه ـ مازیګرے ؤ ـ ګڼه ګوڼه وه ـ خلقو چې دا منظر اولیدو نو راښکلې ساه ئې راښکلې او ویستلې ساه ئې ویستلې پاتې شوه ـ یقین ئې چرته کېدو ـ دم ختلي دم ختلي ئې دې هر څۀ ته کتل ـ د سفیان خو لکه بیخي ویره ختمه شوې وه ـ د دلاور خان په اس سور ؤ او دلاور خان ئې په ځان پسې راکاږلو ـ خلق به د یو بل سره اوګونېدل ـ ,, دا هغه د خان ګل زوئے نۀ دے ؟ ،،

,, او سفیان دے ،،

بیا د ریحان آباد خلقو دومره اولیدل چې سفیان د اس نه راکوز شوے ؤ ـ رسی ئې د اس د ملا نه پرانستې وه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه یـو ټـوپ سره وربـانـدې نـاست ؤ ـ خلق خو د نـورې تـماشې د خونـد نـه نـۀ مړېـدل ـ دلاور خـان طمـاچـه پـه تـرخ کښې پـه ویـنو کښې لـت پـت مړ پـروت ؤ ـ

سفـیـان چرتـه مخه اوکـړه ؟ هیـچا تـه پـتـه اونـۀ لـګېده ـ او کـه چا تـه پـتـه وه هم نـو څوک لـېونـي سپـي خو نـۀ وو خوړلـي چې حال بـه ئې وئـیل ـ نـن خو د ریـحان آبـاد د خلقـو اختـر ؤ !

o

ســروو خـان دا کـلـه مـنـلـه چې دلاور خـان مړ شو او بـیـا داسې مـرګ

ـ ـ ـ ـ ! بـیـا بـیـا بـه پـرې چکـر راتـلـو ، بـیـا بـیـا بـه پـریـوتـو ـ

د لـویـو لـویـو عهدو خلق د دلاور خـان جنـازې تـه راغلـي وو ـ د لـرې لـرې نـه خلق راغلـي وو ـ سرور خـان تـه بـه لاس نـیـوي تـه کښېنـاستـل خو سرور خـان پـه خـود چرتـه ؤ ـ د هغۀ خو د غرور مـانـۍ نـړیـدلـې وه ـ

,, نـه ـ ـ ـ نـه ـ ـ ـ دلاور خـان نـۀ دے مړ ـ دلاور خـان څنـګه مړ کـېدے شي ـ دا خلـق دروغ وائـي ـ هغـه اوس هم د ریـحان آبـاد خـان دے ـ دلاور خـان بـانـدې څوک څنـګه ګـوزار کـولـے شي ،،

سرور خـان پـه خـود کـښې نـۀ ؤ خو خـپـل خپـلـوان ئې پـه خـود کښې وو ـ د لـرې لـرې نـه راچلـیـدلـي وو ـ سرور خـان کـلـه د چا سره خپـلـوئ کـولـې ـ هغـه د سرور خـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلب ؤ ، د چا سره به ئې رشته نـۀ ساتـلـه او اوس ئـې د خپـلـوانـو ، سرور خـان مـيـرات شوے ؤ ـ دلاور خـان ئـې يـکـي يـو زوئـے ؤ ـ څـۀ لاړو چې د سرور خـان د خوبـونـو مـحـلـونـه ئـې اونـړول ـ اوس د عمـر پـه آخرنـۍ بـرخـه کـښې د سرور خـان کـل کـائـنـات ، د دلاور خـان دوه لـونـړه وې ـ د اتـو کـالـو کـائـنـات او د دوؤ کـالـو سپـوږمـۍ !!
خپـل خپـلـوان ټـول د سرور خـان نـه ، پـه سـتـرګـو کـښې خــــوبـــــونــــــه انـغـاړلـي تـاويـدل او ځـاريـدل ـ هر چا بـه خپـل ځـان د سرور خـان د الـتـفـات اهل ثـابـتـولـو کـوشش کـولـو ـ هر څوک بـه ړنـګ ړنـګ کـېـدو چې د دلاور خـان پـه مـرګ خو نـيـم هم نـۀ دے پـاتـې شوے ـ خو ســــــرور خـان پـه خـود چـرتـه ؤ ـ د هغـه خو د غرور مـانـړۍ نـړيـدلـې
وه ـ
,, نـه ـ ـ ـ ـ نـه ـ ـ ـ دا خلق دروغ وائـي ـ دلاور خـان اوس هم ـ ـ ـ ،،

o

احمـد علي خـان بـه د فـريـد سره پـه رابطـه کـښې ؤ ـ خو د ريـحـان آبـاد د اوسـنـۍ واقـعـې نـه پـس خاص طـور ورتـه مـلاقـات تـه راغـلـے ؤ ـ د دلاور خـان د مـرګ خبـر پـه اوريـدو فـريـد خوشحـالـه شوے نـۀ ؤ ـ بـلـکـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ورک شانې تاثر ئې په مخ راغلے ؤ ـ
,, ماهېڅ اونهٔ کړے شول لالاجي !،، د فرید شونډې اوخوځېدې ,, په یو سرور خان به مې تېر یخ نهٔ شي ـ دا ښهٔ اونهٔ شول ،،
,, فریده ! ،، احمد علي خان په نرمۍ سره اووې ,, بچے ! دا خبرې دزړهٔ نه اوباسه ـ تاته ستاژوند پروت دے ـ ښکلے ژوند ،،
,, سرورخان به ژوندے وي او زهٔ به ژوند ته ژوند وایم لالاجي،، فرید په درد سره احمد علي خان ته اوکتل ,, او بیا زما په ژوند کښې پاتې څهٔ دي ـ اوښکې یادونه ، وینې وینې یادونه ،،
,, وخت د هر زخم مرهم دے فریده ،، احمد علي خان په مینه د فرید په سر لاس راښکل ـ ,, خپل سوچ په غلطه لاره مهٔ بوځه ،،
فرید د احمد علي خان د مینې په دغه انداز کښې څهٔ خواږهٔ محسوس کړي وو ـ فرید ته د خپل بابا جان خبره وریاده شوه ـ فرید ورته وئیلي وو ـ ,, تاسو چې کله هم ماته په سر لاس کیږدئ نو زهٔ ډېر عجیبه او خوشحالوونکے غونډې سکون محسوسوم باباجانه ،،
بابا جان ورته وئیلي وو ,, بالکل بچے ! ځنې خبرې د فطرت او روحانیت سره ډېر زیات ژور تړون لري ـ چا ته په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شفقت او میـنـې لاس کېښودل ډېـر لـوئے نـفـسیـاتـي اثـر لـري ــ مـثـبـت اثـر ــ شـوریـدګـي کـمـوي ، د هـیـجـان او ذهـنـي مـنـفـي شدتـونـو زور مـاتـوي ،،

فـریـد ، احـمـد علـي خـان تـه اوکـتـل ــ هغـه ډېـر پـه غـور فـریـد تـه ځـیـر ؤ ــ فـریـد څـو شـیـبـې بـیـخي غلـے ؤ ــ بـیـا ئـې د ځـان سره ورو غـونـدې، بـیـخي ورو غـونـدې اوویـې ,, خـو زۀ د خـپـل مـور پـلار او خـور قـاتـلان څـنـګـه مـعـاف کـولـے شم ،، ــ

د فـریـد دا خـبـره د احـمـدعلـي خـان سمـاعـت تـه نـۀ وه رسـېـدلـې ــ

O

وخـت تـیـرېـدو !

د احـمـد علـي خـان تـبـادلـه یـو واري بـیـا سـنـټـرل جېـل تـه شـوې وه ــ

,, فـریـده ! زمـا د نـوکـرۍ مـدت هـم پـوره کـېـدو والا دے ــ بـلـه مـیـاشـت ریـټـائـر کـیـږم ،،

,, هـم دومـره راتـګ ؤ سـتـاسـو ،، فـریـد مـسـکـے شـو

احـمـد علـي خـان اوخـنـدل ,, او سـتـا څـۀ خـیـال دے ــ ټـول عـمـر دلـتـه تـېـروې ــ دوه کـالـه دې پـاتـې دي فـریـده ! بـس ــ بـیـا بـه تـۀ ئـې او سـتـا دنـیـا ،،

,, زمـا دنـیـا ،، فـریـد پـه درد سره اوویـې ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ودود صېب دي هېر دے ؟ ،، احمد علي خان د فريد په سترګو کښې اوکتل
,, هېڅ کله نه ،، فريد سر اوخوځولو ـ
,, د هغۀ درد او نظر واخله او وړاندې ځه ـ د هغۀ مشن پوره کړه د هغۀ ارمان پوره کړه ،،
د احمد علي خان لهجه خوږه او نرمه وه ـ
,, ماته د بابا جان د خولې يو يو ټکے ياد دے لالاجي ! ،، فريد اووې ,, هېڅ يو خبره مې ئې نۀ ده هېره ـ خو بابا جان د چا سره څۀ بد خو هم نۀ وو کړي او بيا هم ـ ـ ـ ـ زما دا هر څۀ ځنګه هېر شي ،،
,, د ودود صېب د فکر او نظر ګټه ستا اصل ګټه ده فريده ،، احمد علي خان په نرمۍ سره اووې ,, دغه حکمت دے ، هم دغه سيالي ده ،،
فريد يو سوړ اسوېلے اوکړو او اوئې خندل ,, ستاسو خبرې مې هم د بابا جان په شان دي ـ تاسو ښۀ وايي خو بخښنه غواړم دلته زۀ لږ ناپوهه سهي ، غلط سهي ،،
احمد علي خان پُرخيال انداز کښې سر خوځولو ـ
,, سرور خان په څۀ کښې دے لالاجي ،،
فريد تپوس اوکړو ـ
,, سرور خان مات شوےدے ،، احمد علي خان د فريد سترګو کښې کتل ـ ,, رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ خپلوان ئې راپېداشوي دي ــ هر چا د خپل مطلب ګوډے په اوګه ایښے دے ــ د چا څۀ طمع ده او د چا څۀ ــ ځنې د دلاور خان د لونو د رشتو د غوښتلو په چکر کښې دي ، چې لا وړې دي ــ سرور خان ساه اخلي او سترګې غړوي بس هم دومره ژوندے دے ــ د هغۀ غرور مات شوے دے ــ ،،

فرید ډېر په عجیبه سترګو احمد علي خان ته کتل ــ

احمد علي خان د ریټائر کېدو نه پس هم د فرید سره برابر په رابطه کښې ؤ ــ

دوه کاله نور تېر شول ــ

نن په جېل کښې د فرید آخري ورځ وه ــ سحر احمد علي خان د فرید د نیا نیکۀ سره سنټرل جېل ته راغلے ؤ ــ بوډئ او کمزورې نیا ئې د ډېر کم نظر چشمې په سترګو کړې وې ــ فرید ئې غاړه باسلو او بې واره ئې ښکل کړو ,, شکر دے خدایه ــ ــ ــ ستا ډېر شکر دے زما بچے بیا زما غېږې ته راغے ،،

نیکـــــۀ بـــــابـــــا په تندي ښکل کړو او په زړۀ پورې ئې جوخت کړو ــ

احمد علي خان مسکے ؤ ــ فرید د سنټرل جېل د لوئے ګېټ نه بهر ولاړ ګېر چاپېر کتل ــ څۀ ډېر عجیبه غوندې احساس ؤ ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحالـي هم وه خـو پـه هغـه خوشحالـۍ کښې
د درد مـوجـونـه هم وو ـ
،، څـو ؟ ،، احمـد علـي خـان د فـريـد پـه
اوګـه لاس کـېښو ـ فـريـد کـافـي سـاعت د
احمـد علـي خـان سترګـو تـه کـتـل ـ بـيـا ئـې
ورو شـان اووې ،، لالاجي ! د ډېـرو خبـرو
دپـاره ستـاسو ډېـره مـنـنه ،،
،، لـېونـيـه ،، احمـد علـي خـان فـريـد د
پـوزې نـه اوجکولـو ـ ،، څۀ د پـردو خبـرې
کـوې ،،
څۀ سـاعت پس هغـوي د احمـد علـي خـان جيـپ
کـښې نـاست وو ـ
فـريـد اووې ،، لالاجي ! ريـحـان آبـاد ،،
احمـد علـي خـان پـه حـېـرانـۍ سره فـريـد تـه
اوکـتـل
،، اول ريـحـان آبـاد ،، د فـريـد پـه لـهجه
کـښې قـطعيت ؤ ـ
احمـد علـي خـان مـسکـے شو ،، ښۀ ده ـ
ريـحـان آبـاد تـه روان يُـو،،
جيـپ پـه خپـل رفـتـار سره روان ؤ ـ فـريـد
ګـېـر چـاپـېـر مـنظرونـو تـه کـتل راکـتـل ـ چې
پـه مـنـډه وو ـ فـريـد غلـے غلـے، فـکـر وړے
نـاست ؤ احمـد علـي خـان بـه سـاعت پـه سـاعت
د فـريـد خـامـوشي مـاتـولـه ـ
جيـپ د ريـحـان آبـاد پـه حدود کـښې
رانـنـوتـو او کـلـه چې هغـه لـوئـے مـېـدان تـه
را اورسـېـدو کـــوم چـــې د مـــاشـــوم
فـــريـد د لـوبـو مـېـدان ؤ ـ نـو فـريـد د
احمـد علـي خـان طرف تـه اوکـتـل ،، لالاجي !
هم دلـتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــوزیــږو ،،
احمـد علــي خــان مـسکـے ؤ ــ جیپ ئـې ادرولـو ــ وار پـه وار تـول راکـوز شـول ــ فـریـد پـه مـېدان کـښې ولاړ ګـېـر چاپـېـر کـتـل ــ مـخـامـخ د وفـا کـور ؤ ــ د ګـېـټ شیـن رنـګ ئـې کـافـي تـت شوے او خـړ شوے ؤ ــ ګـېـټ تـه لـګـېدلـې تـالا د لـرې نـه ښکـاریـده ــ د فـریـد زړهٔ ځـړیـکـه اوکـړه ــ بـیـا ئـې د خـپـل کـور طرف تـه مـخ واړولـو او ورو ورو ور روان شو ــ تـالا دلـتـه هم ګـېـټ تـه لـګـېدلـې وه ــ فـریـد اول د خـپـل نـیـا نـیـکـهٔ او بـیـا د احـمـد علـي خـان طرف تـه اوکـتـل ــ احـمـد علـي خـان مـسکـے ؤ ــ خـپـل لاس ئـې د فـریـد طرف تـه اوږد کـړو ــ پـه تـلـي کـښې ئـې چـابـي پـرتـه وه ــ فـریـد پـه حـېـرانـی سره احـمـد علـي خـان تـه اوکـتـل ــ هغـهٔ تـه د خـپـل نـیـا نـیـکـهٔ خـامـوشي او د احـمـد علـي خـان مـسکـا ډېـره مـعـنـي خـیـزه ښکـاریـده ــ فـریـد د احـمـد علـي خـان د تـلـي نـه چـابـي واخستـه او یـو قـدم ور وړانـدې شو او پـه تـالـې کـښې ئـې اولـګـولـه ــ
,, کـړک ،، تـالا کـهلاؤ شوه ــ
کـور کـښې د قـدم کـېښودو سره پـه فـریـد بـانـدې یـو دم سر اوګـرځـېـدو ــ ځـومـره ځـومـره ځـهٔ پـه یـو لـمـحـه کـښې د هغـهٔ پـه زړهٔ او ذهـن یـرغـل کـړے ؤ ــ
,, مـه ظـالـمـه ــ ــ ــ ــ ،،
,, او ئـې تـړئ ــ ــ ــ ــ ،،
,, وئ بـابـا جـانـه کـنـه ــ ــ ــ ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

فــریـد هېڅ پـه ځـان پـوئـې نـۀ شو ، څـۀ منظرونـه وو چې انـتـهـائـي پـه تـیـزۍ سره د هغۀ د سـتـرګـو وړانـدې واؤړېـدل را واؤړېـدل ـ څـۀ آوازونـه وو چې پـه سمـاعت کښې ئـې کـوکـې کـوکـې او انـګـازه انـګـازه شول ـ بـې خـوده او بـې دمـه شو ـ او چې کـلـه پـه خـود کښې راغـے نـو ځـان ئـې د احـمـد علـي خـان پـه مـیـنـه نـاکـه غېږه کـښې اولـیـدو ـ

,, لالاجـي ،،

,, خېـر دے بـچـے ،، د احـمـد علـي خـان لـهجه د مـیـنـې نـه ډکـه وه ـ ,, مـوده پـس راغـلـے ئـې ـ ـ ـ خېـر دے بـچـے ،،

فـریـد حېـران ؤ ـ کـور مـکـمـل صفـا سـتـهـره ؤ ـ هـر یـو څیـز پـه خـپـل خـپـل ځـائـے د سـلـیـقـې سره پـروت ؤ ـ فـریـد پـه حېـرانـۍ سره احـمـد علـي خــــان تـه اوکـتـل ,, لالاجـي ! دلـتـه څـوک پـاتـې کـیـږي ؟ دا هـر څـۀ ـ ـ ـ ـ ،،

,, زمـا د یـار کـور دے ـ کـنـډر نـۀ دے ،،

فـریـد حېـران ؤ ـ

احـمـد علـي خـان مـسکـے ؤ ـ فـریـد د کـور پـه ګُـټ ګُـټ ګـرځـېـدو ـ سـتـرګـې ئـې وریـدې کـه وریـدې ـ

,, فـریـده ،، احـمـد علـي خـان اووې ,, ځـو بـچـے ؟ ،،

,, چـرتـه لالا جـي ؟ ،، فـریـد سـرې سـرې سـتـرګـې ور پـورتـه کـړې ـ

,, سـتـا خـپـل کـلـي تـه ـ ګـل کـلـي تـه ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـريـد نـفـي کـښې سر اوخوځـولـو ,, نـه لالاجي ــ تـاسـو لاړ شئ ــ زۀ نـن
دلـتـه يـــــم ــ زۀ مې د بـابـا جـان او مـور جـانـي سره خـبـرې کـوم ــ ډېـرې
خـبـرې ،،
,, فـريـده ! ،،
,, پـلـيـز لالاجي ،، فـريـد اووې بـيـا ئـې د نـيـا نـيـکـۀ طرفـتـه اوکـتـل ,,بـابـا ، مـورې
ګـلـې ! تـاسـو لاړ شئ ،،
,, مـونـږ سـتـا نـه بـغېـر څـنـګه تـلـے شـو بـچـے
،، نـيـکـۀ بـابـا ئـې اووې ,,ښـۀ ده ــ سـبـا
بـه يـو ځـائـے لاړ شـو ــ ،،
,, تـاسـو تـکـلـيـف مـۀ کـوئ ــ ،، فـريـد وار
پـه وار ټـولـو تـه اوکـتـل ,,تـاسـو آرام
اوکړئ زۀ دلـتـه لـږ شـان تـنـهـائـي غـواړم ــ
مـا خـو خـپـل مـور پـلار دلـتـه پـه ويـنـو کـښې
ډوب پـريـښـي وو ــ مـا هـغـوي سـمـبـال کـړي هم
نـۀ وو ــ مـا ــ ــ ــ ــ ! پـه مـا د هـغـو
ټـولـو لـمـحـو قـرض پـروت دے ــ تـاسـو خـو
خـپـلـه بـرخـه ژړلـي دي خـو زمـا اوښـکـې زمـا
پـه زړۀ ډنـډ ډنـډ ولاړې دي ــ تـاسـو خـو
تـېـره کـړې ده خـو پـه مـا اوس تـيـرېـږي ،
سـتـاسـو زړونـه خـو صـبـر شـوي دي خـو زۀ بـه
دې مـاشـوم تـه ددې نـه پـس تـسـلـئ ورکـوم ،،
د نـيـا ادې پـه سـتـرګـو کـښې ئـې اوښـکـې
اوځـلـيـدې ,, ډېـره عـجـيـبـه خـبـره ده بـچـيـه
،،
فـريـد مـړاوے شـان مـسـکـے شـو ,, د دومـره
ډېـرو عـجـيـبـه خـبـرو نـه پـس دا يـوه وړه
غـونـدې عـجـيـبـه خـبـره بـلـه هـم سـهـي ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوارلس کاله مې ضبط کړے دے ـ نن مې
پرېږدئ ګني لېونے کيږم ،،
د فريد نيا نيکۀ احمد علي خان ته
اوکتل ـ د احمد علي خان
سره احساس ؤ چې د فريد زخمونه
يو دم تازه شوي دي ـ بيا
نوي شوي دي او په دې مرحله کښې زور
ښۀ نۀ دے ـ دغو شدتونو ته لار ورکول
پکار ده ـ او دې کړي فريد د خپل بابا
جان او مور جاني سره په تنهايی کښې
خبرې ـ خو د احمد علي خان سره د يوې
خبرې ويره بيا هم څۀ نا څۀ په زړۀ
کښې موجوده وه خو د فريد د موجوده
مرحلې نه تيرېدل هم د وخت فېصله وه ـ
احمد علي خان د فريد په سر لاس کېښو
,, ښۀ ده فريده ! تۀ ايسار شه ـ مونږ
ځو ـ خو سبا به زۀ بيا راځم ـ دواړه
به يوځائے ځوګل کلي ته ـ ـ ـ ستاخپل
کلي ته ـ ـ ـ خوښه دې ده ؟ ،،
,, خوښه مې ده لالاجي ،، فريد ورک ورک
شان اووې ـ
,, دلته د ضرورت هر څيز موجود دے ـ د
ځان خيال اوساته ،،
,, مننه لالاجي ! د هغې فکر مۀ کوئ ،،
د هغوي د تلو نه پس فريد ګېټ بند کړے
ؤ او د کور په يو يو کُنج ګرځېدو ـ د
لېونو په شان به ئې په دېوالونو ،
څيزونو لاس وهلو ـ د ماشومانو په شان
ئې ژړل ـ داسې ورته محسوسيده چې بابا
جان او مور جانه هم دلته چرته دي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنګ ساعت له به ورته آواز اوکړي ،،
فریده ! تا لا تر اوسه د غرمې ډوډۍ هم
نه ده خوړلې ! ،،
,, د بابا ځانه ! څه چل دے ! دومره
خفه ولې ئې ؟ ،،
فرید په هغه ځائے کښې د پنجو او ګوډو
په سر کښېناستو کوم ځائے ئې چې کلونه
کلونه وړاندې مور او پلار وینې وینې
پراته وو ـ کافي ساعت ځوړند سر هلته
ناست ؤ ـ په خالي خالي سترګو ئې زمکې
ته کتل ـ په هغه ځائے ئې لاس ورو ورو
وهلو شوندې ئې ورو شان اوخوځېدې ـ
,, ته لا ژوندے ګرځې سرور خانه ! ،،
فرید د سترګو نه اوښکې پاکې کړې
پاسېدو د ګېټ ورکوټے ور ئې بېرته کړو
او بهر اووتو ـ فرید ماښام ناوخته ؤ چې
کور ته واپس راغے ـ طماچه ئې ډېره په
ګرانه پېدا کړې وه ـ
ټوله شپه فرید یو ساعت ته نه ؤ اوده
شوے ـ په یوه یوه کمره به ګرځېدو ـ
کله بهر کله دننه د امبر خندا به ئې
په غوږونو کښې انګازه شوه ـ
,, ګل لالا ! ښه ډارن ئې ښه ،،
د ودود صېب مینه ناک آواز به ئې په
سماعت کښې واوریدو را واوریدو ـ
,, مینه ژوند دے د بابا ځانه ،،
د مور جاني مینه به ئې په زړه شوه ,,
او زما بچے به زما استاذ شي ـ زما
بچے هوښیار دومره دے ،، او فرید به
بې اختیاره په ژړا شو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه هم داسې تېره شوه ـ د نمر د راختلو سره فرید له کوره بهر وتلے ؤ ـ طماچه ئې په جامو کښې پټه کړې وه ـ مخامخ د سرور خان حویلي ښکاریده ـ د حجرې لوئے ګېټ ئې بېرته ؤ ـ فرید حېران ؤ ـ هغه حجره چې دګېټ مخې ته به ئې په یو وخت شپږ شپږ ټوپک مار ولاړ وو نن بیخي خالي وه ـ

نن وخت یو بل رنګ ورکړے ؤ ـ د عبرت رنګ ـ

فرید په احتیاط سره د حجرې دننه قدم کېښودو ـ په حجره کښې د چرچڼو د شور نه علاوه نور هېڅ قسم ته آواز نۀ ؤ ـ کومې چې د سرور خان په لویه حجره کښې د لګېدلو ونو د یو ښاخ نه بل ښاخ ته د وختونود تغیّر نه بې نیازه الوتې را الوتې ـ

فرید لږ نور وړاندې تېر شو ـ هغۀ ته دا هر څۀ ډېر عجیبه ښکاریدل ـ دا د هغه سرور خان حجره وه چې ټوله ټوله ورځ به ورته خلق سلام ته راچلیدل ـ او نن پکښې څوک هډو په نظر نۀ راتلو ـ فرید یو خوا بل خوا نظر زغلولو ـ یو طرف په یو چمنګي غوندې کښې څوک په کرسۍ کښې ډډه وهلې ناست ؤ ـ خوا کښې ورسره امسا پرته وه ـ بل خوا ورسره یوه د نهو لسو کالو ماشومه ناسته وه چې د خان سره مشغوله ښکاریده ـ فرید قدم ور واخستو ـ په ښکالو سره سرور خان سر راپورته کړو ـ فرید ئې طماچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاس په سر ولاړ ؤ ـ سرور خان ګونجې
ګونجې مخ په حېرانی سره فريد ته کتل
ـ
,, فريده ! تهٔ ؟ ،، د سرور خان شونډې
اوخوځېدې
,, لښکرې دې ځهٔ شوې سرور خانه ! ،،
د فريد لهجه د واورو په شان يخه وه ـ
د سرور خان په سترګو کښې د شکست
خوردګی تاثر نور هم
نمايان شو ـ فريد ته په خالي خالي
سترګو ځير ؤ ـ
,, خدائي دې چرته لاړه سرور خانه ،،
فريد اوغرمبيدو ـ
د سرور خان په مخ نهٔ څهٔ ويره وه نهٔ
څهٔ غصه او جلال او نهٔ ملامتيا ـ بس خو
خپل مات شوے غرور ئې ټوټې ټوټې په مخ
او سترګو کښې نقش ؤ چې د ياس اوشکست
او ريخت رنګونه پرې ختلي وو ـ
,, دلاور خان دې ځهٔ کړو سرور خانه !
،، فريد طماچه د سرور خان طرف ته
نېغه کړه ـ د سرور خان په سترګو کښې
اوښکې اوځليدې ـ مخ ئې اوس هم بې
تاثره ؤ ـ د سرور خان ماشومې نمسی په
ويره ويره فريد ته کتل خو چې فريد
کله سرور خان ته طماچه اونيوه نو
رامنډه ئې کړه او د سرور خان نه ئې
خپل واړهٔ واړهٔ لاسونه چاپېر کړل ,, وئ
بابا جانه کنه ،،
د فريد د مخ په رنګ کښې تغيّر راغے ـ
داسې ورته محسوس شوه لکه چې دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويرې ډک غږ امبر کړے وي ,, وئ بابا جانه کنه ،،
ماشومې اوس هم دسرور خان نه لاسونه چاپېر کړي وو او په ويره ويره ئې فريد ته کتل ـ د هغې په سترګو کښې هيڅ نفرت هيڅ لوئي نۀ وه ـ هغه خو حېرانه وه چې دې سړي زما په بابا جان باندې طماچه ولې نيولې ده ؟
,, نۀ پوهېږم چې څۀ درسره اوکړم ،،
فريد سرې سرې سترګې د سرور خان په سترګو کښې نيولې وې ,, خو نه ، تۀ د هم داسې ژوند لايق ئې ـ ستا به نوره سزا څۀ وي ،، فريد طماچه ښکته کړه ـ د ماشومې طرف ته ئې اوکتل ـ هغې اوس هم په ويره ويره فريد ته کتل ـ فريد په ډکو سترګو ماشومې ته ځير ؤ ـ خدائے زده ولې ورته امبر ياديده ـ
,, خفه مۀ شې بچے ـ ـ ـ ،، د فريد آواز په اوښکو لړلے ؤ ـ ,, ستا بابا جان ته هيڅ نۀ وايم ـ ستا هيڅ ګناه نشته ،،
د ماشومې لاسونه تر هغې پورې د سرور خان نه چاپېر وو ـ څو چې فريد بهر وتلے نۀ ؤ ـ

فريد واپس راغلے ؤ خو غلے غلے او خاموش خاموش ؤ ـ نن ئې ددې هر څۀ نه په شدت سره ويزاري محسوسوله ـ د کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیـوالـونـو خـوړلـو ـ پـه زړۀ او ذهن کـښې
ئـې د جنګ شان کېفـیت ؤ ـ سـترګـې ئـې
پـړسیـدلـې وې او سرې وې ـ بـهـر چـا ور
اووهلـو نـو د فـریـد د زړۀ زخمـونـو بـې
اختـیـاره څـړیـکه اوکـړه ـ یـو نفسیاتـي
اثـر ؤ ـ څـوارلـس کـالـه وړانـدې د ور د
وهلـو دغه آواز فـریـد اوریـدلـے ؤ ـ او
بـیـا ئـې هر څـۀ تـالا والا شوي وو ـ فـریـد
څـو شیـبـې څـۀ خیـال کـښې ورک غـونـدې ؤ او
بـیـا پـاسېـدو او ور ئـې بـېـرتـه کـړو ـ
احمـد علـي خـان ولاړ ؤ ـ
د فـریـد پـه شونډو مـسکـا راغـلـه ,, راځئ
لالاجي ،،
احمـد علـي خـان دنـنـه قـدم کـېښو ـ فـریـد
ور بـیـا دیـکه کـړو ـ
,, فــــریـــــده زمـــــا بچو تــــه هر کـلـے
نـۀ وائـې ؟ ،، احمـد علـي خـان پـه
مـسکـي نـظر فـریـد تـه اوکـتـل ـ ,, بـهـر ولاړ
دي ،،
,, اوه لالا جي ! بـخښنـه غـواړم ،، فـریـد
بـیـا ورتـه لاس یـووړو ـ
,, خـوشحـالـه بـچـے راځـه ـ راځه ګـلالـۍ بـچـے
،، احمـد علـي خـان اووې ـ
فـریـد خـوشحـال تـه او بـیـاګـلالـۍ تـه اوکـتـل
ـ ورسره د یـو دریـو کـالـو مـاشوم هم نـېغ
نـېغ رانـنـوتـلـے ؤ ـ
,, ګـلالـۍ ؟ ،، فـریـد د ځـان سره پـه حیـرت
اووې ـ د خـوشحـال پـه مخ د ښـائـسـتـونـو نـه
ډکـه خـنـدا خـوره وه ـ فـریـد تـه ئـې لاسونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکړل ـ فرید خان ته کلک ترغاړه باسلو ـ
د فرید سترګې بیا بیا د ګلالۍ طرف ته پورته کیدلې ـ
د ګلالۍ په مخ د خوشحالۍ هر رنګ موجود ؤ ـ مسکۍ ولاړه وه ـ په سترګو کښې ئې شرارت ؤ ـ یو مانوس شان شرارت ـ
,, ګل لالا ! زما دپاره دې په غېږه کښې هېڅ ځائے نشته ؟ ،،
فرید یو دم د احمد علي خان طرف ته اوکتل ـ د فرید په مخ د زلزلې شان کېفیت ؤ ـ کوم څۀ چې د هغۀ زړۀ منل په هغې یقین په اسانه نۀ شو کېدے ـ د احمد علي خان سترګې نمجنې وې او په شونډو ئې مسکا وه ـ شونډې ئې ورو شان اوخوځېدې ,, امبر،،
فرید د حېرانتیا او خوشحالۍ په شدید ترین کېفیت سره سترګې ور واړولې ـ خو د امبر سترګې اوس وریدې ـ خپل ګل لالا ئې نور حېرانۍ ته پرې نۀ ښو ـ یو دم ورتر غاړه وته ـ بې واره ئې په دواړه مخه ښکلولو ـ
فرید د امبر مخ خپلو لاسونو کښې اونیوؤ ,, امبر ! امبر ! خورکې دا زۀ خوب خو نۀ وینم ،، د فرید په سترګو کښې ډنډ ډنډ اوښکې اودریدې ـ نن څۀ عجیبه خوشحالي وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امبر په شوخۍ سره مسکۍ شوه ـ ,, ګل
لالا ! د خوبونو د ليدو زمانې لاړې ـ ـ
ـ اوس د تعبير وختونه دي ،،
,, ما معاف کړه امبر زما نيازبينې
خورې ! ما معاف کړه ـ ،،
د فريد لهجه اوښکې وه ـ
,, ګل لالا ،، د امبر د ګيلې او ناز هم
هغه پخوانے انداز ؤ ,,پوزې ته خو دې
اوګوره ،،
فريد بې اختيار په ژړا شو ـ امبر ئې
د زړۀ پورې اونيوه ـ د جذبو زاړۀ
ناسور ئې نن ټکور موندلے ؤ ـ او هغه
هم داسې چې يقين ئې نۀ کيدو ـ
حېرانې ئې اوس هم نه وه ختمه ـ
خوشحال ته ئې مخ واړولو ، بيا ئې
احمد علي خان ته اوکتل ـ احمد علي
خان سر اوخوځولو ـ ,, امبر زما
اينګور ده فريده بچے ! زما ګلالۍ بچۍ
ده ـ وخت او حالات هم داسې وو ـ ستا
په ذهن او زړۀ کښې ئې تيارې خورې کړې
وې ـ تۀ ويريدلے وې ـ ستا سره هزارها
انديښنې مل وې ـ د خپلې ويرې ،
انديښنو او درنو کېفيتونو د اثر لاندې
تا هغه فېصله اوکړه ـ تا په خپل خيال
کښې امبر د ژوند د قېد نه ازاده کړه
ـ خو امبر بچ وه ـ د دلاور خان او
سرور خان د دشمنۍ انديښنه بهر حال
موجوده وه نو ما ستا نيا نيکۀ ته
سوال اوکړو چې زما ګلالۍ بچۍ ما ته
راکړئ ـ د هغوي سره هم دوخت او حالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نـازکـیـو ادراک ؤ ـ هغوي زمـا خبـره اومـنـلـه خو مـونـږ ستـا نـه دا خـبـره پـټـه اوسـاتـلـه ـ سـتـا زړهٔ او ذهـن د مـسلسل اذیـتـونـو نـه تـیـریـدل ، مـونـږ نـهٔ غـوښـتـل چې تـهٔ دې پـه دغـه حـوالـه یـو ځـل بـیـا د انـدیـښـنـو د عذاب سره مخ شې ـ مـونـږ غوښتـل چې تـاتـه داسې سرپـرائـز خوشحالـي کـیـږدو چې ورسره تـهٔ د جېـل نـه واپـسي ، اروـمـرو د ژونـد طرف تـه واپـسي محسوس کـړې ـ سـتـا د زړهٔ زخـمـونـو تـه ټـکـور شي او سـتـا سـوچ او فـکـر تـه دوا او دارو شي ،،

فـریـد ژړل ـ امـبـر ئـې پـه اوګـه سر ایـښـے ؤ ـ

احـمـد علـي خـان وئـیـل ,, د خـوشـحـال تـعـلـیـم پـوره شـو ـ نـو مـا سـتـا نـیـا نـیـکـهٔ تـه یـو واري بـیـا سـول اوکـړو ـ امـبـر مې تـرې یـو واري بـیـا اوغوښتـه ـ د خـوشـحـال دپـاره ـ مـا خـو د امـبـر نـه د جـدا کـېـدو تـصـور هم نـهٔ شـو کـولـے ـ مـا تـه خـو خـدائـے زمـا ګـلالـۍ بـچـۍ بـېـرتـه راکـړې وه ـ د امـبـر او خـوشـحـال د وادهٔ پـحقـلـه مې سـتـا نـه تـپـوس نـهٔ ؤ کـړے د هـغې راتـه بـخـښـنـه کـوه ،، د احـمـد علـي خـان پـه مـخ د مـیـنـې او شـفـقـت نـه ډکـه مـسـکـا خـوره وه ـ

,, لالا جي ! ،، د فـریـد پـه سـتـرګـو کـښې اوس هم اوښـکې ځـلـیـدې ,, تـــاســو خـــو پـــه مـا ډیـر لـوئـے احـسـان کـړے دے ـ د ژونـد هـومـره

احـسـان ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـريـد مـاشوم تـه مخ ور واړولـو چې ډېـر په غور ئې فـريـد تـه كـتل خو چې سترګې ئې خپلـو كښې اولـګېدې نـو يـو قـدم را وړانـدې شو ـ

,, مـامـا ! زۀ طلحٰه ،،

د فـريـد پـه سمـاعت كښې مـوسيقـي شانـې خوره شوه ـ ژونـد څۀ ساز غونـدې چېړلے ؤ ـ فـريـد ور تېـيټ شو ـ لاسونـو كښې ئې را اوچت كړو اوجوخت ئې پـه زړۀ پـورې اونـيـولـو ـ ,, يـو ځل بـيـا اووايـه ،،

,, مـامـا ! زۀ طلحٰه ،، مـا شوم بـيـا اووې

,, هم م ـ ـ ـ طلحٰه ،، فـريـد د مـاشوم د پـوزې سره پـوزه اومبړلـه ـ

د احـمـد علـي خـان نـظر يـو دم پـه كـټ كښې پـرتـې طمـاچې بـانـدې پـريـوتـو ـ كـومـه چې فـريـد ګـوزار كـړې وه ـ د احـمـد علـي خـان رنـګ بـدل شو ـ

,, فـريـده ! دا څۀ ؟ ،، احـمـد علـي خـان د طمـاچې طرف تـه اشاره اوكـړه ـ

فـريـد ، طلحٰه پـه زړۀ پـورې نـور هم جوخت كـړو ـ

,, د سرور خـان طرف تـه تـلـے ووم لالاجي ،، د فـريـد پـه لـهجه كښې بې نـيـازي وه ـ

,, نـو ؟ ،، د احـمـد علـي خـان پـه لـهجه كښې بې قـراري وه ـ

,, واپس تـــــرې راغـــــلـــــم ،،

فـــريــــد خپل مخ د طلـــحٰه د مخ سره اوجنـګولـو ـ ,, پـرې مې ښودو چې ژونـدے وي ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد علي خان يوه اوږده ساه واخسته ـ بيا مسکے شو ـ
,, څۀ مو خوښه ده ـ روانيږو ګل کلي ته ؟ ،،
,, بسم الله ،، فريد ، طلحٰه هم هغه شان په زړۀ پورې نيولے ؤ ـ
د احمد علي خان جيپ بهر ولاړ ؤ ـ
د روانېدو په وخت د فريد سترګې بيا بيا دوفا د کور د ګېټ طرف ته اوچتيدې چې يوه غټه شان تالا ورته لګېدلې وه ـ
د امبر سترګې په خاموشۍ سره د فريد په نظر پسې غړيدې ـ

o

فريد د ريحان آباد نه ګل کلي ته د تلو په دوران کښې د خواؤ شا يو يو څيز ته ډېر په انهماک سره کتل ـ جوړ دا هر څۀ ئې نظر ښکلول ـ دا خو د هغۀ خپلې لارې وې ـ په مينه ئې ورته کتل خو د څۀ نيمګړتيا احساس ئې په زړۀ کښې بهر حال موجود ؤ ـ
جيپ د ګل کلي په حدود کښې داخل شوے ؤ ـ مخامخ د سباؤن سکول عمارت ښکاريدو ـ ښکلے ، روښان روښان ، فريد ، احمد علي خان ته اوکتل ـ
,, سباؤن ،، احمد علي خان د فريد په سترګو کښې اوکتل ـ
فريد په اثبات کښې سر اوخوځولو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

كـــــر

احمد علي خان جيپ د سباؤن سکول طرف ته تاؤ کړو ـ
د مينې د ريښتينو جذبو سره د فريد استقبال اوشو ـ سر عديل په تندي ښکل کړو ـ په سترګو کښې ئې اوښکې ځليدې ـ فريد حېران ؤ ـ د سباؤن سکول په سټاف کښې ئې خپل کلاس فيلو ملګري هم اوليدل ـ توفيق ترې لاسونه چاپېر کړل ـ فريد په اوګه ورو شان اووهلو ـ ,, توفيق ! ستا خو ډېر لوئے خوبونه وو يار چې په کلاس روم کښې به نۀ ځائيدل ،،
توفيق اوخندل ,, او ـ ـ ـ ـ خو زما خوبونه د خپل ذات دپاره وو ـ ځۀ ناپوهي غوندې وه ـ اوس خو مې بس يکي يو خوب دے ـ د ودود صېب د خوب تعبير ته رسيدل ـ او زۀ فخر محسوسوم چې زۀ هم د هغوي د ټيم حصه يم ،،
فريد ورته په مينه کتل ـ
د چائې د راتللو نه وړاندې فريد هسې د دفتر نه بهر را اووتلو او بيا هېڅ په ځان پوئې نۀ شو ـ سحر زده شان ، ځۀ خيال او فکر وړے وړاندې تلو ـ د سباؤن سکول د يو يو ځائے سره د هغۀ بې شمېره ، ښکلي ، جنتي شان يادونه تړلي وو ـ قدمونه ئې ورو ورو اخستل د يوې يوې کمرې وړاندې تيرېدو ـ ډيوې بلې وې ـ د رڼا سفر جاري ؤ ـ فريد هره لحظه ځۀ عجيبه شان کېف محسوسولو ـ د مودو مودو خبرې او يادونه ئې په زړګي د ګرمۍ د موسم د وړومبي باران

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

په شانې راوريدل ــ دغو لمحو په خپله غېږه کښې ناقابل بيان خوړلتونه نيولي وو ــ فريد لکه په تنويمي کېفيت کښې وړاندې روان ؤ ــ مخکښې پرائمري سيکشن ؤ ــ د فريد زړۀ يوه څړيکه اوکړه ــ هغۀ ,, د ميني سندره ،، د ودود صېب نه په وړومبي ځل دلته اوريدلې وه ــ

,, د رڼا خوب به تعبير
ته رسومه ،،
زۀ ډيوه يم تورتمونه
ختمومه

د فريد په سترګو کښې اوښکې راغلې ــ اوس هم څۀ تېرو هېرو يادونو په مخه اخستے روان ؤ ــ خو يو ځائے يو دم اودريدو ــ په کلاس روم کښې ماشومانو ته ,, دميني سندره ،، اورولے شوه ــ ماشومانو به هم په اوچت اواز سره تکرارولهٔ ــ

,, د مرام په لور مزل
کوم روان يم
د ژوند سختو مرحلو ته
امتحان يم
زۀ په مينه ګټم زړونه
، پالوان يم ،،
بريالے يم د هر چا د
زړۀ سلطان يم
خنداګانې اوچو شونډو
ته راوړمه
زۀ ډيوه يم تورتمونه
ختمومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـریـد غـونـي غـونـي او ګـونـګ سـونـګ ولاړ ؤ ـــ
دا آواز ـــ ـــ ـــ دا آواز د هغـۀ نـه کـلـه
غلطيـدے شو ـــ ـــ ـــ د وفـا اواز خـو هغـۀ
پـه زرګـونـو ، لـکـونـو اوازونـو کـښې
پـېژنـدے شو ـــ فـریـد د حېرانـتـیـا او
خوشحالـئ پـه یـو پُـرشور کېفـیت کـښې د کـلاس
روم طرف تـه قـــدم پـورتـه کـړو ـــ وفـا د
ور طرف تـه اوکـتـل نـو یـوه واضحه مـسکـا
ئـې پـه مـخ او سـتـرګـو کـښې اوغـوړیـده ـــ چـې
حیـرانـي پـکـښې بـالـکل نـۀ وه ـــ خـو فـریـد
حېران ؤ ـــ بـیـخي حېران ـــ وفـا د
مـاشومـانـو طرف تـه اوکـتـل ـــ ,, اوس تـاسـو
خـپـل د لـیـکـلـو کـار اوکـړئ ـــ ټـیـک ده
ګـلـونـو ! ،،
وفـا د کـلاس روم نـه بـهـر را اووتـه ـــ

د دوا ړو پـه سـتـرګـو کـښې اوښکـې څلـیـدې ـــ
,, لالا جي ټـول مـنـع کـړي وو ـــ ،، وفـا
وئـیـل ,, تـاتـه هغـوي سـتـا پـه واپـسی
سرپـرائـز درکـول غـوښـتـل ـــ سـتـا زړۀ او
ذهن خـاص طور د غېر مـعـمـولـي صـورتـحـال
سره مـخ وو ـــ پـه صحت مـنـدئ کـښې بـه ئـې
فـرق خـامـخـا راتـلـۀ ـــ دا هـر څـۀ د هغې
دپـاره شوي وو ـــ ،، وفـا د فـریـد پـه
سـتـرګـو کـښې اوکـتـل ,, او بـیـا تـا خـو
هسې هم زۀ مـنـع کـړې وم د درتـلـو نـه ،،
فـریـد مـسکـے شو ـــ ,, حـالات حقـیـقـتـاً
انـتـهـائـي غـیـر مـعـمـولـي وو ـــ خـو مـاتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدائـے مـشران هم د غيږ مـعـمـولـي
صلاحـيـتـونـو حـامـل راكـړي ـ د لالا جي مـيـنـې
واقـعـي چې زۀ كـافـي سـمـبـال سـاتـلـے يم ـ
هـغـوي واقـعـي چې زمـا دپـاره ژونـد ژونـد
زيـري ايـخي وو ،،
وفـــــا اووې ,, دبــــــابــــــاجـــان خـوكـشـران
هم غيږمـعـمـولـي صلاحـيـتـونـه
لـري ،،
,, عفـت آپـا او ارسلا كـاكـا څـنـګـه دي ؟
،، فـريـد تـپـوس اوكـړو ـ
,, ښۀ دي ـ ټـول ستـا پـه انـتـظـار دي ،،
,, وفـا ،، فـريـدبـې اخـتـيـاره تـپـوس
اوكـړو,, وادۀ دې كـړےدے؟،،
وفـا لـېـمـۀ ښـكـتـه كـړل ـ د فـريـد زړۀ بـې
واره اودرزيـدو ـ پـه يـو سـاعـت كـښې ئـې
پـه زړۀ بـلا انـدېـښـنـو خـولـې خـخـې كـړې ـ
وفـا سـتـرګـې راپـورتـه كـړې او د فـريـد لاس
ئـې پـه خـپـلـو لاسـونـو كـښې اونـيـوۀ ـ
انـدېـښـنـې والـوتـې خـو د فـريـد پـه زړۀ كـښې
د مـودو مـودو نـه پـرتـې يـوې مـعـصـومـې شـان
ګـيـلـې ژبـه اوكـړه ـ
,, جيـنـكۍ خـو د هـلـكـانـو لاسـونـه نـۀ نـيـسـي
كـنـه ،،
وفـا پـه قـلاره اووې ,, دا لاس
مـادپـرېـښـودو دپـاره نـۀ دے نـيـولـے،،
,, دا سـتـا هـمـدردي ده كـه زمـا سـره د
مـيـنـې اظـهـار ؟ ،،
,, اظـهـار ،، د وفـا پـه مـخ يـو ښـكـلـے رنـګ
اوغـوړيـدو ـ ,, چې سـتـا نـه كـلـه او نـۀ
شـو ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـریـدلـهٔ ډېـرحېرتـه پـه بـقـوبـقـوسـترګـووفـاتـه اوکـتـل ـ وفـامـسکی شـوه ـ

,, فـریـدکـه سل کـالـه پـس هم راتـلـےنـووفـابـه سل کـالـه انـتـظارکـولـو،،

فـریـدډېـرپـه مـیـنـه وفـا تـه کـتـل ـ وفـانـن هم دپـخـواپـه شان ښکلې وه ـ

وفـا وئـیـل ,, مـونـږ چې ریـحان آبـاد پـرېـښودو نـو داجي او مـور ډېـر پـریـشان وو ـ خبـره هم د پـریـشانـی وه خـو زهٔ ډاډه ووم ځـکـه چې زهٔ مـې د بـابـا جان کـور تـه راتـلـم ،،

,, خـپـل کـور تـه ،، د فـریـد پـه لـهـجه کښې شـرارت ؤ ـ

وفـا مـسکی شـوه ,, او ـ ـ ـ خـپـل کـور تـه ،،

O

وخت مـرهم مـرهم ، ټـکـور ټـکـور تـیـریـدو !

ریـحـان آبـاد کـښې د سبـاؤن سکـول او کـالـج تـعـمیـر پـه آخري مـرحـلـو کښې ؤ ـ د ریـحـان آبـاد خلقـو خپـلې زمکې ، خـپـل پـولـې پـټـې د سرور خـان د قـبـضې نـه خلاص کـړي وو ـ سرور خـان پـه خـپـل انـدرون کـښې ریـزه ریـزه ؤ ـ هـغـه د مـاتـیـدو د یـو لـوئـے عمل سره مـسلـسل مخ ؤ ـ دلـتـه اوس مـاښامـے ؤ نـو نـمـر پـرسـتـو خـپـل مـخـونـه بـل خـوا اړولـي وو ـ

پـه ریـحـان آبـاد کـښې سکـول او کـالـج جـوړیـدل نـو د خلقـو مـیـنـه ئـې د کـتـو وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــــر

شپه او ورځ ئې په ځان يو کړې وه ـ د ښار د کالج ذمه وارئ احمد علي خان په خپل سر اخستې وې خو دلته ئې هم فريد يواځې نۀ ؤ پرېښے ـ سر عديل او د سباؤن سکول نور سينئرز به هم ورسره وار په وار موجود وو ـ کورنے لښکر هم ورسره اوګه په اوګه ولاړ ؤ ـ عفت آپا به ئې بيا بيا نظر ماتول ـ د امبر نه هغه د شوخئ کولو عادت نۀ ؤ تلے ـ تنګولو راتنګولو به ئې ـ خو فريد به ئې په مينه کله مړيدو ـ وفا اوس د امبر په بهابهي وئيلو نۀ خفه کيده او خفه کيده به ولې ؟ بهابهي خو ئې وه ـ نيا نيکۀ خو ئې لکه سم چې په آخري عمر کښې زلمي شوي وو ـ

د خوشحال موجودګئ فريد ته کافي اسانئ پېدا کړې وې ـ

سباؤن سکول او کالج بس نن سبا کښې تيار ؤ ـ

نن هم سحر سحر فريد د هر څۀ جاج اخستو چې چا ورته د شانه په اوګه لاس کېښو ـ فريد مخ ور واړوۀ ـ دومره موده پس هم شفيقے د فريد نه غلط نۀ شو ـ

,, شفيقه تۀ ،،

,, شفيقے راته اووايه فريده ،، شفيقي بې اختياره اوژړل او فريد ته ور تر غاړه وتو ـ ,, ما خو ځان تباه کړو ـ ددې نه پس به څۀ شفيق کيږم ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, د الله نه نا اميده ئې ؟ ،، فريد د
شفيقي په اوګه لاس کيښو ــ ,, هېڅ تلي
راغلي نهٔ دي ــ ژوند خو په سر پروت دے
ــ ،،
شفيقي په خپل خوا کښې ولاړ ماشوم په
سر لاس کېښو ,, يو سوال ته راغلے يم
فريده ،،
,, دا کوم انداز دے د خبرې ــ ــ ــ ،،
فريد د ناراضګۍ سره اووې ,, حکم کوه
،،
,, دا زما بچے دے ،، شفيقي د ماشوم
طرف ته اوکتل ــ ,, زهٔ نهٔ
غواړم چې دے زما په پل لاړ شي ــ دهٔ ته
لار اوښايه ــ په ما به دې
لوئے احسان وي ،،
,, لار خو الله ښائي شفيقه ــ بس دومره ده
چې رڼا لارې وي نو په تيارو لارو څوک
هېڅکله قدم نهٔ ږدي او کهٔ خدائے
کوي نو د
تيارو د ختمېدو وخت راغلے دے ،، ــ
بيا فريد د پنجو په سر کښېناستو او د
ماشوم طرف ته ئې خپل لاس ور اوږد کړو
,, راشه لاس ملاؤ کړه بچے ،،
ماشوم ورو شان وړاندې راغے او فريد
ته ئې لاس ورکړو ــ
فريد د سکول او کالج د عمارت طرف ته
ګوته اوږده کړه ــ ,,دا سکول مونږ ستا
دپاره جوړ کړے دے بچے ــ سبق به وائې؟
،،
ماشوم په اثبات کښې سر اوخوځولو ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, شـابــاش ـــ ـــ ـــ نــوم دې څهٔ دے بـچے ؟ ،،
,, اکـبـر ،،
,, څـومـره ښـکـلے نـوم دے ـــ دلـتـه مـونـږ ستـا دپـاره يـو د لـوبـو مـېدان هم جـوړ کـړے دے ـــ سبق هم او لـوبـې هم ـــ ټـيک ده کـنـه ؟ ،،
مـاشوم بـيـا سر اوخـوځـولـو ـــ
,, سکـول دې خـوښ شـو ؟ ،،
,, او ،، مـاشـوم ورو غـونـدې اووې
,, خـو دا خـو دې د بـهـر نـه لـيـدلـے دے ـــ راځـه چـې دنـنـه ئـې هم اوګـورو ،،
فـريـد پـاسېدو ,, راځـه شفـيـقـه چـې زلـمـي تـه ټـول سکـول اوښـايـو ،،
د شفـيـقـي سـتـرګـې د اوښـکـو نـه ډکـې وې ـــ

O

فـريـد حېران ؤ ـــ
د سکـول او کـالـج د بـاقـاعده پـرانـسـتـې دپـاره ټـولـو د يـو تـاريـخ تـجـويـز ورکـړے ؤ ـــ ۲۹ فـروري ـــ او دا د ودود صېب دپـاره د هغـوي د زيـږيـدنـې پـه نـېټـه ډالـۍ وه ـــ فـريـد سحر وخـتـي د ودود صېب فـريـم کـښـې لـګـيـدلـي تـصويـر تـه ولاړ ؤ ـــ اوښـکـو ئـې د سـتـرګـو لار نـيـولـې وه ,, آئـي لـو يُـو بـابـا جانـه ! تـاسو زړونـه ګـټـلـي دي بـابـاجـانـه ـــ تـاسو چـرتـه تـلـي يـئ ـــ راشئ اوګـورئ کـنـه ـــ ـــ ـــ ـــ ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــر

فـریـد تـه احساس هم نـهٔ ؤ شوے چې وفـا څهٔ
وخت د هغهٔ خوا تـه راغلې ده ــ وفـا د
فـریـد پـه اوګـه سر کېښو ــ د هغې سترګې
هم د ودود صېب تصویـر تـه غړیـدې ــ ,,
تـاسو ژونـدي یـئ بـابـا جانـه ! تـاسو بـه
ژونـدي یـئ بـابـا جانـه ،،
,, هیپي بـرتـهــ ډے ټـو یُـو ــ ــ ــ ډئیـر
بـابـا جانـه ،،
ودود صېب پـه خپل انـځور کښې ژونـدے
ژونـدے مسکے ؤ ــ

,, د رڼـا خوب بـه تـعبیـر تـه
رسومـه ،،
زهٔ ډیـوه یم تـورتـمونـه
ختمومـه
ټـول مـاشومـان ,, د میـنې سنـدرې ،، تـه
غوږ غوږ نـاست وو ــ
فـریـد وار پـه وار د ټـولـو مـاشومـانـو
نـومونـه پـوښتل ، تـپوسونـه ئې تـرې کـول ــ
د یـوې ښکلې شان مـاشومې نـه ئې تـپوس
اوکړو ,, ستـا څهٔ نـوم دے بـچے ؟ ،،
,, جي سپـوږمـۍ ،،
,, جي سپـوږمـۍ کـه صرف سپـوږمـۍ ،،
,, نـه جي سپـوږمـۍ ،، د مـاشومې پـه مخ
خنـدا خوره شوه ــ
,, ښـه ــ ــ ــ اوس د جي سپـوږمـۍ نـه ، نـه
جي سپـوږمـۍ شوه ،، ــ
ټـول مـاشومـان پـه خنـدا شول ــ سپـوږمـۍ هم
خنـدل ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ښه سپـوږمـۍ بـچے بـه مـاتـه د خپل بـابـا نـوم اوښـائـي ؟ ،،
,, جي ـــ ـــ ـــ دلاور خـان ،، سپـوږمـۍ ښکـلـې ښکـلـې ولاړه وه ـــ
فـريـــــد حــيـران حــيـران مـــاشـــومـې تـــه اوکـتـل ـــ ,, او د نـيـکـۀ بـابـا نـوم؟ ،،
,, سرور خـان ،،
فـريـد بـې اخـتـيـاره څـۀ شېبـه هغـې ښـکـلـې ښـکـلـې مـاشـومـې تـه څـۀ
پـه فـکـر وړي انـداز کـتـل بـيـا ورتـه ډېـر پـه مـيـنـه مـسکـے شـو ـــ ,, ښه نـو سپـوږمـۍ بـچۍ بـه مـې څـۀ جـوړيـږي چې سبق اووائـي ؟ ،،
,, جي زۀ بـه ډاکـټـره جـوړيـږم ،، مـاشـومـې زړۀ ور زړۀ اووې ـــ
,, بـالـکـل ،، فـريـد د مـيـنـې نـه ډکـه لـهـجه کـښې اووې ,, سپـوږمـۍ بـچے خـو بـه مـې خـامخـا ډاکـټـره جـوړيـږي ـــ کـښېنـه بـچے ،،

,, د رڼـا خـوب بـه تـعـبـيـر
تـه رسـومـه ،،
زۀ ډيـوه يـم تـورتـمـونـه
ختـمـومـه

مـاشـومـانـو ,, د مـيـنـې سنـدره ،، اوريـدو فـرمـائـش بـيـا بـيـا کـولـو ـــ

o

دا د سپـرلـي يـو ښکـلـے او پـرسکـون سحر ؤ ـــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې تيارۀ لا پوره نۀ وه ختمه خو خپل څادر ئې راټولولو ـ فريد د کور نه بهر قدرې په لوړه ولاړ لرې ، ډېر لرې په فضاء کښې کتل ـ نرۍ نرۍ هوا لګېده چې نکهتونه ترې څڅېدل ، څڅېدل ـ لمحه لمحه تيارۀ پټېده ، لحظه لحظه رڼا خوريده ـ د اسمان لمنې ورو ورو سرې کيدې ـ د نمر بڅرو د کائنات د رنګونو تشريح کوله ـ مخامخ د سباؤن سکول او کالج عمارت د آن او شان سره ولاړ ؤ ـ او عېن شاته ئې نمر سر پورته کولو ـ
دا د سپرلي يو ښکلے او پُرسکون سحر ؤ ـ

O

ختم شد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــــــر



زهٔ په دې خبره کښې هېڅ باک نهٔ ګڼم که اووايم چې د *سلطان باش خېل* ناول ,,کر،، د پښتو د ډېرو معياري ناولونو مينځ کښې د کېښودلو جوګه دے ۔

زهٔ خوشحال يم چې ما د پښتو يو ښهٔ ناول اولوستو او زهٔ په دې هم وياړم چې زما د افريدو قبيله کښې، موده پس سهي ولې يو معياري شاعرۍ سره ، معياري نثر ليکونکے دې مېدان ته را اووتو ۔

*( طاهر افريدي )*

د نن دور په دوه درې ناول نګارانو کښې د سلطان باش خېل د ناول نګار په حېث اضافه د پښتو د تخليقي ادب دپاره يو زېرے دے ۔

*سلطان باش خېل افريدے* د ستائيلو وړ دے چې د ناول ليکلو او د ناول په ذريعه د پښتانهٔ د ټولنې د اصلاح اعلٰی مقصد ئې تر سره کړے دے ۔ دا يو کامياب اغاز دے ۔ زهٔ مبارکي ورکوم او هم ئې مننه کوم چې ماته ئې په دې ښکلي ناول د څو کرښو ليکلو دپاره اووې ۔

*( ډاکټر راج ولي شاه خټک )*

د سلطان ,, کر ،، د قلم د تقدس او حرمت پلوشه دے ۔ د رڼا مشال په لاس د خپل ريښتوني درد هم رکاب سلطان د نُور پېرزوئنې ډالۍ کوي ۔

,, کر ،، د *سلطان باش خېل افريدي* له اړخه پښتو ادب ، پښتون اولس او همه انسانيت ته يوه درنه تحفه ده ۔ چې په يو وخت د هغه د پاخهٔ فن او فکر متناسب کړهٔ وړهٔ لري او چرته مې لوستي وو چې ، حسن د تناسب نوم دے ۔

*( پروفېسر علي افريدي )*

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library